التبيان الشافي

پشتو شرح

متن الكافي

مولف: جامع المعقول والمنقول
حضرت العلامه فضل حق باچا صاحب

مكتبة الاشاعة
محله جنگی قصه خوانی پشاور


خطان لایقاسان خط العروض وخط القران


التبیان الشافی

پښتو شرح

متن الکافی





دکتاب پیژندنه.... 

دکتاب نوم: التبیان الشافی شرح متن الکافی

مؤلف نوم: سید فضل الحق باچاصاحب

کمپوزر: خلیل الرحمن (صافی کمپوزنگ سنتر) ندیم
ټریډسنټر محله جنگی پشاور

دچاپ شمیر: (۱۱۰۰)

دچاپ وار: لومړی

ناشر: مکتبة الاشاعة محله جنگی پشاور

زیراهتمام مولوی نقیب الله (حنیف)

دمؤلف سریزه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الحمدلله والصلوة علی رسول الله

وبعد:

دډیروخت نه می داشوق ؤ چه دفن عروض اوقوافی په مشهورکتاب الکافی چه طالبانوکی په متن الکافی باندی مشهوردی په پښتوژبه کی یوه آسانه اومفصله شرح ولیکم اوداشوق اوتمنامی دیوخووجو نه وه:

۱ - داچه علم الأدب اگرچه تفصیلا خوپه (۱۲) فنونومشتمل دی خواجمالا دوه برخوته منقسم دی

(۱) فن المنثور (۲) فن المنظوم : اودعروض اوقوافی تعلق دفن منظوم سره دی اوهرکله چه فن منثوردعلم أدب باندی ډیرکارعلماؤ د وخت کړیدی نوماانتخاب دفن منظوم وکړه ځکه په مروج فن أدب کی بعض کتابونه لکه [دیوان حماسه] [دیوان متنبی] [السبع المعلقات] وغیره په غیردعروض اوقوافی ځخه لوستل مشکل دی

(۲) وجه داوه چه زمونږپه درس نظامی په کتابونوکی اوهم دعامی مطالعی په کتابونود مسائلوکی مصطلحات ددی فن ذکرکیږی:

مثلا: شرح جامی دویجوزصرفه للضروة الخ لاندی پوره وضاحت اوتفصیل کوی اوضرورة دپاره قسمان ذکرکوی ضرورة وزن الشعر ضرورة رعایةالقافیه په اول کی دانکسار اوانزحاف مسئله ذکرکوی چه صبت علی مصائب آه اواعدذکرنعمان آه) ورته په مثالونوکی راوړی دی اوپه رعایة القا[illegible] علی خیر الانام - **شعرذکرکوی** خومونږه گوروچه ددی فن [illegible] [illegible]رجی نه زیاتی مروجی شرحی دجامی په دی مقام کی توجهات [illegible] به الشارح کوی،

همداسی دوجراحا[illegible] السنان لها التیام لاندی ناکت ددی **شعر** دبحر تعین کوی اولیکی چه من الوافرهمداسی عدلْ و وصفْ وتانیثْ

لاندی کافیه کی لیکی من البسیط الخ نووزن اوبحر ئی ذکرکوی
په اخردجامی کی په بحث دتنوین ترنم کی مطلق اوغالی ذکرکوی اوبیان
دقافیه کیږی چه معرفت دقافیه ورته دمخکی نه ضروری دی دبلاغت په
کتابونوکی تلخیص - مختصرالمعانی - مطول- کی خوشارحین
اومحشیین دهریوبیت سره دهغی وزن اوتعین دبحرکوی په فن بدیع کی
په مسئله دذوالقافیتین کی خوتفتازانی پوره بحث دعلم العروض
اوقافیه کوی په شعردحریری کی چه یاخاطب الدنیا الدنیه الخ نوپه دی
ټولو مواقعوکی بیاموږته تکلیف وی دوجی دعدم تعلق نه ددی فن سره
(۳) دتفسیر - حدیث - اوسیرت په کتابونوکی چه کومه قصیده ذکرشی
دجاهلیت دزمانی دشاعرانویاد صحابه کراموپاددوی نه دروسته شاعرانو
نودجدید دمطابعواومکاتبوپه نسخوکی وزن اوقافیه ورسره ذکرکیږی
چه معرفت ئی ضروری دی
(۴) وجه: دطالبانوروڼودتقاضی اوډیرطلب ددوی وو چه په دی فن کی څه
لیکل په پښتوژبه کی وشی بیادلیکلودپاره مودمتن الکافی انتخاب
وکړه په نوم دا(التبیان الشافی) شرح متن الکافی ځکه متن الکافی مروج
دی زموږ په منهج کی اومختصراومرتب ده په حسن ترتیب سره
البته مشکلات دمحیط الدائره به هم په نظرکی ساتواوحل به ئی کو

یاداشت

(۱) مختصر الشافی للدمنهوری (۲) حاشیه کبری للدمنهوری
(۳) العیون الناظره، الریاض الناضرة- للبازی الروحانی رحمه الله
(۵) سیفی (۶) بحرالفصاحت (۷) غیاث اللغات وغیرذلك
آخرکی دعلماؤطلباؤنه ددعاطلب گاریم اوپه غلطی اوخطاء کی ددوی نه
دتسامع آمید لرم ځکه زه دخپلی کمزوری اوتقصیر معترف یم

والسلام

سید فضل الحق باچاصاحب

حالامدرس جامعه انوا رمحمدیه هري پور کیمپ ۱۲

﴿بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ﴾

مقدمه

زده کړه دا خبره چه مُبتدي دافن عروض دپاره څه مباحث اول کښي زده کول ضروري دي، چه هغه مونږ دلته په شپږو مقاماتو کي راجمع کړيدي.

اول مقام: پدي مقام کي به ذکر داُوو خبرو کولي شي:

(۱) تعریف دعلم عروض. (۲) وجه دتسمیي. (۳) موضوع ددي علم.
(۴) فائده ددي علم. (۵) حاجت دي علم ته. (۶) حکم دتعلم او زده کړي ددي علم. (۷) واضع ددي علم.

(۱) تعریف دعلم عروض :

{هُوَ عِلْمٌ بِأُصُوْلٍ يُعْرَفُ بِهَا صَحِيْحُ أَوْزَانِ الشِّعْرِ وَفَاسِدَهَا وَمَا يَعْتَرِيْهَا مِنَ الزِّحَافَاتِ وَالْعِلَلِ}

ترجمه: دا یوعلم دي په قواعد چه پیژندي شي په دي قواعدو سره روغ اوزان دشعرونو اوفاسد اوزان، او هغه امور چه راپیښیزي اوعارضیږي اوزانو دشعر ته.

دوهم تعریف :

{هُوَ عِلْمٌ يُبْحَثُ فِيْهِ عَنْ أَوْزَانِ الشِّعْرِ وَمَا يُتَصَرَّفُ بِهِ فِيْهَا}

ترجمه: دایو علم دي چه بحث کیږي په دي کي داوزانو دشعر نه اودهغه څه نه چه هغي سره تغییر اوتصرف راځي په دي اوزانو کښي.(چه زحافات اوعلل دي) ـ

(۲) وجه دتسميي ددي علم په عروضُ سره:

علماءُ دفن ددي لپاره وجوه ذکر کړي دي، يو څو دادي:

۱۔ عروض يو نوم دي دمکي مکرمي لپاره، او خليل بن احمد ايجاد د دي علم په مکه مکرمه کړي دي. نو تبرکا يې مُسمى کړ پدي نوم سره.

۲۔ عروض په معنى دکشف او ظهور سره هم راځي لکه: عَرَضَ الشيءُ اِذَا ظَهَرَ. او پدي علم سره هم ظهور اوکشف دوزن صحيح اوغير صحيح راځي.

۳۔ عروض په معنى دطرف اوناحيي سره راځي اودا علم هم په نسبت سره نورو علومو ته يو طرف لري

۴۔ علم عروض يو گران علم دي اوعروض لغت کي سختي اوگراني لاري ته وايي.

۵۔ عروض سحاب اووريځو ته هم وايي اودا علم هم په نفع کي دووريځو پشان دي.

۶۔ جزء اخير دمصراع اول دبيت ته هم عروض ويلي شي او دا جزء کثيرالوقوع دي، او په منځ د عروضيانوکي ډير ذکر کيږي. اودا علم مشتمل دي په معرفت ددي جزء باندي.

۷۔ عروض اِسْمٌ لِمَا يُعْرَضُ عَلَيْهِ الشيءُ: يعني نوم دي دهغه څه چه بل شيء ورته پيش کيږي، اودا علم هم معروض عليه داشعارو دي. کوم چه ورسره موافق وي نو صحيح دي، اوچه مخالف وي نو فاسد دي.

(۲) موضوع ددي علم:

{اَلشِّعْرُ الْعَرَبِيُّ مِنْ حَيْثُ أَنَّـهُ مَوْزُوْنٌ بِأَوْزَانٍ مَخْصُوصَةٍ}

ترجمه: عربي اشعار خو ددي حيثيت نه چه په خاصو اوزانو موزون دي

(۳) فائده ددي علم:

{تَمِيزُ الشِّعْرِ عَنْ غَيْرِهِ، فَيُعْرَفَ بِهِ أَنَّ الْقُرْآنَ لَيْسَ بِشِعْرٍ}

ترجمه: پدي علم سره تمييز دشعر دغيرشعر نه راځي، نوبيا دا سبب دمعرفت ددي خبري شي چه قرآن عظيم شعر ندي.

(۴) حاجت دي علم ته:

هركله چه شعر عبارت دي له دموزون كلام نه اودهر موزون لپاره لابُدي وي دميزان نه اوميزان دشعر په علم عروض كي پيژندي شي، نوځوک چي په باب دشعر كي مداخلت كوي برابره خبره ده كه ويل دشعر وي يا پيژندل دشعر نو پده لازم ده چه علم العروض زده كړي. (كَذَا فِيْ عُرُوْضِ سَيْفِيْ)

(۵) حكم د تَعلُم اوزدكولو ددي علم:

علامة د منهودي رحمه الله وايي: چه مخكي له زدكړي دعلم العروض نه ددي خبري ادراک چه قرآن شعر ندي دا بناء دي په تقليد في العقيده باندي چه اختلاف پكښي دي، نو يوځوک چه په سليقه باندي تمييز دشعر دنثرنه نشي كولاي اوتقليد في العقيده هم منع شي نو تعلم ددي علم بيا فرض عين دي. (المختصر الشافي بتغيير)

(۶) واضع دعلم العروض:

خليل بن احمد بن عمرو بن تميم الفراهيدي استاذ دسيبويه، په سنه سل (۱۰۰) هجري كي پيدا شوي دي.اوپه (۱۷۵هـ) كښي په بصره كښي وفات شوي دي. دپه حج كښي دبيت الله سره دُعا كړي وه چه الله! ماته دداسي يو علم الهام وكړي چه بل چا ورته سبقت نوي كړي، دُعا قبوله شوه.نو چه دحج نه راستون شو الله ورته دعلم العروض دوازه پرانسته.

(۷) منشا د ايجاد اوتدوين ددي علم:

ددي علم موجد خليل بن احمد ددوبيانو په کوځه تيريدلو، دکالو (جامو) ددبولو آواز ورته متجاذب اومتناسب ښکاره شو، ځکه چه دي ددير قوي ذوق خاوند وُو، نوويي ويل: وَاللهِ يَظْهَرُ مِنْ هٰذَا شَيْءٌ، نوهمدا يي منشا داستخراج دعلم العروض وګرځوله. دوهم مقام: پدي مقام کي له شعر څخه بحث کولاي شي

او دغه مقام دري مبحثه لري: اول: مفهوم اوماهيت دشعر، دوهم: اقسام دشعر، دريم: معرفت دبعضي اصطلاحاتو په شعر کي.

(۱): اول مبحث: دشعر لغوي معنیٰ:

شعر په لغت کي دانستن او دريافتن ته ويلي شي

دشعر اصطلاحي معنیٰ:

{هُوَ كَلَامٌ يُقْصَدُ بِهِ الْوَزْنُ وَالتَّقْفِيَةُ}

توضيح: دشعر په ماهيت کي د دريو خبرو لحاظ پکار دي.

۱ـ کلام به وي: نو بي معنیٰ اوبي فائدي موزون کلمات شعر ندي.

۲ـ وزن به يي مقصود وي: نو دکوم کلام وزن چه اتفاقي برابر شي شعر ندي، لکه بعضي آياتونه دقرآنکريم، اوياهم بعضي احاديث.

۳ـ قافيه به ولري: نو کلام موزون غيرمُقَفّیٰ هم شعر ندي

فائده: دشاعر څه معنیٰ ده:

۱ـ شاعر صيغه داسم فاعل د (شَعَرَ، يَشْعُرُ، شِعْرًا) په معنیٰ د (قَالَ الشِّعْرَ) نو دشاعر معنی شوه قائل الشعر

۲ـ داخفش نه نقل دي (معلم الثاني دفن) هغه وايي شاعر فاعل دي پشان دتامر اولابن باندي يعني صاحب الشعر.

۳ـ شاعر په معنیٰ د دانندِه او دريابنده دي. خو که مشتق شي له شعر نه په معنیٰ لغوي سره چه دانستن اودريافتن دي (عروض سيفي بزياده).

لطيفه: اول عربي شعر يَعْرُب بن قَحْطَان ويلي دي، او اول فارسي شعر بَهْرَامَ كُوْر ويلي دي.

مبحث ثاني: دشعر اقسام:

-الف- قَصِيْدَة: قصيدة په لغت كي فَعِيْلَةٌ دي په معنىٰ د مَفْعُوْلَة سره أيْ مَقْصُوْدَةٌ؛ لانَّ الشَاعِرَ يَقْصُدُ تاْ لِيفَهاَ وَجَمْعَهَا وتَهْذِيْبَهَا، ياپه معنىٰ دفَاعِلَة سره دي؛ لانـَّهاَ قَاصِدَةٌ تَبْيِينَ المَعْنى الّذيْ سِيقَتْ لَهَا.

فائدة: قَصِيْدٌ بلاَ تَاء هم استعماليږي په معنى دفاعل يا مفعول سره لکه قَصِيْدَةٌ مع التاء. نوتذكير په اعتبار دشعر اوتانيث په اعتبار دابياتو سره دي، چا ويلي دي جمع دقَصِيْدة ده لكه سفين اوسَفِيْنَة. (حاشية كُبْرَىٰ ددمنهودي). چا ويلي دي: چه تاء يكي دنقل ده له وصفيت نه اسميت ته.

باء:- قَصِيْدَة په اصطلاح كي:

{مَجْمُوْعُ أبْيَاتٍ مِنْ بَحْرٍ وَاحِدٍ مُسْتَوِيَةٍ فِيْ عَدَدِ الاَجْزَاءِ وَفِيْ جَوَازِمَا يَجُوْزُ وَلُزُوْمِ مَايَلْزِمُ وَامْتِنَاعِ مَايَمْتَنِعُ}. (حاشية كُبرى)

توضيح:- په سردقصيدي كي دخځو صفت وي چه ورته تشبيب وائي، ټوله قصيدة په يو حرف رَوِيْ باندي بناء وي؛ دهمدي وجي نه نسبت يي هم رَوِيْ ته كيږي، لكه ويلي شي: قَصِيْدَةٌ نُوْنِيَّةٌ، يا لاَمِيَّةٌ. د وأوو (۷) يالسو (۱۰) ابياتو نه تر يوسلو اويا (۱۷۰) پوري به وي. اود أوو (۷) ابياتو نه كم ته قِطْعَة وائي. ۲- مثنوي:

الف:- مثنوي منسُوب دي مثنى ته په معنى داثنين اثنين سره، اوداخاص نوعه داشعارو په مثنوي مُسمىٰ ده؛ ځكه چه هريو بيت ئي عليحدة معتبروي اوذو القافيتين وي.

باء:- دمثنوي دماهيت تفصيل: هريو بيت عليحده اعتبار لري قافيه به دبيت په دوارو مصراعينو كي ضروري وي، نوهر بيت ئي مشتمل په قافيتينو وي.

فائده: مثنوي اوو (۷) اوزانه لري: يو په بحرمتقارب كي، دوه په بحرهزج كي، يو په بحر خفيف كي، دوه په بحر رمل كي، اويو په بحر سريع كښي. مثنوي دفارسيانو ايجاد دي.

۳- رباعي:

دوبيتي، ترانه چارمصراع، جفتي، ورته هم ويل كيږي داهم دفارسيانو اختراع ده، په بحر هزج پوري خاص ده څلورويشت(۲۴) اوزانه لري، په رباعي كي داضروري دي چه مصراع اول ثاني اورابع به متحد القوافي وي په دريم كي اختيار لري.

۴- غزل:

الف- غزل په لغت كي: اللَّهْوُ مَعَ النِّسَاءِ وَالْمُحَادَثَةُ مَعَهُنَّ. يعني دښځو سره خبري كول.

باء- غزل په اصطلاح كي يو نوعه داشعارو ده. چه دعاشق اومعشوق، دبيلتون اوپيوستون، دقد اودقامت، دخد اوخال، اودشرابو دجامونو ذكر پكي وي. ماهرين دفن وائي: ماسوىٰ دعشقياتو نه پكي نور مضامين غيرحسن دي.

جيم- دغزل مصطلحات:

۱_ دغزل اول بيت به مصرّع وي يعني عروض او ضرب به ئي هم وزن اوهم روي وي.

۲_ دغزل اول بيت ته مَطْلَعْ اودوهم ته حُسْنُ الْمَطْلَع اوزيب المطلع اوآخري ته مَقْطَع وائي.

۳_ ذكر دتَخَلُّص د شاعر په مقطع كي عادت وي.

۴_ دغزل په ابياتو كي دمضمون اتحاد ضروري نوي.

۵ـ دغزل قافيي ته له رديف سره اَرْضُ الغزل يا زمين غزل وائي.
۶ـ دفن ماهرين په غزل كي دابياتو قلت خوښوي.
۷ـ بهتره داده چه طاق (وتر) وي، دپنځو (۵) نه عند المحققين اوچا ويلي ددرېنو نه به كم نوي اوله يولس (۱۱) نه به زيات نه وي، چاويلي د پنځويشتو (۲۵) نه به زيات نوي، خوپه فارسي كي تر څلوېښتو (۴۰) پوري استعماليږي. دريم مبحث:

دشعر دبعضو مصطلحاتو بيان:

۱ - رَدِيف دا عجمي شعر ايجاد دي، هغه لفظ چه دهري قافيي په آخر كي مكرر وي دي ته رديف وائي، رديف په كلام كي حُسن، حلاوة، اوررونق ته زياتوى توضيح په ماهيت درديف كي اومثال.
درديف نه به مخكي قافيه مكمله وي په خپلو شرايطو، حرف روي به ددي نه مخكي متحد وي په قوافيو كي، رديف لازم دي دهر بيت په آخر كي، يعني قافيه چه دي كله رديف والا وگرځوله نو بيار ديف راوړل په آخر دهر بيت كي لازم شو، رديف كلمة اوكلمتين اواكثر راتلي شي، رديف كله مستقل وي دقافيي نه، اوكله غيرمستقل وي بلكه بعض لفظ دقافيي نه حسابيږي او بعض ورديف وي.
دطالبانو وروڼو دپوهي لپاره په پښتو ژبه كي د رديف مثال ليكم:
عبدالرحمن بابا وائي:
"ولي نـــه گـوري وماتـه سم پـــه څـــه" زياتـوي دغمزدو غـم پـه څه"
"ستا په غم كي چه ما ويني عالم ژاړي" ژړوي راسره نور عالم په څه"
پدغه بيتونو كي ميم دسم، غم، عالم روي دي، اوپه څه رديف دي اولكه پدغه شعر كي:
"كه څوک لاس له سوده وكاږي زيان نشته" په ملنگ باندي قلنگ اوتاوان نشته"
دلته نون دزيان اوتاوان روي دي، اونشته، نشته په كي رديف دي.
۱ - تَخَلّص: دا هم دشُعَراءُ العجم طريقه اوعادت دي، چه په آخر داشعارو كي دځان لپاره يومُنتخب شوي نوم استعمالوي، تخلص بايد سهل الاداء اوخوږ لفظ وي، چه په اوزانو دبحرونو كي بي تلكفه استعمال شي.

دتخلص مثال: جامي دعبدالرحمن جامي، سعدي دشيخ مصلح الدين شيرازي، همداسي حافظ، غالب، خاطر، وغيره.

دریم مقام: پدي مقام کي له بیت څخه بحث کولای شي.

پدي مقام کي هم دري مباحث دي: (١) مفهوم اوحقیقت دبیت (٢) فرق دشعر اوبیت (٣) دبعضو اصطلاحاتو بیان په بیت کي.

مبحث اول: معنی دبیت:

بیت په لغت کي په معنیٰ دکوتي سره راځي لکه: بَيْتُ شَعَرٍ أَوْمَدَرٍ.

بیت په اصطلاح کي: {مَا اشْتَمَلَ مِنَ النَّظْمِ عَلَى مِصْرَاعَيْنِ صَدْرٍ وَعَجْزٍ}

فائدة: اول اطلاق دبیت په اشعاروکي خلیل بن احمد کړي دي دتشبیه دبیتُ الشَّعْرِ له بیتُ الشِّعْرسره کریده په وجود دمصراعینو کي اوپه وجود داوتادو اسبابو اوفواصلو کي، کمَا سَیاتي. ابو العلاء المعَری وایي: "الحُسْنُ يَظْهَرُ فِي الْبَيْتَيْنِ رَوْنَقُهُ * بيتٌ مِنَ الشَعرِ أو بيتٌ من الشِّعرِ" یا عرب وایي: رُبَّ بَيْتُ شِعْرٍ خَيْرٌ مِنْ بَيْتِ تِبْرٍ.

مبحث ثاني: فرق په مابین دشعر اوبیت کي:

مونږ دلته یوڅو وجوه دفرق ذکر کوو:

(١) شعریو مفهوم کلي لري اوبیت معنیٰ جزئي، یعنی دشعر اطلاق په یو بیت اوډیرو ابیاتو، بلکه په قصائدو باندي هم کیږي. په خلاف دبیت.

(٢) جمع دقافیه یا دمصراع مضاف کیږي شعرته، په خلاف دبیت لکه ویلاي شي: قَوَافِيُ شعر، اونشي ویلاي چه: قَوَافِيُ بَيْت.

(٣) اصل په بیت کي دادي چه په حسبِ المقام تثنیه کیږي اوجمع کیږي، اواصل په شعر کي افراد دي، اگر که تثنیه اوجمع یي هم راځي.

(۴) شعر کله په معنیٰ دانشاد (ویل دشعر) سره راځي، کله په معنیٰ دیوفرد دابیاتو اوکله په معنیٰ دملکي دقوت شعري سره هم استعمالیږي.(من العیون الناظرة)

مبحث ثالث: بیان دبعضي اصطلاحاتو په بیت کي:

زده کړه چه هربیت دوه مصراعه لري، مصراع اول ته صدر ویلي شي، اوثاني ته عجز. جزء اول دمصراع اول ته هم صدر ویلي شي، اوجزء آخر دمصراع اول ته عَرُوْض وایي. جزء اول دمصراع ثاني ته ابتداء. اوجزء آخرته یي ضَرْب ویلي شي. اوپه منځ کي اجزاو ته حشوه ویلي شي.

فائدة: دعروض اوضَرْب نه ماسوا په نورو ټولو اجزاءُ هم اطلاق دحشوي کیږي.

بیت تام: هغه دي چه اجزاء دوزن یي پوره وي.

مَجْزُوْء: هغه دي چه یو یو جزء د دواړو مصراعینو نه حذف وي.

مَشْطُوْر: هغه دي چه نیم اجزائي حذف شي.

مَنْهُوک: هغه دي چه ثلثان یي حذف شي.(**وَالتَّفْصِیْلُ یَأْتِیْ فِیْ خَاتِمَةِ الْکِتَابِ**)

څلورم مقام: (وزن)

پدي مقام کي دوزن متعلق دري مباحث دي: (۱) معنیٰ دوزن: (۲) اقسام دوزن. (۳) فوائد نافعه په وزن کي.

مبحث اول: وزن په لغت کي: مصدر دي له (وَزَنَ، یَزِنُ، وَزْنًا، وزِنَةً.....الشيء) یعني دیو شي ثقل اوخفت معلومول. اوپه اصطلاح کي په

معنیٰ دمایوزن به یا دمیزان سره استعمالیږي. مثلاً: صرفیان وزن استعمالوي لپاره دمعرفت داصلي اوزائد، مقلوب غیرمقلوب، محذوف اوغیرذلک، همدارنګه دعروضیانو ټول داروم‌دار په وزن دي ځکه چه موضوع دفن شعر موزون دي.

مبحث ثاني: اقسمام دوزن:

وزن په دري قسمه دي: (۱) وزن صرفي. (۲) وزن صوري. (۳) وزن عروضي.

۱- وزن صرفي: موافقت دوزن اوموزون دي په عدد دحروفو کي په اصلي اوزوائدو کي، اوحرکاتو اوسکناتو کي.

۲- وزن صوري:موافقت دوزن اوموزون دي په عدد دحروفو اوحرکاتو اوسکناتوکي نه په اصلي اوزوائدو کي، مثال ددوارو اکَابِرُ، مَسَاجِدُ، قَوَاعِدُ په وزن‌صرفي سره اول افاعل، اودوهم مفاعلُ، اودریم فواعلُ دي، اوپه وزنِ صوري سره دري واړه مفاعلُ دي.

۳- وزن عروضي موافقت دوزن اوموزون دي په عدد دحروفوملفوظه کي په غیر دلحاظ داصلي اوزائدو څخه، او بغیر دلحاظ دتعین دحرکاتو څخه، بلکه محرک په مقابله دمطلق متحرک کي راتلاي شي. مثال: طعَام، کِتَاب، سُؤَال، شریف، صَبُوْر، دغه الفاظ په‌وزن عروضي کي په‌وزن د فَعُولُنْ دي.

فائدة: وزن صرفي خو معروف دي په استعمال کي، او وزن صوري په مسئله دتصغیر کي. اوپه بعضي اعلالاتو دصرفوکي، یا په صیغه دمُنتهی الجُمُوع کي. وغیرذلک کي معتبردي.

مبحث ثالث فوائد نافعة:

۱- اهل عروض تنوين مستقل حرف ساكن معتبره وي، نوځکه دوي په وزن کي دتنوين پځاي نون ساکن ليکي،

۲- اهل عروض حرف مشدد دوه حرفه بولي، اول ساكن دوهم متحرک، اومُنّون هم دوه خو په عكس دمشدد باندي، دواړه جمع دي پد ي لفظ كي مُحَمَّدٌ دا لفظ به قاعدة دعروضو داسي ليكلاي شي: مُحَمْمَدُنْ نو ځكه دوي وايي خطّانِ لايُقَاسُ عَلَيْهِمَا خطّ الْمُصْحَفِ وخطّ العُرُوضِيِين.

- اهل عروض اعتبار لفظ ته وركوي نه كتابت ته، نوملفوظ غير مكتوب په وزن كي معتبر وي، اومكتوب غيرملفوظ غيرمعتبر وي لكه تنوين ياالف په لام مشدد دالله، ياحروف علت اشباعي په وزن كي معتبر دي اگر كه مكتوب ندي؛ ځكه چه ملفوظ دي او الف مكتوبه پس د واو دجمع نه، اويا هغه همزه وصل چه نطق ورباندي ونشي په وزن كي ندي معتبر

الف لام شمسيه چه كوم لفظ كى راشي نودوى په تقطيع كى مدخول دالف لام ذكركوى اودوه حرفونه ورنه جوړوى.

لكه الشمس – الزاهد - الصابر – نودوي ورنه تعبرداسى كوه اشْشمسُ- ازْزاهد - أصْابر- وقس على ذلك

نكته لطيفه الف لام شمس هغه الف لام دى چه په خپل مدخول كى مدغم كيږى مقابل كى ئى الف لام قمرى دى: والتفصيل فى علم تجويد.

پنځم مقام دتقطيع:

به په دى مقام كى دامباحث دى بيان دمفهوم دتقطيع ۲وضاحت په مثالونو ۳اوفرق په تقطيع دشعرعربى اوشعرعجمى كى

بحث اول تقطيع لغة كى: تجزئة الشئ أجزاءً يعنى يوشى تكړوه تكړه (ټوټه) كول اصطلاح كى – تجزئة البيت بمقدار من التفاعيل يعنى يوبيت دأجزاء دبحر اودوزن برابر تكړه (ټوټه) كول

فائده: دتقطیع لپاره مثال ذکرکولو نه مخکی په دی پوهیده ضروری دی چه اهل عروض په وخت دتقطیع دیوبیت کی یعنی چه کله اوغواړی چه یوبیت وزن را اوباسی نودوی هغه بیت هرقسمه تجزیه کوی ددی لحاظ نه ساتی چه یولفظ څه رنګه تجزیه شی خیزدی که یوکلمة په منځ قطع شی نصف ئی مخکی لاړه شی اونصف روستوحساب شی.

مثال د بحر کامل: پنځم بحردی: شپږم واری - متفاعلن دائی أجزاء دی یعنی هغه بیت به دبحرکامل لاندی وی چه یوه مصرعه ئی هم متفاعلن متفاعلن متفاعلن شی اوبله مصرعه هم متفاعلن متفاعلن متفاعلن نومجموعه۶ کرت متفاعلن دادیوبیت دبحرکامل اصلی وزن دی، لکه په دی شعرکی

واذصَحَوْتُ نَماأقصِرُ عَنْ ندیٰ * وکما علمت شمائلی وتکرّمی: تقطیع ئی په دی طریقه ده

واذاصحوْ تُنَماأقصِ صِرُعَنْ ندی وكَماعَلِمْ تشَمَائلی وتَكرَرُمی

متفاعلن متفاعلن متفاعلن متفاعلن متفاعلن متفاعلن

فائده : دتقطیع پوره مسائل به پس دپیژندلو داسبابو اوتادواوفواصلو نه ذکرکیږی خودمره په اسانه اصطلاح ځان پوهه کول ضروری دی چه دواذاصحووزن عروضی موتږ متفاعلن وګرځولوځکه دا ذادری متحرك اوالف ساکن همداسی متفادری حرف متحرك الف ساکن اوصَحَوْ دوه متحرك اوبیا واو ساکن همداسی په وزن کی علن دوه متحرك اوبیانون ساکن اوهمدی طریقه باندی دانور تجزیه شوی الفاظ دی..

فرق په تقطیع عربی اوعجمی کی:

داظاهره ده چه هرلسان اولغت خپل امتیازات لری دلته بعض امتیازات دغیرعربی اشعارو ذکرکوؤ په وخت دتقطیع کی دپاره دزیادت دمعرفت دباب دتقطیع.

۱ کله چه شعرفارسی یاهندی کی دری۳ متحرکات جمع شی نوجایزده چه وسط حرف ساکن حساب شی عند التقطیع په خلاف دشعرعربی باندی چه په هغی کی تسکین دهغه حرف چه متحرك لوستی شی نه دی جایز.
۲- فارسی اشعاروی کی واو په ،خودخوش خورشید. کی معتبرنه دی (صرح به الطوسی)
۳ –هاء - دگهر –تجه –پهر –په هندی اردوکی ساقطیږی
۴ –نون غنه –لکه –صین - هین –یادجمع لکه –بها ئیون –جوانون په وسط دمصراع کی ساقطیږی البتة په قافیه کی معتبروی
۵ – کله دوه ساکنان راشی لکه تلاش معاش چشم نوپه حشوکی آخرنی ددی متحرك معتبردی په خلاف دضرب اوعروض نه
۶ –کله دری سواکن جمع شی نوپه حشوکی به اول ساکن پاتی شی دریم به ساقط شی اودوهم به متحرك شی اوپه عروض اوضرب کی به دریم ساقطْ اودوهم په خپل حال وی- دوست–گوشت.
۷ –هاء مختفیة حرف نه حسابیږی په تقطیع کی لکه غنچه –لاله
۸ –واوعطف فارسی کی اکثرملفوظ نه وی بلکه ماقبل وحرف مضموم ویلی شی لکه (دل ودلدار) دابه تقطیع کی ساقط وی خوکله ملفوظ هم وی هم داواو عاطفه نوبیا به معتبروی.
۹ –واو دخواب خواجه –داپه فارسی کی په تقطیع کی نه معتبریږی ماخوذ من العیون الناظرة (عروض سیفی)

شپږم مقام: متن الکافی

په دی مقام کی دمُصَنَف أومُصَنف اجمالی بیان دی:-
په دی پوهه شه چه دفن عروض لپاره دوخت ایجادنه چه خلیل ابن احمدکړیدی تروسه ډیر کارشوی دی ودفن دماهرینو په مختلفو ژبو کي مختلف کتابونه لیکلي دي، چه حضرت موسیٰ خان بازي رحمه الله په مقدمه دمحیط الدائره کي دمحیط

الدائره په‌شمول تر (۲۰) پوري کتابونه دفن شروح اوحواشي ذکر کړي دي. خودلته دمدارسو په‌منهج (درس نظامي) کي صرف متن کافي اومحيط الدائره داخل دي.

متن الکافي:

چه خپل نوم دکتاب الکافي دي، دادعلامه ابوالعباس احمد بن شعيب القنائي المصري الشافعي المتوفى (۸۵۸هـ) تصنيف دي، په دي علامه محمد دمَنْهُوْرِي دوه شرحي ليکلي يوه حاشيه صُغرىٰ بله حاشيه کُبرىٰ، حاشية صغرىٰ په المختصر الشافي ډيرشهرت لري، دواړه دفن مفيد کتابونه دي.



شروع دکتاب

بسم الله الرحمٰن الرحيم

الحمد لله على الإنعام والشكر له على الإلهام

ترجمة: ټول صفتونه دکمال ثابت دي خاص دالله لپاره؛ په وجه دهر قسمه انعاماتو دده، اوتعظيم ظاهري اوباطني خاص دلپاره دي؛ په وجه داچولو دخيرپه زړونو دمؤمنانو کي.

شرحه دبعضو ا لفا ظو: (الحمدلله) جملية اسمية ده معدولة له فعليي نه للدوام والثبات، خبرية لفظاً اوانشائية معنًا. (على الانعام) اِنعَام مصدر دي د اَنْعَمَ په معنى داَحْسَنَ واَعطٰى سره.

سؤال: مُنْعَم به يي ولي ذکر نکړ؟

١- **جواب**: اشاره يي وکړه دي خبري ته چه عبارت قاصر دي له احاطي کولو نه په هغي باندي.

٢- **جواب**: ذکر دانعام دي مراد منعم به په طريقي دمجاز مُرسل.

ترکيبي حيثيت: ظاهره داده چه على الانعام خبرثاني دالحمدُ مبتداء لپاره اولله يي خبر اول. اول کي استحقاق ذاتي ته اشاره اودوهم کي استحقاق وصفي ته.

(على الالهام) الهام القاء دخيرپه زړه دمؤمن کي په طريقي دفيض. په ترکيب کي (على الالهام) لکه (على الانعام) دي.

<u>والصَّلوٰة والسَّلام على سيِّدنا محمَّد خيرالأنام وآله وصَحْبه السَّادة الأعْلام</u>

ترجمة: اودرود اوسلام دي وي په سردار اوآقا زمونږ محمدﷺ باندي چه بهتر دټولو مخلوقاتو دي، اوپه آل ددوي اوپه صحابه کرامو ددوي چه سرداران ددين دي. اوپه عظمت اواستقامت کي پشان دغرونو دي.

شرحه: (سيد) فَيْعِل وزن دي صيغة دصفت مشبه دي، (مُحمد) صيغة د اسم مفعول ده تَحْمِيْد نه مبالغه دمعنیٰ دمحموديت پکي ده. په ترکيب کي يا بدل دي د سيدنا څخه يا عطف بيان دي، نعت نه دي؛ لان العلم يوصف ولايوصف به.(خير) صيغة داسم تفضيل ده اصل يي أَخْيَرُ ده دکثرت استعمال له وجي همزه حذف شوي ده تخفيفا. (آل) اسم جمع ده لاواحد له. (صَحْب) داهم دصاحب اسم جمع ده اوجمع نده څکه چه فاعل قياسا په فَعْل ندي جمع شوي. (السادة) جمع دسائد ده په معنی دسيد ، لکه قادة اوقائد. (الاعلام) جمع دعلم په معنی دجبل سره، په (السادة الاعلام) کي تشبيه بليْغه ده. فتدبر.

وبعدُ فهٰذاتأليف كافٍ في علمي العروض والقوافي والله الموفق وعليه التوكّلُ.

ترجمة: اوپس دحمد اوصلوةُ سلام نه پس دا يو تاليف (جوړ شوي کتاب) دي چه پوره دي په دوارو علمينو کي چه عروض اوقوافي دي. اوخاص الله برابرونکي داسباب دخيردي، اوخاص پده اعتماد دي نه په بل چا.

شرحه: (فهٰذا) فا جزائيه ده على التحقيق، اوبعد ظرف جاري مجرى الشرط. اومشاراليه دهٰذا ما حضر في الذهن دي په حضور اجمالي سره چه دکمال حضور نه پشان دمحسوس گرځيدلي دي. (تاليف) مصدر دي لغة په معنیٰ د: ايقاع الأُلفة بين شئين اوأشياء سره دلته په معنی داسم مفعول سره دي چه مؤلَف دي په طريقي دمجاز مرسل (في علمي العروض آه) في دپاره دظرفيت ده دلته ظرفيت د دال دي چه تاليف دي په

مدلول کي چه علمي دي. دعلم العروض معرفت په مقدمه کي وشو، اودعلم القوافي معرفت به په خپل ځاي کي راشي.

وَاللهُ اَلْمَوْفِقْ وَعَلَيْه اَلتَّوَكُّل

ترجمه :

خاص الله برابرونکی داسبابو دخیردی اوخاص په ده اعتماد اوتوکل دی نه پربل چا.

شرح: دواړوجملوکی حصردی په اوله کی دتعریف دمسند اومسندالیه له وجی اودهمه کی دتقدیم دخبر له وجی نه

الأوَّل فيه مُقدِّمَةٌ وَبَابَان و خَاتمَةٌ، فَالمقدمةُ في أشْيَاءَ لاَبُدْ منْها

ترجمة: علم اول چه عروض دي په هغي کي مقدمه دوه بابونه اوخاتمه ده.پس مقدمه په داسي اُمُورو کي ده چه دهغي ذکرکول ضروري دي.

شرحه: (فيه مقدمة) دلته ظرفيت دمتعلق دي په صيغه داسم فاعل چه مقدمه بابان اوخاتمه دي، په متعلق کي په صيغه داسم مفعول چه علم العروض دي. (فالمقدمة) دمنهوري وايي چه مراد مقدمة الكتاب دي. (لابُد منها) داجمله صفت دي داشياء لپاره.

أَحْرُفُ التقْطيْع الَّتيْ تَتَأَلَّفُ منْهَا الأَجْزَاءُ عَشرَةٌ يَجْمَعُهَا قَوْلُكَ: "لَمَعَتْ سُيُوْفُنَا"

ترجمة: هغه حروف تقطيع چه اوزان دبحرونو ترينه جوړيږي لس (۱۰) دي چه په دي قول ستا کي: لمعت سيوفنا: (وبريښيدي زمونږ توري) راجمع شوي دي.

شرحه: (التقطيع) په لغت کي تجزئة الشيء اجزاءً په اصطلاح کي: تَجزئة البيت بمقدار من التفاعيل. يعني يوبيت داوزانو دبحر موافق ټوټه کول.

اضافت دحروف تقطیع حروف ته لامیه دي، یعني هغه حروف چه منصوب دي تقطیع ته (تتالف) په معنی دتترکب سره دي، لکه په بعضي نسخو کي همدا لفظ دي (الاجزاء) ددینه مراد اجزاء او ارکان دبحرونو دي.

التی: تتألف آه – د اصفة کاشفة دی دپاره دأحرف التقطیع لمعت سیوفنا – داجمع درحرفو التقطیع ده دپاره دتسهیل دحفظ معنی ددی عبارة داده (وپرقیدی توری زمونږ)

توضیح کامل: زدکړه داخبره چه مقصود اهم په علم العروض تقطیع داشعارو ده، نو ددتقطیع مقصد دادي چه یو بیت مثلا راشي اوتا په اجمالي طریقه دومره وپیژنده چه دا فلاني بحرنه دي، مثلا بحر طویل دي. چه اول بحر دي او وزن یي دادي. فُعُوْلُنْ مَفَاعِيْلُنْ فُعُوْلُنْ مَفَاعِيْلُنُ دوه کرته، نو دابیت ته داسي تجزیه کړي چه ددي اوزانو او اجزاؤ مطابق شي په وزن عروضي کي بس دا تقطیع شوه. اودا تقطیع به ضرور دي مخصوصو اوزانو ته راځي. اوداهم ظاهره ده چه دغه اوزان جوړ دي له دغو لسو حروفو نه. مثلاً فُعُولُنْ جوړ دي له فاء عین لام اونون څخه چه دلمعت سیوفنا څني دي. وکذلک البواقي، نو ددي تفصیل نه روسته معنی ددي عبارت چه أحرُف التقطیع واضحه شوه. یعني هغه حروف چه اجزاء ورنه مرکب کیږي اودغو اجزاؤُ ته تقطیع دابیاتو کیږي.

فائده: پدي پوهیدل ضروري دي چه ددغو مذکوره حروفو څخه بالذات اجزاء دبحرونو ندي مرکب. بلکه ددي حروفو نه اول سبب، وتد، اوفاصله جوړ شي اودهغي نه بیا اجزاء جوړیږي. وسَیَاتي.

فَالسَّاكِنْ مَاعري عَنِ الحَرَكَةِ وَالْمُتَحَرِّكُ مَا لَمْ يَعْرَ عَنْهَا

ترجمة: پس ساکن هغه حرف دي چه خالي وي له حرکت نه، اومتحرک هغه حرف دي چه خالي نه وي له حرکت نه.

شرحه: (فالساكن) فاء تفريعيه ده، اوکلام مذکور متفرع دي په مقدر باندي تقدير دعبارت داسي دي: وَتِلْكَ الأَحْرُفُ قِسْمَانِ: بَعْضُهَا مُتَحَرِّك وَبَعْضُهَا سَاكِن فَالساكِنُ آه.(عَرِيَ) دسَمِعَ، يَسْمَعُ نه دي په معنى دخلا سره، دعَرَا يَعْرُو نه ندي ځکه هغه په معنى د طَرَأَ او عَرَضَ سره دي.

فَمُتَحَرِّكٌ بَعْدَهُ سَاكِنٌ سَبَبٌ خَفِيفٌ كَقَدْ وَمُتَحَرِّكَانِ سَبَبٌ ثَقِيلٌ كَبِكَ

ترجمه: پس متحرک حرف روسته ورنه حرف ساکن راشي داسبب خفيف دي، لکه قَدْ، اودوه متحرکه حرفونه سبب ثقيل دي لکه: بِکَ. شرحه: (فمتحرک) فاء تفريعيه ده، اوکلام متفرع دي په تعريف دساکن اومتحرک باندي. (سبب) لغت کي حبل (رسی) حبل ته وايي چه خيمه ورباندي تړلاي شي، په اصطلاح کي دغه مذکور دي په متن کي. (خفيف) داقسم ځکه خفيف دي چه سکون راغلي دي پس له حرکت نه اوبل ثقيل دي ځکه چه دوه متحرک دي. (کَقَدْ) کاف په معنى دمثلُ، اوقَدْ مثال دسبب خفيف دي، همدارنگه (فَا، لُنْ، مُسْ، تَفْ، اوعِيْ) دا امثله دسبب خفيف دي. (کَبِکَ) کاف په معنى دمثلُ، اوبِکَ مثال د سبب ثقيل دي، اوهمدارنگه (مُتَ، مَعَ، فَعَ، عِلَ، اولَکَ) مثالونه دسبب ثقيل دي.

۱- **فائده**: سبب ثقيل خصوصيت دلغت عربي دي.

۲ - **فائده**: غیاث اللغات دسبب لپاره قسم ثالث ذکر کړي دي په فارسي کي چه متحرک بعده ساکنان وي لکه کَار، او بَار. دوي ورته سبب متوسط وايي،

وَمُتَحَرِّكَانِ بَعْدَهُمَا سَاكِنٌ وَتَدٌ مَجْمُوْعٌ كَبِكُمْ وَمُتَحَرِّكَانِ بَيْنَهُمَا سَاكِنٌ وَتَدٌ مَفْرُوْقٌ كَقَامَ

ترجمه: اودوه متحرک حرفونه چه ورسته ورنه ساکن راشي وتد مجموع دي لکه بِكُمْ، اودوه متحرک حرفونه چه په منځ کي يې ساکن راشي وتد مفروق دي لکه: قَامَ.

شرحه: وَتَد: لغت کي هغه میخ یا موړي ته وايي چه په ځکمه ټکوهلي شي لپاره دتړلو درسی دخیمي، (مجموع) اول قسم ته مجموع وايي ځکه دوه متحرک حرفونه یوځاي دي. دوهم مفروق دي ځکه متحرکان سره جدا دي په ساکن باندي، (بِكُمْ) مثال دي دوتد مجموع. همداسي (عَلَیْ، اَقِمْ، فَاِنْ، عِلَنْ، مَفَا، فَعُوْ، او عِلَا) دوتد مجموع مثالونه دي. (قَامَ) دامثال دوتد مفروق دي، همداسي (فَاعِ. لَاتُ. تَفْعِ. آمْسِ. اوکَیْفَ) مثالونه دي وتد مفروق دي.

فائده: دوتد لپاره هم قسم ثالث شته عند الفُرْس. چه عبارت دي له مُتحرکَان بَعْدَهُمَا سَاکنان څخه. لکه نِهَان. اوجهان.

وَثَلَاثٌ بَعْدَهَا سَاكِنٌ فَاصِلَةٌ صُغْرَى كَفَعَلَتْ، وَأَرْبَعٌ بَعْدَهَا سَاكِنٌ فَاصِلَةٌ كُبْرَى كَفَعَلَتُنْ

ترجمه: اودري متحرک حرفونه چه ورسته ورنه حرف ساکن راشي فاصله صغری ده، لکه فعلت، اوڅلور متحرک حرفونه چه روسته ورنه ساکن راشي فاصله کبری ده لکه فَعَلَتُنْ.

شرحه: فواصل لغت کي هغو اُرډو پړوته ويلي شي چه يو دهغې نه دخيمي مخي ته وتړلي شي، اوبل يي شاته چه خيمه دباد نه وساتي.
(فَعَلَتْ) دامثال دفاصلي صغرى دي همداسي (ضَرَبَتْ، علتُنْ، مُتَفَا، اومَعَ مَنْ) مثالونه دفاصلي صغرى دي. (فَعَلَتُنْ) مثال دفاصلي كبرى دي يا لكه ضَرَبَكُمْ.
فائده اولى: دفاصلي صغرىٰ اوكبرى لپاره دا مذكور دمتن تعريفونه هم دي، اوداسي هم ويلي شي: فاصله صغرى هغه ده چه سبب ثقيل وروسي سبب خفيف راشي، يعني دسبب ثقيل اوخفيفي نه جوړه وي، اوفاصله كبرى چه سبب ثقيل وروسي وتد مجموع راشي.
فائده ثانيه: دفاصلي لپاره يو قسم ثالث دي په فارسي کي. چه پنځه متحرک حرفونه روسته ساکن راشي، غياث اللغات وايي مثال يي ساقط دي البته معيار البلاغة ورته بعظمتش مثال ذكر كړي دي، (الرياض الناظرة)

يَجْمَعُهَا قَوْلُكَ: لَمْ أَرَ عَلىٰ ظَهْرِ جَبَلٍ سَمَكَةً

ترجمه: جمع کوي دغه امورو ستو لره دغه قول ستا: (لَمْ اَرَ آه) ما ندي ليدلي په سر دغر باندي كب
شرحه اوتطبيق دمثال: ماتن دغه شپږ امور ټول پدي مثال کي را جمع كړي دي تطبيق يي داسي دي. لَمْ سبب خفيف، اَرَ سبب ثقيل، عَلىٰ وتد مجموع. ظَهْرِ وتد مفروق، جَبَلٍ فاصله صغرى؛ ځکه چه دري متحرک حرفونه دي او تنوين حرف ساكن، سَمَكَةً فاصله كبرى؛ ځكه چه ځلور حروف متحرک اوتنوين په آخر کي حرف خامس ساكن شو.

ومِنْهَا تَتَأَلَّفُ التَّفَاعِيلُ

ترجمه او داتفاعيل اوياّاجزاء اته دي په اعتباردلفظ اولس دي په اعتباردحکم سره.

شرح : مرادپه تفاعيل سره اجزاء دبحرونودی بعض نسخودمتن کی دتفاعلیل په ځای اجزاء لفظ ذکردی

توضیح بالمثال - غرض دماتن دادی چه دغه اسباب اوتاد اوفواصل چه جوړدی دحروف تقطیع نه ددي نه دبحرونو اجزاء مرکب دی مثلاً فعولن دایوجزء دی مرکب دي له فعول چه وتد مجموع دي اولن چه سبب خفیف دی اومفاعيلن جوړدی له مفاوتد مجموع اوعیلن سببینو خفیفینو نه

فائده : په فن عروض کی دغه الفاظ مترادف دی : اجزاء- تفاعیل - افاعیل -اوزان -ارکان امثله -اُصول -په دی ټولو سره مراد دغه فعولن مفاعیلن - وغیره دی

وهيَ ثمانيةٌ لفظًا عَشَرَةٌ حُكْمًا

ترجمه: اودا تفاعیل اویا اجزاء اته دي په اعتبار دلفظ اولس دي په اعتبار دحکم سره،

شرحه: ماتن بیان ددي کوي هغه کوم اجزاء دبحرونو چه مرکب دي دسبب وتد اوفاصلي څخه هغه ټول په لفظ کي اته دي. البته په حکم داهل العروض کي لس دي؛ ځکه پدي اتو الفاظو کي دوه داسي الفاظ دي چه دهر یولپاره دوه دوه حالته دي. اوپه هر حالت کي جدا حکم لري. دا دوه جزءان دادي: یومُسْتَفْعِلُنْ اوبل فَاعِلَاتُنْ ددي دوو لپاره دوه دوه حالتونه پدي ترتیب دي:

اول لفظ چه مستفعلن دي که دا مرکب معتبر شي دسببینو خفیفینو نه په اول کي اودوتد مجموع نه: چه مُسْ یو سبب خفیف اوتَفْ دوهم سبب

خفیف، اوعِلُنْ وتد مجموع نو دا یوحالت ددي جزء دي، اودي ته ذوالوتد المجموع وایې، او داسي لیکلای شي: مُسْتَفْعِلُنْ اوکه مُرکب معتبر شي دسببینو خفیفینو نه یو په اول او بل په آخیرکي اوپه منځ کي وتد مفروق وي چه: مُسْ یو سبب خفیف، او په آخیر کي لُنْ دوهم سبب خفیف اوپه منځ کي تَفْعِ وتد مفروق نو دابل حالت شو. اودي ته ذوالوتد المفروق ویلي شي. اوداسي لیکلای شي. مُسْتَفْعِ، لُنْ.

سؤال: داخو فقط په کتابت کي جدا شو په حکم کي څرنګه جدا دي؟

جواب: په حکم کي په دي طریقه جدا دي. چه مُستفعلن ذوالوتد المجموع ددي طي جایز دي. طي ویلي شي حذف دحرف رابع ساکن ته. نوپه مستفعلن کي فاء حذف کولاي شي په طي سره. اوپه مستفع. لُنْ ذوالوتد المفروق کي طي ندي جایز، اووجه یې دادي چه طي قسم د زحاف دي اوزحاف خاص دي تر دوهم حرف دسبب پوري. نوپه اول حالت کي فاء ساکنه دوهم حرف دسبب دي، اوپه دوهم حالت کي مستفع. لن فاء ساکنه دوهم حرف دوتد دي: ځکه دلته دمُسْ سبب خفیف نه پس تَفْع وتد مفروق معتبر شوي وو. اوزحاف په اوتادو کي نه راځي.

دوهم لفظ چه فَاعلاتُنْ دي، ددي دوه حالتونه دادي: که دا مرکب شي دسببینو خفیفینو څخه یوپه اول کی اوبل په آخیرکي اودوتد مجموع نه په وسط کي چه فَا سبب خفیف ورپسي عِلاَ وتد مجموع، اوبیا تُنْ سبب خفیف نو دایو حالت دي. اودي ته ذوالوتد المجموع وایي. اوداسي لیکلای شي: فَاعلاتُنْ. اوکه مرکب شي دوتد مفروق نه په اول کي اودسببینو خفیفینو څخه په آخیر کي چه: فَاعِ وتد مفروق ورپسي لاَ

يو سبب خفيف او تُنْ بل سبب خفيف دادوهم حالت شو، او دي ته ذوالوتد المفروق وايي. او داسي ليکلاي شي: فَاعِ، لاَ، تُنْ.

سؤال: دا دواړه حالتونه څرنګه مختلف دي په حکم کي؟

جواب: ځکه فَاعلاَتُنْ چه ذوالوتد المجموع وي نو دد ي خَبن روا دي، چه حذف ددوهم ساکن دي، لکه دفَاعلاتن الف چه حذف شي. او په فَاعِ. لاَ. تُن ذوالوتد المفروق کي خبن ندي جايز؛ ځکه خبن هم زحاف دي اومونږ ذکر کړه چه زحاف په اسبابو کي وي نه په اوتادو کي، اودفاع، لا. تن دوهم ساکن دوهم وتد دي.

فائده: علامه دمنهوري وايي: چه ددي جزئينو لپاره لفظا هم بايد دوه حالتونه وي پدي طريقه: چه په ذوالوتد المفروق جزء کي بايد يوه سکته لطيفه معتبره شي پس وتد مفروق نه، مثلا په اول کي دمُسْتَفْعِ نه پس او په دوهم کي دفَاعِ نه پس، نو بنا پدي تفاعيل او اجزاء عشره شول لفظ حکما او کتابة.

إثْنَان خُمَاسِيَّان وثَمَانية سُبَاعِيَّةٌ

ترجمه: دوه پدي لسو اجزاؤکي پنځه حرفيز دي، او اته نور اوه حرفيز دي.

شرحه: پنځه حرفيز فَعُولُنْ. اوفَاعِلُنْ دي، او اوه حرفيز مَفَاعِيْلُنْ، مَفَا عَلَتُنْ. فَاعِ لاَتُنْ. مُسْتَفْعِلُنْ. فَاعلاتُنْ. مُتَفاعِلُنْ. مستفع لُنْ. او مفعولاتُ دي.

الأُصُول منهَا: فَعُوْلُنْ، مفَاعِيْلُنْ، مَفَاعلَتُنْ، فَاع لاَتُنْ، ذُوالوَتد المفرُوق في المضارع.

ترجمه: دمتن ترجمه واضحه ده.

شرحه: زده کړه داخبره چه دالس اجزاء په خپل کور په دوه قسمه دي: اصُول اوفروع، اصول څلور دي، اوفروق شپږ دي. ظابطه يي دادي: چه دکوم جزء په اول کي وتد وي نوهغه اصل دي، اودکوم جزء په اول کي سبب خفيف

اویاثقیل وي نو هغه فرع دي؛ وجه یې داده چه وتد اقوی دي؛ ځکه کله چه زحاف په سبب کي وشي نو اعتماد په وتد کیږي، نودغه څلور اجزاء چه ماتن حکم داصولو پروکړ، دهریو ابتداء له وتد نه شوي ده. د دریو له وتد مجموع نه اود یو له وتد مفروق نه. تفصیل یې داسي دي؛

۱- فَعُولُنْ: اول وتد مجموع اوبیا سبب خفیف دي.

۲- مَفَاعِیلُنْ: اول وتد مجموع اوبیا سببین خفیفین دي.

۳- مَفَاعَلَتُنْ: اول وتد مجموع اوبیا فاصله صغري دي.

۴- فَاعِ لَاتُنْ: اول وتد مفروق اوبیا سببین خفیفین دي.

۱- **فائده**: دفَاع لاتن سره یې قید دذولوتد المفروق ولګولو احتراز یې وکړ دفاعلاتن ذوالوتد المجموع څخه ځکه چه هغه په فروعو کي دي.

۲- (المضارع) دانوم د دولسم بحر دي، اوفَاع لَاتن به هغي کي استعما شوي دي.

والفروعُ: فَاعِلُنْ، مُسْتَفْعِلُنْ، فَاعِلَاتُنْ، مُتَفاعِلُنْ، مَفْعُولَاتُ، مُسْتَفْع لُنْ ذُوالوتد المفروق في الخفيف والْمُجْتَثّ.

ترجمه: دمتن ترجمه واضحه ده.

شرحه: دغو شپږو اجزاؤ ته یې فروع وویل؛ ځکه چه دا راوتي دي له هغو څلورو اصولونه، طریقه دتفریع یې داده: تا وپیژنده چه په اصلي جزء کي ابتداء له وتد نه شوي وي، اوورسته کله یو سبب وي لکه په فعولن کي. اوکله دوه سببه وي لکه په نورو دریو اصولوکي، نوته به یو سبب یا دوه سبب مخکي کړي په وتد باندي نو وزن مهمل به څني جوړ شي. بیا به یې نقل کړي وزن مستعمل ته بس دایوه فرعه شوه.

تفصيل:

۱- دفُعولُنْ لپاره يو فرعه ده چه فاعلُنْ ده، طريقه دتفريع يې دادي چه دفعُولُن په آخير کي سبب خفيف هغه به مخکي کړي په وتد نولُنْ فَعُوْ به شي دامهمل دي، نقل به يې کړي فاعلن ته څکه چه وزن عروضي دلُنْ فَعُوْ او فاعلن يو دي.

۲- مفاعيلن لپاره دوه فرعه دي يو مستفعلن، اودوهم فاعلاتن طريقه يې دادي که دواړه سببونه په وتد مخکي کړي نو عيلُن مفا به شي نقل به يې کړي مستفعلن ته چه ورسره موازن دي، نو دا يوه فرعه دمفاعيلُنْ شوه. اوکه يو سبب مخکي کړي نو لن مفاعي به شي نقل به يې فاعلاتن دابله فرعه شوه.

۳- مفاعلتن لپاره هم دوه فرعي دي، خويو مستعمل ده ابله مهمله، مستعمله متفاعلُنْ ده، اومهمله فاعلا تکَ چه عربو ورباندي اشعار ندي ويلي. طريقه دتفريع يې دادي چه په مفاعلتُن کي علتُن فاصله صغرى ده، اويا علَ سبب ثقيل اوتُنْ خفيف دي، نوکه مجموعة علتن مخکي کړي په وتد چه مَفَا دي، نو علتن مفا به شي، نقل به يې کړي مُتفاعلُنْ ته چه ورسره موازن دي، نو دايو فرعه شوه چه مستعمله هم ده. اوکه يو سبب خفيف له آخر نه مخکي کړاي شي فقط نوتُنْ مَفَا علُ به شي بيا به نقل شي فاعلاتُکَ دا بله فرعه چه مهمله ده.

۴ فاع لَاتُنْ: دي لپاره هم دوه فرعي دي. او دواړه مستعملي دي يوه مفعولاتُ، اوبله مستفعلنْ ذوالوتد المفروق طريقه دتفريع يې دادي، که دواړه سببان له وتد مفروق نه چه فاع دي مخکي کړاي شي لاتن فاع به شي نقل به شي مفعولات ته چه موازن يې دي نودايوه فرع شوه. اوکه يو سبب خفيف مخکي کړاي شي، نوتُنْ فَاع لاَ به شي. نقل به شي مُستفعِلُنْ ته څکه

ددواړو په وسط کي وتد مفروق اوپه اول آخيرکي يي سببين خفيفين دي، نو دا بله فرعه شوه.

۱ - **فائده**: په متن کي ذوالوتد المفروق قيد د مُستفع لُن لپاره دي، چه احتر ازوشي له مُستفعلن ذوالوتد المجموع نه ځکه چه هغه مستقله فرعه ده.

۲ - **فائده**: (الخفيف والمجتث) دا دواړه نومونه دبحرونو دي، خفيف يولسم اومجتث څوارلسم دي چه مُستفع لُن يي په اوزانو کي دي.

{د اصولو اوفـروعـو نـقشـه}			
شماره	أصل	فرع	فرع
۱	فُـعُوْ لُـنْ	فَـاعِـلُنْ	.
۲	مُـفَاعِـيْلُنْ	مُسْتَـفْعِلُنْ	فَاعِـلاَتُـنْ
۳	مُـفَاعَـلَـتُنْ	مُتَـفَاعِـلُنْ	فَـاعِلاَتُـكَ
۴	فَاعِ لاَتُـنْ	مَفْعُوْ لاَتُ	مُسْتَـفْعِ لُـنْ

ومنها تَتَأَلَّفُ الْبُحُورُ

ترجمه: او ددي اجزاؤ نه ترکيب دبحرونو راځي.

شرحه: اجزاء اوتفاعيل چه داسبابو اوتادو اوفواصلو څخه جوړ دي لس دي بيا له همدي لسو اجزاؤ نه ترکيب پنځلسو يا شپاړلسو بحرونو کيږي، وسياتي تفصيله توضيح کامل

زدکړه داخبره چه بحورجمع دبحرده په بحاراوأبحرسره هم جمع کيږی لغة کی دی الشق والاتساع ويلی شی چه بَحرت أذن الناقة أی شققتها

يعني معنى دخيروالي اوفراخوالي پکې ده په اطلاح داهل عروض کې حاصل تکرارالجزء بوجه شعري يعني يوجزء په شعري طريقه مکرر شي دهغې حاصل بحر ياعلامة دمنهوري وائي التفاعيل المكرد بعضها بوجه شعري يعني هرهغه أجزاء اوتفاعيل چه ددي لسو ۱۰ أجزاءونه په يوخاص وزن سره مکررشي مثلا متفاعلين يوجزء دي ديته موږ تکرارورکو متفاعلن متفاعلن متفاعلن ادادوه کرته يعني مسدس شي يوبحردي چه بحرکامل دي په همدې ترتيب سره داټول بحرونه مرتب شوي اوعرب چه کوم اشعار وائي هغه به ددي بحرونو لاندي وي وسيائتي تفصيله وجه دتسميه ددي په بحرسره(۱) ځکه په دي سره وزن دغيرمتناهي أشعاروکيږي نودامشابه شو دبحرالماء سره هغه دهغې انتها په لپوراخستونه کيږي اونه معلوميږي.

تعداددبحرونو:

په نيزدخليل بن أحمد موجدفن باندي بحرونه ټول پنځلس(۱۵) دي اوپه نيزدمعلم ثاني دفن اخفش باندي (۱۲) دي بحرمتدارك ايجاد دأخفش دي

نودابحرونه ددي لسو(۱۰) أجزاءونه جوړدي اوترتيب دادي چه داشپاړس(۱۲) بحرورنه دری۳ أنواعوته منقسم دي اوله نوعه - چه دخماسي اوسباعي أجزاؤد ادري بحرونه دي [طويل] [مديد] [بسيط]

دوهمه نوعه چه خاص دسباعي اجزاء نه جوړدي دايولس(۱۱) دي

(۱)وافر(۲) کامل هزج(۴) رجز(۵) رمل (۲)سريع (۷) منسرح(۸) خفيف(۹) مضارع(۱۰)مقتضب(۱۱) مجتث

دریمه نوعه – چه خاص دخماسي اجزاءنه جوړ دي دادوه بحرونه دي(۱) متقارب (۲) متدارك- مجموعه(۱۲) بحرونه شو

{دبحرونو تفصیلي نقشه}

نمبر	دبحر نوم	دبحر أوزان	
		مصراع أول	مصراع ثاني
۱	طويل	فُعُوْلُنْ مَفَاعِيْلُنْ فُعُوْلُنْ مَفَاعِيْلُنْ *	فُعُوْلُنْ مَفَاعِيْلُنْ فُعُوْلُنْ مَفَاعِيْلُنْ
۲	مديد	فَاعِلاَ تُنْ فَاعِلُنْ فَاعِلاَ تُنْ فَاعِلُنْ *	فَاعِلاَ تُنْ فَاعِلُنْ فَاعِلاَ تُنْ فَاعِلُنْ
۳	بسيط	مُسْتَفْعِلُنْ فَاعِلُنْ مُسْتَفْعِلُنْ فَاعِلُنْ *	مُسْتَفْعِلُنْ فَاعِلُنْ مُسْتَفْعِلُنْ فَاعِلُنْ
٤	وافر	مَفَاعِلَتُنْ مَفَاعِلَتُنْ مَفَاعِلَتُنْ *	مَفَاعِلَتُنْ مَفَاعِلَتُنْ مَفَاعِلَتُنْ
٥	كامل	مُتَفَاعِلُنْ مُتَفَاعِلُنْ مُتَفَاعِلُنْ *	مُتَفَاعِلُنْ مُتَفَاعِلُنْ مُتَفَاعِلُنْ
٦	هزج	مُفَاعِيْلُنْ مُفَاعِيْلُنْ مُفَاعِيْلُنْ *	مُفَاعِيْلُنْ مُفَاعِيْلُنْ مُفَاعِيْلُنْ
۷	رجز	مُسْتَفْعِلُنْ مُسْتَفْعِلُنْ مُسْتَفْعِلُنْ *	مُسْتَفْعِلُنْ

		مُسْتَفْعِلُنْ مُسْتَفْعِلُنْ
۸	رمل	فَاعِلَاتُــنْ فَاعِلَاتُــنْ فَاعِلَاتُــنْ * فَاعِلَاتُــنْ فَاعِلَاتُــنْ فَاعِلَاتُــنْ
۹	سريع	مُسْتَفْعِلُنْ مُسْتَفْعِلُنْ مَفْعُوْلَاتُ * مُسْتَفْعِلُنْ مُسْتَفْعِلُنْ مَفْعُوْلَاتُ
۱۰	منسرح	مُسْتَفْعِلُنْ مَفْعُوْلَاتُ مُسْتَفْعِلُنْ * مُسْتَفْعِلُنْ مَفْعُوْلَاتُ مُسْتَفْعِلُنْ
۱۱	خفيف	فَاعِلَاتُــنْ مُسْتَفْعِ لُنْ فَاعِلَاتُــنْ * فَاعِلَاتُــنْ مُسْتَفْعِ لُنْ فَاعِلَاتُــنْ
۱۲	مضارع	مُفَاعِيْلُنْ فَاعِ لَاتُــنْ مُفَاعِيْلُنْ * مُفَاعِيْلُنْ فَاعِ لَاتُــنْ مُفَاعِيْلُنْ
۱۳	مقتضب	مَفْعُوْلَاتُ مُسْتَفْعِلُنْ مُسْتَفْعِلُنْ * مَفْعُوْلَاتُ مُسْتَفْعِلُنْ مُسْتَفْعِلُنْ
۱٤	مجتث	مُسْتَفْعِ لُنْ فَاعِلَاتُــنْ فَاعِلَاتُــنْ * مُسْتَفْعِ لُنْ فَاعِلَاتُــنْ فَاعِلَاتُــنْ
۱۵	متقارب	فَعُوْلُنْ فَعُوْلُنْ فَعُوْلُنْ فَعُوْلُنْ * فَعُوْلُنْ فَعُوْلُنْ فَعُوْلُنْ فَعُوْلُنْ
۱٦	متدارك	فَاعِلُنْ فَاعِلُنْ فَاعِلُنْ فَاعِلُنْ * فَاعِلُنْ فَاعِلُنْ فَاعِلُنْ فَاعِلُنْ

فائدة : دا اوزان چه مونږدهربحرسره ليکلي دی دابه دوه۲کرته - معتبروی نومرتين مرتين دهريوسره دی نوکوم بيت چه ديوددی بحرونولاندی راشی دهغی بيت به دغه ليکلي وزن دوه(۲)کرته وی يعنی دابه ديومسراع وزن وی خوچه مرتين شو نووزن دمصراعينوشونومکمل شو-

فائدة : مونږه داسی وليکل دپاره داسانيتا- کله به دواز انوسره داسی لکليي وی مثلا دبحرکامل وزن متفاعلن ست(۲) مرات - خومال ئی هم دادی مجموعه بيت به ست مراتً (۲) وی اويوه مصراع به ثلاث مراتٍ شی اودلته مونږ ثلاث مراتٍ لکلي دی چه ديومصرعی وزن دی اودا مجموعه چه مرتين شی نوست مرات شو .

يامثلا دبحرمتقارب سره به ليکلي وی فعولن ثمان مراتٍ - دامجموعه بيت دبحرمتقارب چه واخلی اودلته مونږ أبع مراتٍ به شی - (فتفکر فی ذلك ولاتکن من الغافلين).

{بحث اهم ددوائرو}


عادت داهل عروض جاري په ذکر دوائرو خمسو په ابتدا دمطالبو دفن کي، نولابدي له بيان دي ځخه خولدي وجي نه چه په متن الکافي کي ددي بيان نشته نو مناسب دادي چه ذکر يې تفصيلا وشي، اودباب ثاني په ابتداء کي مونږ ددبيان کوو اتباعًا لدمنهوري في الحاشية الکبرىٰ نوپدي بحث کي ديو دريو خبرو ضرورت ددي: (۱) اجمالي معرفت ددوائرو. (۲) فوائده په دوائروکي، (۳) اقسام ددوائرو سره له صورتونونه.

۱ - اجمالي معرفت ددوائرو:

مراد پدي دائري سره داوي چه عروضيان يو دائره دهندسي جوړه کړي اوپه محيط د دائري باندي يو بحر وليکي، مثلا بحرطويل چه فُعُولُنْ مَفَاعِيلُنْ آه يې وزن دي، نو يوبحر خو ورباندي ليکل شوي وي، اودنورو هغوبحرونو چه دا دائره ورباندي مشتمله ده استخراج به ته وکړي په مراعات دقواعد دفن سره.

۲- فوائده د دوائرو: (۱) په دائره باندي ديو بحر پوره اجزاء ليکلي وي، نو چه کله ووېل شي مثلا چه دفلان بيت وزن په دائره کي دادي نو اشاره به وي وزن اصلي ته چه جزء اوشطر اووغيره پکي نوي. (۲) په دوائرو سره تمرين اوتدريب دمبتدي کيږي په تقطيع کي چه يو امر اهم دي، ديو بحر څخه استخراج دنور بحرونو اووزن مهمل مستعمل ته گرځول پکي وي. چه داسبب تمرن دمبتدي دي (۳): اهم فائده هغه ده چه ورته په رياض الناظره کي ورته اشاره شوي ده چه خليل اواتباعو دهغه به په سطحه د دائره کي وړي خاني جوړي کړي په اندازه داوتادو اواسبابو ديو جزء باندي. نو بحربه په دائره باندي په داسي طريقه ليکلي شو: چه دجزء سبب به په يوه اووتد په بله کي ليکلاي شو. نو پدي سره به مبتدي ته تمييز دسبب له وتد نه راغي، اوددي معرفت به ورته وشو چه يو جزء له کوموا اشياؤ څخه جوړ دي، مثلا فُعُولُنْ د فُعُو وتد مجموع اولُنْ سبب خفيف څخه

دريمه خبره تفصيل دصورتونو ددوائرواوطريقه داستخراج دبحرونو:



۱- **صورة ددائرمختلفی -**

وجه دتسميي دي تـه مختلفه وايې ځکه اجزاء يې مختلف دي ځني خماسي اوځني سباعي دي.

طريقه داستخراج دبحرونو: زدکړ داخبره چه په دغه دائره بحرطويل ليکل شوي دي اومديد اوبسيط ورنه راوزي، استخراج دطويل خو ظاهر دي چه لـه فَعُولُنْ نـه شروع وکړي او پـه محيط د دائري را وګرځي نو دامرتين بحر طويل شو،

اواستخراج دمديد پدي طريقه دي لکه له دائره کي مو اشاره کړي ده چه دفَعُولُنْ له لُنْ له سبب خفيف نه به شروع وکړي دا مبداء دمديد شوه. داسي به ووايې لُنْ مَفَاعِيْ لُنْ فَعُوْ لُنْ مَفَاعِيْ لُنْ فَعُوْ نقل به يې کړي وزن مستعمل تـه نو لُنْ مَفَاعِيْ وزن شو فَـاعِلَاتُنْ، اودلُـنْ فَعُوْ وزن شو فَاعِلُنْ نو فَاعِلَاتُنْ فَـاعِلُنْ فَـاعِلَاتُنْ فَـاعِلُنْ وزن دبحر مدِيد شو. طريقه داستخراج بسيط داسي ده: چه په مَفَاعِيلُنْ کي عِيْ لُنْ ځخه شروع وکړه دا مبداء دبسيط شوه او داسي ووايه: (عِيْلُنْ فَعُوْ لُنْ مَفَا عِيْ لُنْ فَعُوْ لُنْ مَفَا) نقل يې کړه وزن مستعمل ته: نو عِيْلُنْ فَعُوْ شو مُسْتَفْعِلُنْ، او لُنْ مَفَا فَـاعِلُنْ نوشو وزن دبحر بسيط چه: (مُسْتَفْعِلُنْ فَاعِلُنْ مُسْتَفْعِلُنْ فَاعِلُنْ) دي

۱ - **فائده:** پدي دائره کي دوه مهمل بحرونه هم شته چه عرب يې نه مستعملوي (۱): مستطيل: چه مقلوب د طويل دي. (۲) دويم ممتد چه مقلوب د مديد دي.


۲ - **فائده:** د دائرې په منځ کي دا واړه صفرونه علامه د متحرک حرف ده، او دا الفونه علامه د ساکن حرف ده

۲ - دائره مؤتلفه

وجه دتسميې: دي ته مؤتلفه وايي للايتلاف بيناجزائها

طريقه داستخراج دبحرونو: پدي دائره باندي بحر وافر ليکل شوي او استخراج د کامل ورنه کيږي، وافر خو ظاهره دي. د مَفَاعِلَتُنْ نه شروع وکړه نو مَفَاعِلَتُنْ مَفَاعِلَتُنْ مَفَـاعِلَتُنْ بحر وافر شو او استخراج د کامل داسي دي چه د علَـتُنْ نه شروع وکړه پدي طريقه باندي عِلَـتُنْ مَفَـا (مُتَفَاعِلُنْ) عِلَتُنْ مَفَا (مُتَفَاعِلُنْ) عِلَتُنْ مَفَا (مُتَفَاعِلُنْ) نو دا بحر کامل شو.

فائده: پدي دائره کي هم يو بحر مهمل شته چه متوفر ورته وايي: وزن يې: فَاعِلاَ تُکَ فَاعِلاَ تُکَ فَاعِلاَ تُکَ دي




۳ - **صورة ددائر مجتلبی**

وجه دتسميې: دي مجتلبه وايي ځکه اجزاء يې ټول مجتلب شوي له دائري مختلفي نه.

طریقه داستخراج دبحرونو: پد دائره باند بحر هزج لیکل شوي دي، چه د مَفَاعِیْلُنْ څخه شروع وکړي بس دا هزج شو، اورجز اورمل ورنه راوزي: رِجز پد طریقه: چه له عِیْلُنْ څخه شروع وکړه داسي ووایه: عِیْلُنْ مَفَا (مُسْتَفْعِلُنْ) عِیْلُنْ مَفَا (مُسْتَفْعِلُنْ) عِیْلُنْ مَفَا (مُسْتَفْعِلُنْ) دا رجز شو، اورمل پدي طریقه: چه په مَفَاعِیْلُنْ کي له لُنْ څخه شروع وکړه اوداسي ووایه: لَنْ مَفَا عِيْ (فَاعِلاَتُنْ) لَنْ مَفَا عِيْ (فَاعِلاَتُنْ) لَنْ مَفَا عِيْ (فَاعِلاَتُنْ) نو دوزن درمل شو:

۴- صورت د دائري مشتبهي: شکل: (۴)



ووجه دتسمیي: دي ته مشتبهه وایي ځکه چه بحرونه یي سره مشتبه دي

طریقه داستخراج دبحرونو: له دي ائري څخه استخراج دشپږو مستعملو بحرونو او ... کیږي، مونږ به مستعمل ذکر کړو صراحةً لپاره دسهولت نو په شپږو مستعملو کي د دریو بحرونو استخراج آسان دي: اول دسریع: چه له اول مُسْتَفْعِلُنْ څخه شروع وکړه اوداسي ووایه مستفعلن مستفعلن مفعولات بس داسریع شو اومنسرح پدي طریقه چه له دوهم مُسْتَفْعِلُنْ نه شروع وکړه داسي ووایه: مُسْتَفْعِلُنْ مَفْعُولاتُ مُسْتَفْعِلُنْ دامنسرح شو، اوپه مقتضب کي

له مفعُولاَتُ څخه شروع وکړه داسي ووايه مفعُولاَتُ مُستَفعلُنْ مُستَفعلُنْ نو دا مقتضب شو. دا دري خوظاهره دي. اود دريو نورو مستعملو بحرونو چه: خفيف. مضارع. اومجتث دي. داستخراج طريقه داسي ده، په بحر خفيف کي د دوهم مُستَفعلُنْ له تَفعلُنْ څخه شروع وکړه اوداسي ووايه: تَفعلُنْ مُفْ (فَاعلاَتُنْ) عُولاَتُ مُسْ (مُستفعِ لُنْ) تَفعلُنْ مُسْ (فَاعلاَتُنْ) نو داوزن دبحر خفيف شو. پدي کي مُستفعِ لُن ذو الوتد المفروق دي. اوبحرمضارع پدي طريقه: چه ددوهم مُستفعلُن له علُنْ (وتد مجموع) څخه شروع وکړه اوداسي ووايه: عِلُن مَفعُو(مَفَاعيلُنْ) لاَتُ مُستَفْ (فَاعِ لاَتُن) عِلُن مُستَفْ (مَفَاعيلُنْ) نو دابحر مضارع شو. پدي کي منخني جزء فَاعِ لاَتُنْ ذوالوتد المفروق دي. اواستخراج دبحر مجتث پدي طريقه دي. چه دمفعُولاتُ له عُولاَتُ څخه به شروع وکړي داسي به ووايي عُولاتُ مُس (مُستَفعِ لُن) تَفعلُنْ مُس (فَاعلاَتن) تَف علُنْ مُفْ (فَاعِلاَتــُـنْ) دابحرمضارع شو.

فائده: پدي دائره کي دري مهمل بحرونه هم شته: يومتئد چه فارسي کي ورته جديد وايي. اووزن يې دادي: فَاعلاَتــُـنْ فاعِلاَتــُـنْ مُستفعلُنْ، دوهم منسرد چه په فارسي کي ورته قريب وايي چه وزن يې دادي: مَفَاعِلُن مَفَاعِيلُن فَاعلاَتــُـنْ، دريم مطرد چه فارسي ورته مشاکل وايي. وزن يې دادي فَاعِلاَتــُـنْ مَفَاعلُنْ مَفَاعِيلُنْ،

پنځمه وجه دتسمي:

(۵) صورة ددائرى متفقى -



وجه دتسميه : ديته دائره متفقه ځکه وائى لاتفاق أجزائها، په دى دائرة باندى بحرمتقارب لکلى دى اومتدارك ورنه مستخرج کيږى اوددوأجزاء خماسى دى نوځکه ئى اجزاء متفق دى.

طريقه داستخراج-

بحرمتقارب خووباندى لکلى دى فعلون څلور کرته دى - نوداچه مرتين شى يعنى څلور کرته ورسره نورشى نوبحره متقارب شو.

استخراج دمتدارك :

دفعلون دسبب خَفيف نه په لُنْ دى شروکړه اوداسى اووايه.


لن فعو	لن فعو	لن فعو	لن فعو
فاعلن	فاعلن	فاعلن	فاعلن

اوداظاهره اواسانه دى - فتدبرلعلك لاتجد هذا التفصيل فى كتاب ماغيرهٰذا

طريقه يقه ډيره مفيدة ددوائرو :

مخکى مونږاشاره وکړه چه فائده مهمه په دوائروکى پيژندل دسبب وته فاصلى دى په اجزاء دبحرونوکى چه بياپه هغى سره دزحاف اوعلتونو ځاى معلوم شى ددى دپاره يوڅونورصورتونه ددوائروطالبانوته ليکو چه داډيرمفيد دى

(صورة مفيدة



صورة دمختلفه:

همغه دری بحرونه دی خوطریقه مفیده ده خکه استخراج پکی په خپله موجوددی

په دی دائره کی دری بحرونه دی دطویل شروع دفعولن نه شویده دمدید دلن نه شویده داسی لن مفاعلی الخ اوورسره لاندی په بل قوس کی دلن په مقابل فادسبب لاندی سبب اووتدلاندی وتدلیکلی شوی چه دمدیدا وزن ورنه راوتلی دی اوپه هم دی قیاس ورنه تول مدید را أوباسه.

اودبسیط شروع ، عیلن نه شوید - فخودعیلن سببان خفیفان جداجدا لکل شوی دی [عی] [لن] بیا لاندی په بل قوس ددی بحرعین وزن دی چه دعی په مقابل کی مسْ دلن په مقابل کی تف- اودفعُوْ- په مقابل کی علن) وقس علاهذا - ولاتعجل نودسبب په مقابل کی سببب دی اودوتد په مقابل کی وتد وقس علی هذا ولاتعجل

{البابُ الاوّل في الْقَاب الزِّحَاف والعِلَلِ}

دمتن ترجمه واضحه

شرحه: علامه دمنهور تقدير ددي عبارت داسي ذكر كړي دي: يَعْني في بَيَان الزحَاف والعلل واسمائهما. ځكه پدي باب كي لكه څرنگه چه بيان القابو ددوارو دي همداسي بيان دمفهوم ددوارو هم دي.

سؤال: دي امورو مذكوره ته القاب ويل صحيح ندي: ځكه چه القاب مختلفه دشي په يو بل صادقيږي او دلته داسي نده؛ ځكه خبن مثلا په طي نه صادقيږي او همداسي نور.

جواب: دلته عبارت په تقدير دمضاف سره دي. أيْ فِيْ القَاب انواع الزحاف. نو مقابله دجمع له جمع سره شوه پس انقسام داحادو به احادو ته وشي، نو دهر نوعي خپل لقب شو.

الزحاف: په كسره دزاء سره مصدر دزَاحَفَ دي لكه المزاحفة هم دي لغت كي په معنى د اسراع سره راځي په اصطلاح كي ما ذكره المصنفُ. وجه دتسميي: لانهُ اِذَا دَخَلَ الكلمةَ اَسْرَعَ النطْقُ بها بسبب نقص حروفها اوحركاتها

العلل:

علل جمع دعلة دي په لغت كي په معنى دمرض سره. په اصطلاح داهل عروض كي، مَا اِذَا عَرِضَ لَزِمَ: يعني هغه تغيير چه كله عارض شي يو جزء ته نو لازم شي. وجه دتسميي: لانهُ اذَا دَخَلَ الجُزْءَ اَمْرَضَهُ واَضْعَفَهُ فصَارَ كالرجل الضعيف العليل

الزِّحاف:

{ تغيير مُختصٌّ بثواني الأسباب مُطلقا بلا لزوم}

ترجمه: زحاف يو داسي تغيير اوتبديلي ده چه خاص وي داسبابو تر دوهم حرف پوري هر قسمه اسباب كوي، او داتغيير اوتبديلي لازمه نه گرځي

شرحه: (تغيير) تفعيل دي خو په معنى دتفعل سره دي ځكه چه تفعيل شي نو صفت دشخص دي، اوزحاف خو صفت دكلمي دي نو مُراد به تغير شي يا مصدر مبني للمفعول اي كون ثواني الاسباب مغيرة (حاشية كُبرى)

(مُختص بثواني الاسباب) با داخل په مقصور عليه ده، يعني دغه قسم تغيير خاص دي داسبابو تر دوهم حرف پوري، پدي سره احتراز وشو له هغه تغيير نه چه خاص تر ثواني اسباب پوري نوي، هغه بيا زحاف ندي بلكه علت به وي

(مطلقا) دا حال دي له اسباب نه يعني په حال كون داسباب كښي چه مطلق به وي. برابره خبره ده چه كه خفيف وي اوكه ثقيل وي ه حشوه كي وي اوكه په غير حشوه وي په خلاف دعلة باندي چه هغه په عَرُوض اوضرب كي راځي نه په حشوه كي

فائده: مُطلقة يي ونه ويل ځكه چه اسباب جمع تكثيره ده تاويل دجماعة اوجمع دواړه پكي جائز دي. (دمنهوري)

(بلالزوم) دا قيد دي دتغيير لپاره يعني داقسم تغيير چه زحاف دي پس ددخول نه په يو بيت كي لازم نه گرځي دخول دده په نورو ابياتو دقصيدهٔ كي په خلاف دعلت باندي : ځكه هغه چه راشي په يو بيت كي نو لازم وگرځي راتلل يي په نورو ابياتو دي قصيدي كي هم

سؤا ل: زحاف ولي خاص شو تر اسباب پوري؟

جواب: ځکه زحافونه ډیر راځي په اشعارو کي دعللو په نسبت همدارنګه اسباب هم ډیر اوجود لري له اوتادو نه، نو اختصاص داکثر تر اکثر پوري وشو، بیا خاص شو تر دوهم د سبب پوري؛ ځکه چه دوهم حرف دسبب محل دتغییر وي

{وَلاَيَدْخَلَ الأَوَّلَ وَالثَّالثَ وَالسَّادسَ منَ الجُزء}

ترجمه: اودازحاف نه داخلیږي په اول حرف دریم حرف اوشپږم حرف دیو جزء کي

شرحه: ماتن تعیین دمواضعو دزحاف کوي په اجزاؤ کي نو وايي چه زحاف دیو جزء په اول دریم او شپږم حرف کي نه راځي ځکه دادري واړه قسمه حروف په یو جزء کي ثوانیو الاسباب نه نوي

توضیح: اول حرف دجزء ثاني السبب نه وي؛ ځکه یو جزء به یا دوتد نه شروع وي، نو اول حرف یې اول الوتد شو، لکه په فَعُولُنْ یا مَفَاعِيلُنْ کي. اوه یو جزء د سبب نه شروع وي، نو اول حرف یې اول السبب شو نه ثاني السبب لکه فَاعِلُنْ یا مُسْتَفْعِلُنْ دریم حرف دجزء هم ثاني السبب نوي؛ ځکه دریم حرف یا اول السبب وي یا اول الوتد وي او یا ثالث الوتد وي مثلاً یو جزء داسي وُو چه په اول کي دوه سببونه لري لکه مُسْتَفعِلُنْ یا مَفْعُولاَتُ نو ظاهره ده چه دریم حرف به اول د سبب الثاني وي، لکه په اول تاء او په دوهم کي عَيْن. اوکه یوجزء داسي وي چه شروع یې دسبب نه شوي وي وروسي وتد وي نوظاهره ده چه دریم حرف به اول السبب وي.لکه فَاعِلُنْ کي عین دعِلُنْ اوپه فَاعِلاَتُنْ کي عَيْن دعلاَ. اوکه دیو جزء ابتداء له وتد نه شوي وي نو دریم حرف ددي جزء به ضرور ثالث الوتد وي لکه په فَعُولُنْ کي واو دفَعُو. یا په مَفَاعِيلُنْ کي الف دمَفَا. شپږم حرف دیو جزء هم ثاني السبب

نوي ځکه شپږم حرف یا اول السبب وي یا ثاني الوتد وي: وجه یې داده چه شپږم حرف خو په سباعي جزء کې راځي نو دسباعي جزء په آخر کې که سبب وي نو شپږم به ضرور اول السبب وي. اوکه په آخرکې یې وتد وو نو شپږم به ثاني الوتد وي مثلا مَفَاعِيلُنْ په آخر کې سبب دی چه لُنْ دیک اوشپږم حرف لام دلُنْ نو اول السبب شو. اود مُسْتَفعِلُنْ آخرکی علن وتد دی اوشپږم حرف لام - دعلن دی نوثاني الوتد شو

فائده: چه په اول، ثالث اوسادس حرف یوجزء کې زحاف نه راځي نو معلومه شوه چه نور څلور حروف امحله دزحاف دي چه ثاني، رابع، خامس، اوسابع دي ځکه دا محلونه ثواني الاسباب واقع کیږي

{فَالْمُفْرَدُ ثَمَانِيَّةٌ}

ترجمه: (زحاف په دوه قسمه دي مُفْرَد. اومُزْدَوِج) پس مفرد اته قسمونه دي

شرحه: (فالمفرد) فاء لپاره دتفریع دي په محذوف باندي تقدیر دعبارت داسي دي: وَهُوَ نَوعَانِ مُفْرَد ومُزدوج فَالمُفرد آه. مفرد هغه زحاف دي چه په محل واحد دیو جزء کي راغلي وي. اومزدوج یعني مرکب هغه دي چه دیو جزء په دوو محلینو کي راغلي وي

{الْخَبْنُ حَذْفُ ثَانِي الْجُزْءِ سَاكِنًا}

ترجمه: خبن حذف کول ددهم حرف دیو جزء دي چه ساکن وي

شرحه: اول قسم داقسامو دزحاف مفرد نه خبن دي، لغت کي جَمْعُ ذَيْل من امام الصدر لوَضع الشيء فيه. دلته په خبن اصطلاحي هم جمع دثالث اول ته وشي په حذف دثاني سره. مثال لکه خذف الف دفَاعِلُنْ نو فَعِلُنْ به شي یاحذف دسین دمُسْتَفْعِلُن نو مُتفعِلُن به شي. مَفَاعِلُنْ ته هم نقل کیداي شي. یاحذف دفاء د مَفْعُولَاتُ نو مَعُولَاتُ به شي نقل به شي مَفَاعِيلُ ته

فائده: هرجزء پس دتغيير راتلو نه پدي كي نقل كولاي شي داسي يو وزن ته چه احسن وي لفظا او اشهر وي استعمالاً.

{والإضْمَارُ إسْكَانُهُ مُتحَرِّكًا}

ترجمه: او اضمار ساكن كول ددوهم حرف دجزء دي چه متحرك وي.

شرحه: دادوهم قسم دزحاف مفرد دي لغت كي اخفاء ته وايي، دلته اخفاء الحرف وي په ازاله دحركت سره، مثال داضمار: لكه په مُتَفَاعِلُن كي چه تاء ساكنه شي مُتْفَاعِلُن به شي نقل به شي مُسْتَفعِلُن ته

فائده: اضمار خاص دي تر مُتَفَاعِلُن پوري؛ وجه يي داده چه دا په هغه جزء كي راځي چه په اول سبب ثقيل ولري ومَاهُوَ الا مُتفَاعِلُن.

{والوَقْصُ حَذْفُهُ مُتحَرِّكًا}

ترجمه: اووقص حذف كول ددوهم حرف دجزء دي چه متحرك وي.

شرحه: دريم قسم دزحاف مفرد دي. لغت كي كسر العنق(څټ) ته ويلي شي، دلته هم حذف دحرف ثاني شوي چه په منزله دعنق وي په كلمه كي. مثال دوقص لكه حذف دتاء دمُتَفَاعِلُن نومُفَاعِلُن به پاتي شي، وقص هم خاص دي تر مُتفَاعِلُن پوري

{وَالطَّيُّ حَذْفُ رَابعه سَاكنًا}

ترجمه: اوطي حذف كول دڅلورم حرف دجزء دي چه ساكن وي

شرحه: دا څلورم قسم دزحاف مفرد دي په لغت كي لَف الشيء وجَمْع بعضه الى بعض. دلته هم جمع دهغو حروف ده چه پس له حرف رابع نوي ماقبل ته پس له حذف درابع نه. مثال دطي لكه حذف دفاء مُستَفعِلُن مجموع الوتد نو شي به مُستَعِلُن، بيا به يي نقل كړي مُفتَعِلُن ته

{والقَبْضُ حَذْفُ خَامِسهِ سَاكِنًا}

ترجمه: اوقبض حذف کول دپنځم حرف دجزء دي چه ساکن وي.

شرحه: داپنځم قسم دزحاف مفرد دي په لغت ضد البسط ته ويلي شي، اودلته په قبض اصطلاحي کي هم چه کله حذف دخامس وشي نو انقباض راشي په صوت پس له انبساط نه، مثال دقبض: لکه حذف دنون دفَعُولُنْ نوفَعُولُ به پاتي شي، يا حذف دياء دمَفَاعِيلُن نومَفَاعِلُنْ به شي.

فائده: قبض په همدي دوو جزئينو کي راځي. قياس تقاضا کوي چه په فَاعِ لَاتُن مفروق الوتد کي دي هم راشي. لــکنه لم يَرد «دمنهُوري».

{وَالْعَصْبُ إِسْكَانهُ}

ترجمه: اوعصب ساکن کول دپنځم حرف دي.

شرحه: داشپږم قسم دزحاف مفرد دي. په لغت کي منع ته وايي دلته هم په اسکان خامس سره منع دده راغله له حرکت نه. مثال دعَصْب، لکه ساکن کول لام مَفَاعِلَتُن نومَفَاعِلْتن به شي، اوبيا به نقل شي مَفَاعِيلْنْ ته.

فائده: عصب خاص دي ترمَفَاعلتن پوري.

{وَالْعَقْلُ حَذْفُهُ مُتَحَرِّكًا}

ترجمه: اوعقل حذف دپنځم حرف دي چه متحرک وي.

شرحه: دا اوم قسم دزحاف مفرد دي، په لغت کي په معنی دي منع سره دي. دلته هم منع دحرف خامس ده. مثال دعقل: لکه حذف دلام مَفَاعلتُن. نو مَفَاعَتُن به شي نقل به يي کړي مَفَاعِلُنْ ته، عقل هم تر مَفَاعلتُن پوري خاص دي.

{وَالْكَفُّ حَذْفُ سَابِعه سَاكِنًا}

ترجمه: اول کف حذف کول داوم حرف ديو جزء دي چه ساکن وي.

شرحه: داتم قسم دزحاف مفرد شو . لغت كي منع ته وايي اودلته هم په كف سره منعه دحرف محذوف ده، مثال دكف لكه حذف دنون مَفَاعِيلُنْ يا نُون دفَاعلاَتُن يانُون دمُسْتفعِ لُنْ مفروق الوتد.

تنبيه: نون دمُستفعِلُنْ مجموع الوتد نشي كيداي په كف سره؛ ځكه چه هغه ثالث دوتد دي. والزحافُ في ثَواني الاسباب.

{وَالْمُزْدَوِجُ أَرْبَعَةٌ}

ترجمه: اومركب زحاف څلور قسمه دي.

شرحه: المزدوج صفت دموصوف محذوف لپاره دي أيْ الزحَافُ المُزْدَوجُ، صيغة داسم فاعل ته له افتعال نه، اصل يې مزتوج دي په معنى دمركب سره، دلته په عروضو كي زحاف مزدوج هغه ته وايي چه دیو جز په دوو ځايونو كي راغلي وي، نو كه يوزحاف په يو جزكي وي اوبل په بل جزكي وي نو دا زدواج نه دي..

{الطَيُّ مَعَ الْخَبْنِ خَبْلٌ}

ترجمه: طي سره له خبن نه خبل دي.

شرحه: طي څلورم ساكن ديوجزء حذف كول دي دا چه يو ځاي شي له خبن سره چه دوهم ساكن حذف كول دي. دي ته خبل وايي. لغت كي فساد الاعضاء ته ويلي شي، نو معنى اصطلاحي ورسره مشابه كړاي شوه، مثال دخبل: لكه حذف دسين مُسْتفعلُنْ بالخبن. اودفاء ددي جزء بالطي، نو مُتَعِلُنْ به شي، نقل به شي فَعَلَتُنْ ته

{وَهُوَ مَعَ الإضْمَارِ خَزْلٌ}

ترجمه: اوطي سره له اضمار نه خزل دي.

شرحه: دادوهم قسم دزحاف مزدوج دي چه په طي سره ساکن رابع حذف شي اوپه اضمارسره متحرک ثاني ساکن شي دي تع خزل وايي. لغت کي قطع السنام ته ويلي شي، تشبيه دمعنى اصطلاحي ورسره شوي دي مثال دخزل: لکه تاء دي مُتَفَاعِلُنْ ساکنه شي اوالف رابع حذف شي نو داخزل شو. پاتي به شي مُتْفَعِلُنْ نقل به شي مُفْتَعِلُنْ، خزل خاص دي تر مُتَفَاعِلُنْ پوري

{وَالْكَفُّ مَعَ الْخَبْنِ شَكْلٌ}

ترجمه: اوکف سره له خبن نه دا شکل دي.

شرحه: دادريم قسم دزحاف مزدوج دي، چه په کف سره حذف دساکن رابع وشي اوپه خبن سره دساکن ثاني، نو دا شکل شو. لغت کي د«شَكَلْتُ الدابَّةَ» په معنى د«قَيدتُهَا بشَدِّ القَوَائم الاربع» دلته هم منع دامتداد اوانطلاق دصوت ده، مثال دشکل: لکه حذف دالف اول دفَاعِلاَتُنْ بالخبن اونون ساکن په بالکف، نو فَعِلاَتُ به شي.

{وَهُوَمَعَ الْعَصْبِ نَقْصٌ}

ترجمه: اودا کف سره له عصب سره نقص دي

شرحه: داځلورم قسم دزحاف مزدوج دي چه په کف سره ساکن سابع حذف شي اوپه عصب سره متحرک خامس ساکن شي نو دانقص شو. معنى لغوي اووجه دتسمیي ظاهره ده. مثال: لکه دمُفَاعَلَتُنْ لام ساکن شي بالعصب اونون سابع حذف شي بالکف نومُفَاعِلْتُ نقل به شي مَفَاعِيلُ نه نقص خاص دي تر مُفَاعَلَتُنْ پوري

{فائدة مُهمه په معرفت دالفاظ ثلاثو کي}

{مُرَاقَبَة، مُعَاقَبَة، اومُكَانَفَة}

اول: مُراقبة عبارت دي له مجاورت دسببينو خفيفينو نه په جزء واحد كي فقط پدي شان سره چه زحاف په احدهما كي اوسلامتيا دآخر ضروري وي، يعني دواړه سببان به سالم هم نه پاتي كيږي اودواړه به مزاحف هم نه گرځيږي، بلكه احدهما سالم اوآخر مزاحف ضروري دي مثال لكه مَفَاعِيلُنْ په بحر مضارع كي چه په صدر ياپه ابتداء كي راشي، نويابه پكي قبض كوي اويا به كف كوي، نويا مَفَاعِلُنْ، اويا مَفَاعِيلُ ويل واجب دي.

دوهم: مُعَاقَبة: عبارت دي له مجاورت دي سببينو خفيفينو نه پدي شان سره چه سسلامتيا ددواړو هم جائز وي اوزحاف په احدهما اوسلامتيا دآخر هم جائزوي، البتة په دواړو كي زحاف ندي جائز، يعني رفعه دزحافونو جائز دي خو جمع يې ندي جائز، په خلاف دمراقبي چه هلته نه رفعه دزحافينو جائز دي اونه هم جمع. دومره ياد ساتل پكار دي چه معاقبه په جزء واحد كي هم راځي او په جزئينو كي هم په خلاف دمراقبي اومكانفي چه دواړه په جزء واحد كي وي.

مثال دمعاقبي په جزء واحد كي: لكه مُفَاعِيلُنْ په بحر طويل كي يا هزج كي چه دلته عِيْ او لُنْ ددوو سببينو مجاورت دي په دواړو كي زحاف جمع كول ندي جائز چه ياء حذف شي بالقبض، اونون حذف شي بالكف. بلكه كه يو ساقط شو نو بل به سالم وي ضرورة، البته سلامتيا ددواړو جائز دي.

مثال دمعاقبي په جزئينو كي: لكه فَاعلاتُنْ فَاعِلُنْ دبحرمديد چه دلته مجاورت د تُنْ دفَاعلاتُنْ اود فَا د فَاعِلُنْ دي، نو ددوي تر معاقبه ده، نوكه نون دفَاعِلاتُنْ دحذف كړو بالكف نو الف دفَاعِلُنْ به سالم وي د خبن نه، اوكه الف دفَاعِلُنْ دحذف كړو بالخبن نو نون دفَاعلاتن به سالم وي له كف نه، البتة ددواړو سلامتيا هم جائز ده.

دريم. مكانفه عبارت دي دمجاورت دسببينو خفيفينو نه په جزء واحد کي فقط پد يشان سره چه سلامتيا ددوارو هم جائز وي، زحاف په دوارو کي هم جائز وي اوسلامتيا داحدهما اوزحاف په آخر کي هم جائز وي. مثال دمكانفي: لكه مُستَفعِلُن په بحربسيط اورجز کي.

{وَالعِلَلُ زِيَادَةٌ}

ترجمه: اوعلتونه يا په زيادت سره وي په يو جزء باندي

شرحه: علل جمع دعلت ده، معنى لغوي او اصطلاحي يې ذكر شوي ده.

سؤال: مصنف دزحاف تعريف ذكر کړو نو پكار دا وه چه دعلت تعريف يې هم ذكر کړاي واي؟

جواب: مصنف اكتفاء وکړه په تعريف دزحاف سره ځکه ده چه کله په تعريف دزحاف کي ذكر کړه چه (هُوَ تغيير مختص آه) نو ددي نه معلومه شوه چه علت تغيير دي غير مختص بثواني الاسباب او واقع دي په عروض اوضرب کي فقط، اولازم دي. فتفكر.

فائد ة: علت اولا پخپل كور کي په دوه قسمه دي علة بالزيادة. اوعلة بالنقصان. دزيادة دري قسمونه، اودنقصان نهه قسمونه مصنف ذكر کړي دي.

{فَزِيَادَةُ سبب خفيف عَلى مَا آخِرُه وَتِدٌ مَجمُوعٌ تَرْفِيلٌ}

ترجمه: پس زيادة دسبب خفيف په هغه جزء باندي چه په آخر دهغي کي وتد مجموع وي دا ترفيل دي

شرحه: داقسم اول دعلة الزيادة دي. په لغت کي اطالة الثوب ته ويلي شي. دغه زيادة ورسره مشابه کړاي شو. ځکه چه دا اكثر دزيادتونو دي په يو جزء کي. مثال: لكه په مُتَفَاعِلُن کي دعِلُن نه روسته سبب خفيف زيات کړي نو مُتَفَاعِلُتُن به شي نقل به شي مُتَفَاعِلاتُن.

{وَحرْفِ ساكنِ على ما آخرُه وَتدٌ مجموع تذْييلٌ}

ترجمه: اوحرف ساكن زياتول په هغه جزء باندي چه په آخر دهغي كي وتد مجموع وي داتذييل دي.

شرحه: دادوهم قسم دي علة الزيادة دي چه اذالة ورته هم وايي. په لغت كي ديو شي لپاره لمن جوړول دغه زيادة مذكوره ورسره مشابه كړاي شوي دي.

مثال: لكه دمُتَفَاعِلُنْ په آخر كي نون ساكن زيات شي.نومُتَفَاعِلُنْنْ به شي نقل به يې كړي مُتَفَاعِلَانْ ته

{وعلى ماآخرهُ سببٌ خفيفٌ تسْبِيْغٌ}

ترجمه: اوحرف ساكن زياتول په هغه جزء باندي چه په آخير كي يې سبب خفيف وي دا تسبيغ دي

شرحه: دادريم قسم دعلة الزيادة دي، اسباغ ورته هم ويلي شي. لغت كي په معنى داَسبَغَ الثوبَ اذَ اَطالَهُ. واَسبَغَ الوُضُوءَ اذَا اَتمهُ. دغه قسم زيادة ورسره مشابه شوي دي. مثال: لكه دفَاعِلاتُنْ په آخر كي نون ساكن زيات كړي، نوفَاعِلاتُنْنْ به شي، نقل به شي فَاعِلاتَانْ ته

{وَنَقْصٌ}

ترجمه: اوعلتونه يا كمي كول وي ديو جزء نه.

شرحه: ونقص كي واو لپاره دعطف دي په زيادة باندي. تقدير دعبارت داسي دي وَالعِلَلُ زِيَادَة وَنَقْص،

{فَذِهَابُ سبب خفيف حَذْفٌ}

ترجمه: پس ساقطيدل دسبب خفيف دآخر نه دا حذف دي، مثال: لكه دمَفَاعِيلُنْ نه لُنْ لري شي. نو مَفَاعِيْ به شي، نقل به شي فَعُولُنْ ته يالكه دفَاعِلاَتُنْ نه تُنْ لري شي. نوفَاعِلاَ به پاتي شي. نقل به شي فَاعِلُنْ ته.

{وَهُوَ مَعَ العَصْبِ قَطْفٌ}

ترجمه: اوداحذف سره له عصب نه قطف دي

شرحه: ديو جزء له آخر نه په حذف سره چه علت دي سبب خفيف لري اوپنځم متحرک حرف يې ساکن کړي چه عصب ورته وايي، اوزحاف دي نو دمجموعه نوم قطف دي، لغت کې(قَطعُ الثمَرَة) ته ويلي شي. مثال يې لکه دمَفَاعلَـتُنْ له آخر څخه تُنْ لري شي بالحذف اولام ساکن شي بالعصب نو دا قطف شو، او مَفَاعِلْ به پاتي شي. نقل به شي فَعُولُنْ ته، قطف خاص دي ترمُفَاعلَتـُنْ پوري، او په بحر وافر کي راځي.

{وَحَذْفُ ساكنِ الْوَتَدِ الْمَجمُوعِ و إِسْكانُ مَاقَبْلَهُ قَطْعٌ}

ترجمه: اوحذف کول دساکن دوتد مجموع، اوساکن کول دهغه حرف چه مخکي دي لدي ساکن څخه داقطع ده.

شرحه: په يو جزء کي وتد مجموع راغلي وي نوته ورنه حرف ساکن چه دريم دوتد مجموع دي حذف کړي، اومخکي حرف چه دوهم دوتد مجموع دي هغه ساکن کړي دي ته قطع ويلي شي. معنى لغوي يې ظاهره ده. مثال: لکه دمُستَـفعِلُنْ دعلُنْ څخه نون حذف اولام ساکن کړي، نو مُستَـفعِلْ به شي، نقل به يې کړي مَفعُولُنْ ته يا په فَاعِلُنْ کي نون حذف اولام ساکن کړي، نو فَاعِلْ به شي، نقل به شي فَـعْـلُنْ ته.

{وهُوَ معَ الحذْفِ بَتْرٌ}

ترجمه: اوداقطع سره له حذف نه بتر دي

شرحه: يعني په يو جزء کي قطع هم راشي لکه چه ذکر شو، اوددي نه مخکي حذف هم وکړي چه دآخير نه سبب خفيف لري کړي. نودامجموعه بتر شو. لغت کي قطع الذنب ته ويلي شي. مثال: دفَاعلاتـُنْ څخه تُنْ په حذف لري

کړي نو فَاعِلا به شي بيا دعِلا چه وتدمجموع دي الف حذف کړي او لام يې ساکن کړئ، نو فَاعِلْ به شي، نقل به شي فَعْـلُنْ ته

{وحَذْفُ سَاكِنِ السَّببِ و إسْكَانُ مُتحرِّكه قَصْرٌ}

ترجمه: اوحذف کول دساکن دسبب خفيف اوساکن کول دمتحرک ددي سبب داقصر دي.

شرحه: يعني ديوجزء په آخر کي سبب خفيف وي نو ساکن يې حذف کړي، اومتحرک يې چه اول دسبب دي ساکن کړي دي ته قصرويلي شي، لغت کي منع ته وايي، مثال: لکه حذف کول دنون دآخر دمَفَاعِلُنْ څخه اوساکن کول دلام ددي، نو مَفَاعِيلْ به شي. يا دفَعُولُنْ نون حذف کول اولام ساکن کول چه فَعُولْ به شي.

{وَحَذْفُ وَتَدِ مَجْمُوعٍ حَذَذٌ}

ترجمه: او حذف کول دټول وتدمجموع حذذ دي.

شرحه: ديو جزء دآخر نه وتد مجموع ټول حذف کړي دي ته حذذ ويلي شي لغة په معنى دقطع سره دي مثال: لکه دمُتَفَاعِلُنْ څخه عِلُنْ حذف کړي، نومُتَفَا به پاتي شي نقل به شي فَعَلُنْ ته.

{وَمفرُوق صَلْمٌ}

ترجمه: اوحذف کول دټول وتد مفروق صلم دي.

شرحه: لغت کي قطع الاذن ته ويلي شي مثال لکه حذف د لاَتُ دمَفْعُولاتُ څخه نو مَفْعُوْ به شي بيا به نقل شي فَعْلُنْ ته. صلم خاص تر همدي جزء پوري.

{و إسْكَان السَّابِع الْمُتَحَرِّك وَقْفٌ}

ترجمه: اوساکن کول داوم متحرک حرف وقف دي.

شرحه: معنی لغوي یې ظاهره ده، داهم خاص دي تر مَفعُولاَتُ پوري چه تاء یې ساکنه کړاي شي، نو مَفعُولاتْ، نقل به شي مَفعُولاَنْ ته

{وحَذْفُهُ کَسْفٌ}

ترجمه: او حذف کول داوم متحرک کسف دي

شرحه: لغت کي قطع ته وایې، داهم خاص تر مَفعُولاَتُ پوري، چه تاء سابعه تري حذفه کړي، نو مَفعُولاً به شي نقل به شي مَفعُولُنْ ته

فائدة :- داروستني دری (٣) علتونه صلم دوقف – کسف- خاص دی ترمفعولاتُ پوری ددی وجه نه صرف په بحرسریع اومنسرح کی راځی

تنبیه: مصنف په عللو کي خَزْم چه زیادة دي او تَشْعِیْث اوخَرَم باقسامه چه دادواړه دعلل النقصان څخه دي ذکر نکړل: ځکه چه دا جاري دي په مجری دزحاف باندي په عدم لزوم کي اودده کلام دلته په عللو لازمو کي دي ددي امور تفصیل دادي

خَزم: زیادة دي دیو حرف نه تر څلورو پوري په اول دبیت کي. یا یو حرف او دوه په اول دعجز (مصراع ثاني) کي.

تشعیث: حذف دیودمتحرکینو د وتد مجموع دي په فَاعِلاتُنْ کي، نو فَاعَاتُنْ یا فَالاَتُـنْ به شي نقل به شي مَفعُولُنْ ته

خَرم: حذف داول دوتد مجموع دي داول دبیت نه. لکه حذف دفَا دفَعُولُنْ په بحر طویل کي، نوعُولُنْ به شي، نقل به شي فعْلُنْ ته

اقسام دخرم:

ثلم که دا جزء بغیردخرم څخه سالم پاتي وي دبل تغییر نه

١- ثلم که داجزاء په غیردحزم نه سالم پاتی وي دبل تغیرځنی

۲- ثرم داحذف داول دوترمجموع دی داول دبیت نه سره دقبض ددی جزء نه یعنی دفعولن فاء په حزم لوی شی اونون ئیی په قبض حذف شی نوعول به پاتی شی نقل به شی فَعْلُ ته .

۳- شتر- اجتماعی دخرم اوقبض ده به مفاعیلن کی نوفاعلن به شی

۴- خَرَب- اجتماع دخرم اوکف ده په مفاعلن کی نوفاعیل به شی نقل به شی مفعولُ ته

۵- العضب:حذف دمیم دمفاعلتن دی داول دبیت نه نوفاعلتن به شی .

۶- قصم - اجتماع دخورم اوعصب ده په مفاعلتن کی نوفاعلتن به شی میم به حذف شی باخرم اولام به ساکن شی باعلصب بیابهن نقل شی مفعولن ته

۷- جمَم - اجتماع دخرم اوعصب ده به مفاعلتن کی نوفاعلتن به شی میم به حذف شی بالخرم اولام به ساکن شی باعصب بیابه نقل شی مفعولن ته .

۸- عقص = اجتماع دخرم اوعصب اوکف دری وادوده په مفاعلتن کی میم اوداخرنون به حذف شی په خرم اوکف باندی اولام به ساکن شی بالعصب نوفاعلت به شی نقل به شی مفعول ته .

« الباب الثانی فی اسماء البحوروا عاریضها واضربها »

ترجمه: دوهم باب په بیان دبحرونو او اسماء وددی او په بیان داعاریضو اوضربونو ددی بحرونو کی دی

توضیح: ددی نه روسته مصنف تفصیل دربحرونوت کوی دهربحروزن اجزاء به ذکرکوی.

دهربحردپاره چه کوم عروض وی او څمره ضربونه عربو استعمال کړی وی اشعاروکی دهغی تعین به کوی علامه منهوری وائي چه مقصود بالذات دفن عروض هغه دباب دی اوماقبل ورته وسیله

بحور جمع دبحرده ددی متعلق لغوا و اصلاحی خبزه ذکرشوره.

اعاریض جمع دهی دعروض په فتح دعین علی خلاف القیاس قیاس ئیی عُرُض دی

لکه ذلول اوذُلُل لکن دلته عُرُض جمع نه ده مسموع.

په اصطلاح داهل عروض کی جزاء اخیر دشطر اول دبیت ته ویلیی شی اضرب جمع ضرب ده جزء آخروشطرثانی اومصراع ثانی دبیت ته ویلی شی.

الاول الطویل

ترجمه او شرح: اول بحردشپاړسو بحرونو څنی بحرطویل دی ،دلته به دوائرمنظم کو،

۱۰ال: په دی بحرونو کی بحرطویل ولی مقدم کړو.

۲: څکه دااتم دبحرونو دی په استعمال کی څکه په دی کی جزء راونهک نه راځی بل ددی وجی نه چه عرب دبحرډیرزیات

استعمالوی په خپلواشعارواوقصائدوکی لغة کی طویل ضدقصیر دی اصطلاح کی ، البحرمن الشعرالمبنی من الاوزان الایته حاشیه کبری
وجه دتسمیه ظاهره ده ځکه دااتم دی په استعمال کی کما ذکرنا

واجزائه فعولن مفاعیلن فعول ن مفاعیلن مرتین

وعروضه واحدة مقبوضه واضربها ثلاثة.

ترجمه اوشرح: ددي بحر اجزاء اوارکان فعولن مفاعیلن فعولن مفاعیلن دوه کرته دی یعنی یوه مصراع دبیت به هم دغه مذکوراجزاء وی اوبله مصراهم ددی بحر دپاره یوعروض دی چه مقبوض دي یعنی دمفاعیلن په ځای مفاعلن دی یاء حذف شوی په قبض اوددي بحر دپاره دری ضربونه استعمال شوی دی.

فائده: عروض لفظ دوی مؤنث استعمالوی اوضرب مذکر نوپه کوم ځای کی مؤنث ضمیروی هغه به عروض ته راجع وی اودمذکربه ضرب ته راجع وی

فائده: ۲ - دبحرطویل عروض کی داواجبه ده چه مقبوض وی یعنی مفاعیلن په ځای مفاعلن وی مگرپه وخت دتصریع کی صحیح هم راځی اوتصریع ویلی شی گرځول دعروض دیوبیت په شان دضرب باندی اوپه وزن اوقافیه کی (کماسیأتي)

تنبیه: زمونږه طریقه به داوی په بیان دبحرونوکی اوپه ذکردأمثله ؤکی چه دشاهد دپاره کوم بیت مصنف ذکرکوی هغه به ذکرکوو دمتن سره په اصل خط باندی بیادادری امورپکی ضروری وی اول تقطیع اوپه تقطیع که به بیت په خط عروضي که لیکلی شی یعنی

بیت به دوزن موافق تکړکوو اولیکوبه ئی دپاره دپوهیدلو دطالبانو اوپه آخر دبحر کی به بعض ضروری فوائد دهغه بحر متعلق لیکو

الاول صحیح

وبیته: أبامنذرکانت غرورا صحیفتی غروراصحیفتی .. ولم أعطکم بالطوع مالی ولاعرض

تقطیع داسی ده

أبامن	ذرن کانت	غرورن	صحیفتی	ولمأع	طکم ب طو	ع مالی	ولاعرضی
فعولن	مفاعیلن	فعولن	مفاعلن	فعولن	مفاعیلن	فعولن	مفاعیلن

تعین دعروض اوضرب په دی بیت مذکوره کی صحیفتی عروض دی مقبوض وزن ئی مفاعلن شو اواص ۲ل وزن ئی مفاعیلن وُنویا، حذف شویده بالقبض او ،ولاعرض، ضرب دی صحیح وزن ئی مفاعیلن دی اوهم داوزن په دائرة کی هم دی

شرح اوترجمه دبیت دابیت دطرفه دی أبامنذرمنادی ده اوغروا خبر مقدم دکانت دی اوصحیفتی اسم مؤخر صحیفة نه مراد عهد اووثیقه ده ، معنی داشوه ای ابومنذرخما وثیقه اوعهد ستالوټ کول دی اومادرنه کړوتاسوته په خوښه نه خپل مال اونه آبرو اوعزت

الثالث مثلها

وبیته: ستبدی لک الأیام ماکنت جاهلا *ویأتیک بالاخبار من لم تزو د

شرح دوهم ضرب دضربوثلاثو بحرطویل نه په شان دعروض مقبوض دی اوشاهدئی دغه مذکوربیت دی

تقطیع :

سَتُبْدی	لکَ لْاَیا	مُ ماکنْ	ت جَاهلا
فعو لن	مفاعیلن	فعولن	مفاعلن
وَیأتِیِ	کَ بالاخْبا	رِمَنْ لَمْ	تزوْودی
فعولن	مفا عیلن	فعولن	مفاعیلن

تعین دعروض اوضرب : تجاهلا عروض دی مقبوض په وزن دمفاعلن اوتزودی ضرب داهم مقبوض دی په وزن دمفاعلن یاء حذف شویده دمفاعیلن نه بالقبض.

شرح اوترجمه دبیت مذکور: دابیت هم دطرفه دی په سبعه معلقه کی دی ، معنی ئی داده. زرده چه زما نه به تاته راظاهر کړی هغه څه چه ته پری نه وی خبر(اوراپه وړی تاته خبرونه هغه څوک چه تاورله خرچه ددخبرراوړلونه وه ورکړی)

الثالث محذوف وبیته:

أقیموا بنی النعمان عناصدورکم * والاتقیمواصاغرین الرؤسا

شرح : دریم ضرب دبحرطویل محذوف دی یعنی فعولن دی ځکه چه مفاعیلن دآخرنه سبب خفیف چه لن دی لری شوی دی باحذف نومفاعی شو بیا نقل شوفعولن ته اوشاهدئی دابیت مذکوردی

تقطیع داسی ده:

أقیموا	بنی النعما	نعنَا	صدورکم
فعولن	مفاعیلن	فعولن	مفاعلن
وَالّلا	تقیموصا	غرینَ الو	رؤوسا
فعولن	مفاعیلن	فعولن	فعولن

تعین دعروض اوضرب: په بیت مذکوره کی صدورکم عروض مقبوض دی بروزن مفاعلن اورؤسا ضرب محذوف دی په وزن دفعولن.

ترجمه دبیت: لرګړی اووګرځوی زمونږنه سینی ستاسویعنی زمونږه مقابلی ته مه راځی)

(اوکه نه نو وبه ګرځی چه سرونه به موذلیل وی)

فوائدضروریه نافعه په بحرطویل کی.

فائده: ۱- مصنف دبحرطویل دپاره یوعروض ذکرکړوچه مقبوض دی دامشهور اومختار دی بعضوورته یوبل عروض چه محذوف دی ذکرکړیدی تفصیل ئی محیط الدائره کی دی.

فائده: ۲- په دی بحرکی دجزء فعولن قبض جائزدی هرخای کی چه وی نودفعولن په خای فعول ویلی شی اوهمدافعولن چه اول دبیت کی وی نوثلم ئی جائز دی چه عولن به شی اوفعلن ته به نقل شی اوثرم ئی هم چایزدی چه خرم اوقبض پکی جمع شی نوعول به شی بیابه نقل شی فَعْلُ ته.

فائده: ۴- په شرح جامی کی دابیت أعدذکرنعمانِ لنا ان ذکره هو المسک ماکررته یتضوّع

داهم په دی بحرطویل دی ددی بیت تقطیع اومحمل داشتهاد طالبانوروبوته ذکرکوو

تقطیع ئی په دی طریقه ده :

أعدذک	رُنُعمانِنْ	لناانْ	نَ ذِکْرَهُو
فعولن	مفاعیلن	فعولن	مفاعلن
هُوَلِمس	کُ ماکررر	هَوي	تضوْعو
فعولن	مفاعیلن	فعولُ	مفاعلن

په دی بیت کی ن ذکره عروض دی په اشباع د دضمی دضمیرسره وزن ئی مفاعلن دی مقبوض اوتضوع په اشباع دضمی دعین سره ضرب دی مقبوض یعنی قسم ثانی دبحرطویل دی چه عروض اوضرب دواړه مقبوض دی اوپه حشوکی قبض په ته ي کی راغی چه دفعولن په ځای وزن فعول گرځیدلی دی .

محل دشاهد - رنعمانٍ دی وزن ئی مفاعیلن دی خوسره دتنوین چه معتبرشی اوکه تنوین دمنع صرفی دوجی لری کړی ونووزن به ئی مفاعیل شی ځکه أعدذکر فعولن شو اورنعمان په غیردتنوین نه به مفاعیل شی نو کف به پکی راشی چه حذف دسابع ساکن دی اوتنوین خوپه عروضو کی مستقل ساکن حرف دی نو دده په لری کولو سره به کف لازم شی په دی جزء کی نوپه دی سره دشعروزن اگرکه نه فاسدیږی ځکه کف زحاف دی اوجائزدی اومونږذکرکړه ؛ه په طریقه دصعاقبه قبض اوکف جایزدی په مفاعیلن کی خوشعد دسلاسة اونرمی نه اوباسی اوداپه ذوق سلیم معلومیږی نوعلی قدرالامکان ورنه احتراز په کاردی

فائده : **۵**- بحرطویل خاص دی شعرعربی پوری ددی نه په غیرنه استعمالیږی (الا نادرا)

فائده : **۶**- مونږمخکی ذکرکړه چه بحرطویل عرب په اشعاروکی ډیراستعمالوی مثال په طور په سبعه معلقه کی اوله معلقه دامرئ القیس دوهمه دطرفه دریمه دزهیردادرئ واړه په بحرطویل دی همداسی نورهم زیات استعمالیږی .

فائده :۷- دشرجامی شعر – سلام علی خیرالانام وسید **
حبیب اله العالمین محمد
داهم بحرطویل دی .تقطیع داسی ده :

سلامُنْ	علی حیزلْ	أنامِ	وَسیْدِی
فعولن	مفاعیلن	فعولن	مفاعلن
حبیب	اله العَا	لَمینَ	مُحَمْدی
فعولُ	مفاعیلن	فعول	مفاعلن

وسید ی عروض مقبوض دی اومحمدضرب مقبوض دی نوقسم ثانی دبحرطویل دی اوپه حشوه کی هم په فعولن څوځایه قبض دی فعول ویلی شی

لطیفه : دلته چه په دوهم بیت کی باحمدکی کومه منع صرف جزه ده هغه په قوافی کی ذکرکو انشاء الله .

فائده : په کافیه کی ذاشعردامرئ القیس

ولوانما اسعی لادنی معیشة ** کفانی ولم اطلب قلیل من المال

داهم بحرطویل دی .

او تقطیع داسی ده

ولوأنْ	نماأسعی	لأدنی	معیشَتِنْ
فعولن	مفاعیلن	فعولن	مفاعلن
کفانی	وَلَم اطْلُبْ	قَلیْلُنْ	منَ الْمالی
فعولن	مفاعیلن	فعولن	مفاعیلن

په دی کی معیشة عروض مقبوض دی اومن المالی ضرب صحیح دی نوقمس اول دبحرطویل دی .

الثانی المدیدوأجزائه فاعلاتن فاعلن ابع مرات مجزوء وجوبا واعارضه ثلاثة وأ ضربه ستةٌ

ترجمه : دوهم بحرمدیددی اجزاء اوارکان ددی فاعلاتن فاعلن څلورکرته دی دابحرمجزوؤ دی وجوبادری عرو ضلری اوشپږضربونه .

شرح : دوهم بحردشپاړسوبحرونو نه بحرمدیددی دیته مدید وائی لامتداد سباعییه حول خماسییه وخماسییه حول سبا عییه ددی بحراجزاء فاعلاتن فاعلن څلورکرته یعنی یومصراع ددی به فاعلاتن فاعلن فاعلاتن فاعلن وی اوبله مصراع هم نوتفصیلابه مثمن شی مجزووجوبا یعنی ددی بحرکی جزء واجبه ده جزء ویلی شی دیته چه ددواړوشطرینو اومصرا عینو څنی یویوجزء لری شی نویومصراع به فاعلاتن فاعلن فاعلاتن شی اوبله هم نوددواړونه به فاعلن فاعلن لری اوحذف اشی .

سوال: دمجزووجوبا خودامعنی شوه چه تام نه استعمالیږی نوداول نه داسی ویل په کارږ چه اجزاء ددی فاعلاتن فاعلن فاعلاتن مرتین یعنی مسدس الاصل دی.

جواب: ۱- جزء پکی واجبه ده خوسره ددی مثمن هم استعمال شوی دی نادراً

جواب: ۲- اوځکه چه په دائرة کی ددی وزن مثمن دی کما اشرنا الیه فی الدوائرفتذکره.

ددی بحردپاره ۳دری عروض استعمال شویدی اوشپږضربونه .داول عرو ضدپاره یوضرب استعمال شوی دوهم عرو ض دپاره ۳ دری ضربونه اودریم عروض دپاره ۲دوه ضربونه.

الاولی صحیحة وضربها مثلها وبیته

یالبکرٍأانشروالی کلیبا * یالبکرٍ این این الفدادُ

شرح: اول عروض ددی بحرصحیح دی یعنی فاعلتن دی ځکه فاعلن خودآخرڅخه حذف شوی دی په جزء سره ددی عروض دپاره ضرب هم پشان دعروض دی یعنی صحیح دی پهوزن دفاعلاتن اوشاهد ئی په دی بیت مذکورکی دی

اوتقطیع ئی به دی طریقه ده:

یالَبَکْرِن	اَنْشُرُو	لِی کُلَیْبَن
فاعلاتن	فاعلن	فاعلاتن
یالبَکْرِنْ	اَیْنَأَي	نَ الْفِرارو
فاعلاتن	فاعلن	فاعلاتن

تعین دعروض اوضرب : - لی کلیبا عروض دی صحیح په وزن فاعلاتن اون الفرار په اشباع دضمی دراء سره ضرب دی صحیح

ترجمه : دبیت مذکور

«ایٰ بکرقبیلی راژوندی کړی ماته کلیب ای بکرقبیلی چرته دی چرته دی تیښته ستاسو»

الثانية محذوفة واضربهاثلاثةٌ

شرح : دوهم عروض دبحرمدید محذوف دی یعنی دفاعلاتن نه فاعلن جوړشوی دی دآخردفاعلاتن نه سبب خفیف چه تن دی لری شو دی بالحذف نوفاعلاشو بیانقل شوفاعلن ته اوددی عروض دپاره دری ضربونه استعمال شوی دی :

الاول مقصور وبيته : لايغرّنّ امرأعيشهُ كلُ عش صائرٌللزوالْ

شرح : اول ضرب دضربو ثلاثو دعروض محذوف نه مقصوردی یعنی فاعلان دی قصر شوی په فاعلاتن کی نوساکن دسبب خفیف چه نون سابع دی حذف شوی دی اومتحرک سبب خفیف ساکن شوی چه تاء ده نوفاعلات شو بیا نقل شو فاعلان ته .

تقطیع ئی داسی ده

لايَغرَنْ	نَ امرأ	عيْشه
فاعلاتن	فاعلن	فاعلن
كُلْلُعِشنْ	صائرن	لز زوالْ
فاعلاتن	فاعلن	فاعلان

تعین دعروض اوضرب : عیشه عروض دی په اشباع دضمی دضمیرسره وزن فاعلن دی محذوف دی اوللزوال په اسکان دلام سره ضرب مقصوردی وزن ئی فاعلان دی

ترجمه : نه دی دوکه کوی هیچالره دده بنه ژوند" ځکه هرقسم ژوند گرځیدونکی دی فناته

الثانی مثلها وبیته : اعلم ابی لک حافظ" * شاهداما کنت اوغائبا

شرح : دوهم ضرب ددی عروض محذوفه دپاره پشان دعروض دی یعنی هغه هم محذوف دی اووزن ئی فاعلن دی اوشاهدئی دغه مذکوربیت دی۔

تقطیع ئی داسی ده :

اعْلَمُوْانْ	نِیْ لکم	حافظن
فاعلاتن	فاعلن	فاعلن
شاهدن ما	کُنْتأو	غائبِنْ
فاعلاتن	فاعلن	فاعلن

تعین دعروض اوضرب : حافظ عروض دی محذوف بروزن فاعلن اوغائبا ضرب دی محذوف

ترجمه : دبیت مذکو

(پوی شی چه زه ستاسو ځفاضب کونکی یم)

(حاضریم اوکه پس شایم یعنی ستاسو دفاع کوم)

الثالث ابتروبیته : انما الذلفاءیاقوتَة" * أخرجت من کیس دهقان

شرح دریم ضرب ددی عروض محذوفه دپاره ابتردی یعنی حذف اوقطع په فاعلاتن کی جمع شوی دی په حذف سره دفاعلاتن داخرنه سبب خفیف لری شو اوپه قطع سره دوتد مجموع ساکن حذف شو چه الف دی علادی اولام ئی ساکن شو نوفاعِلْ شو بیانقل شو فعلن ته حاصل داچه ضرب به په وزن دفعلن وی اوشاهد ئی دغه بیت مذکوردی.

تقطیع ئی داسی ده

انّمازْزَلْ فاءُیاَ قُوْ تَتُنْ

فاعلاتن فاعلن فاعلن

اَخرِجَتْ مِنْ کیس ده قان

فاعلاتن فاعل ن فعلن

تعین دعروض اوضرب: قوته عروض محذوف دی اوقان ضرب ابتردی په وزن دفعلن

ترجمه دبیت مذکور.

(یقیناذلفامحبوبه په شان دیاقوت دد په حسن کی ×چه راویستی شوی ده دبکس دتاجرنه)

الثالثة محذوفة مخبونة ولها ضربان الاول مثلها وبيته:

للفتى عقل يعيش به ** حيث هدى ساقه قدمه

ترجمه اوشرح دریم عروض دبحرمدیدمحذوف اومخبون دی یعنی فعلن دی دفاعلن الف په خبن سره حذف شو ی اوددی عروض دپاره دوه ضربونه دی اول ضرب ئی په شان دعروض محذوف اومخبون دی

. یعنی هغه هم فعلن دی دفاعلاتن نه په حذف سره فاعلن جوړشوی اوالف په خبن حذف شو فعلن شو اومثال ئی دغه مذکوربیت دی.
اوتقطیع ئی داسی ده

لِلْفتی عَقْ	لُنْ یَعيْ	شُ به
فاعلاتن	فاعلن	فُعلن
حَیْثُ تِهْدِيْ	ساقه	قَدَمُهُ
فاعلاتن	فاعلن	فَعلن

شُ به – عروض دی محذوف مخبون وزن ئی فَعِلن دی اوقَدَمُهُ په اسکان دهاء سره ضرب دی محذوف مخبون ددی وزن هم فَعِلن دی.

ترجمه دبیت :(دیوخوان دپاره عقل دی چه دی پری ژوندتیروی ×× چرته چه دده پښی ته لاربښائی دده قدم)

الثانی أبترو بیته:(ربَّ ناربتُّ ارمقها * تَقْضَمُ الهنْديَّ وَالغارا)

شرح: دوهم ضرب دعروض ثالثه دپاره أبتردی یعنی فعْلن دی (کمامر)
اومثال ئی دغه بیت دی
تقطیع ئی داسی ده –

رُبْبَ نارن	بتْتُأرْ	مُقُها
فاعلاتن	فاعلن	فعلن
تَقْضِمِ لْهِنْ	دِيْيُ ولْ	غارا
فاعلاتن	فاعلن	فَعْلن

تعین عروض اوضرب - په بیت مذکور کی مقها عروض دی
محذوف مخبون بروزن فعلن
اوغارا- ضرب أبتردی په وزن دفعلن سره خکه په بترکی حذف اوقطع دواړه جمع وی چه فاعلاتن نه فاعل جوړیږی اوبیا فعلن شی (کمامر)

ترجمه : دبیت مذکور.
(ډیراورونه ؤداسی چه ماشپه تیره کړه اوورته کتل می)
(چه سوخول ئی عودهندی اوخشبویه لرگی)
بحرمدید ختم شو فوائد متعلقه تربحرمدید پوری
فائد ه :۱ -بحرمدید هم دشعر عربی خصوصیت دی
فائد ه :۲ په حشوددی بحرکی خبن راځی بحسن اوکف پکی راځی بصلوح شکل پکښ قبیح دی
فائد ه۳- دنون دفاعلاتن اوالف فاعلن منځ کی معاقبه هم ده فتدبر.

الثالث البسیط وأجزائه مستفعلن فاعلن اربع مرات

ترجمه اوشرح : دریم بحر بحر بسیط دی ددی بحر اجزاء اوارکان مستفعلن فاعلن څلور کرته یعنی مستفعلن فاعلن مستفعلن فاعلن یومصراع اوهم دمره بله مصراع دی بحرته بسیط وائی دافعیل دی په معنی دمفعول ای مبسوط ددی بحر په اجزاء سباعیه کی هم انبساط دأسبابو دی لطیفه دابحرهم دشعرعربی خاصه ده دبحرهم دشعرعربی خاصه ده.

واعارضه ثلاثه واضربه ستة

شرح : ددی بحر دپاره دری عروض استعمال شوی دی او شپږ ضربونه
اول عروض دوه ضربونه لری دوهم دری ضربونه لری او دریم یو ضرب

الاولی مخبونة ولها ضربان الاول مثلهاوبيته

شرح : اول عروض مخبون دی یعنی دفاعلن په ځای فعلن دی الف ئی
حذف شوی دی بالخبن ددی عروض دپاره دوه ضربونه دی اول ضرب
ئی هم مخبون دی په شان دعروض باندی اوشاهدئی دغه بیت دی ،

یاحار لاأرمین منکم بداهیه * لم یلقها سوقة قبلی ولاملک

تقطیع ئی داسی ده .

یاحارلا	أرْمَیَنْ	منْکُمْ بدا	هِیَةً
مستفعلن	فاعلن	مستفعلن	فَعِلن
لَمْ یلقَها	سُوقتن	قَبْلیْ ولا	مَلِکو
مستفعلن	فاعلن	مستفعِ	فَعِلنْ

تعین دعروض اوضرب : هِیَةً فعلن وزن عروض مخبون او ملک
ضرب دی مخبون .

ترجمه دبیت مذکور: (أبنو الحارث زه دی ونه ویشتلی شم
ستاسو دطرف نه په مصیبت)

(داسی مصیبت چه نه دی ورسره مخ شوی کوم رعیت او قوم زمانه
مخکی اونه کوم بادشاه)

الثاني مقطوع وبيته :

شرح : دوهم ضرب ددی اول عروض دپاره مقطوع دی یعنی فعلن دی دفاعلن دوتدمجموع ساکن حذف شوی اولام ساکن شوی دی نوفاعل شو بیا نقل شو فعلن ته چه داقطع ده اوشاهدئی دغه بیت دی .

قداشهدالغارة الشعواء تحملني *جرداء معروقة اللحيين سرحوب

تقطيع ئی داسی ده .

قدأشهدل	غارةَ ش	شعواءتح	ملُنی	جَرداءُ مع	روقة د	لَحْيَيْنِ سَرْ	حوبو
مستفعلن	فاعلن	مستفعلن	فعلن	مستفعلن	فاعلن	مستفعلن	فعلن

تعين دعروض اوضرب : ملنی فعلن عروض مخبون دی اوحوب فعلن وزن دی ضرب دی مقطوع دی .

ترجمه : « زه حاضریږم جنګ خطرناک ته چه وړی می »
« داسی لغړاس چه دژموغوښه ئی لکه ده اوارږددی»

الثانية مجزوة صحيحة :

شرح : دوهم عروض دبحربسيط مجزؤدی اوصحيح دی یعنی یوجزء دمصراع نه حذف شوی دی چه فاعلن دی نو وزن دمصراع مستفعلن فاعلن مستفعلن پاتی شو اصحيح په دی معنی سره چه دامستفعلن به عروض وی په غیردځه تغيرنه .

فائده ضروريه : عروض ته چه مجزؤ ويلی شی یاضرب ته داستامحااومجاز ځکه جزء شطرتهك داصفات دبيت دی نوتسميه دجزء ده باسم الکل

فائده : ثانیه چه عروض ته مجزؤاويلی شی نوضرب هم مجزودی په دی معنی سره چه جزء خوددواړومصراعينو نه یوزء لری کول دی

واضربها ثلاثة الأول مجزومذال وبيته

شرح: ددی عروض دپاره دری ۳ ضربونه دی اول مجزو دی یعنی فاعلن به حذف وی اوضرب به مستفعلن وی خومذال دی یعنی علة بالزیادة دی په کی چه تذییل یاأذالة ده چه زیادت دحذف ساکن دی روسته دوتدمجموع نه نومستفعلن نه مستفعلا ن جوړشی اوشاهد ئی په دی بیت کی دی

اناذمناعلی ماخیلت * سعدبن زید وعمرٌومن تمیمْ

تقطیع داسی ده

أناذجمْ ناعلی ماخیْیَلَتْ سَعْدُبنُ زی دِن وَعَمْ رن من.تمیمْ

مستفعلن فاعلن مستفعلن مستفعلن فاعلن مستفعلان

تعین دعروض اوضرب - ماخیلت عروض مجزؤ دی ځکه اصل دلته دعروض په ځای فاعلن جز راتلل په کارو نوهغه حذف شوی اوصحیح دی ځکه مستفعلن دی اوپس دحذف دفاعلن نه په جزء سره همداجزء صحیح دی اورمن تمیم په اسکان ددوهم میم سره ضرب دی مذال ځکه دمستفعلن په ځای مستفعلا ن دی

ترجمه: دبیت مذکور

مونږ بد بیان کړل دسعد بن زید اوعمرو په دی وجه چه دوی مونږسره تګی وکړه

الثاني مثلها وبيته

شرح : دوهم ضرب ددی عروض دپاره په شان دعروض باند دی یعنی مستفعلن دی صحیح اوشاهدئی دغه بیت دی .ماذاوقوفی علی ربع عفا×× مخلوليِ دارس ستعجم

تقطیع داسی ده :

ماذاوقو فی علی ربع عفا مخلولقن دارسن مستعجم

مستفعلن فاعلن مستفعلن مستفعلن فاعلن مستفعلن

تعین دعروض اوضرب ربع عفاعروض دی صحیح اومستعجم ضرب دی صحیح .

ترجمه : دبیت مذکور

الثالث مجزومقطوع وبيته

شرح : دريم ضرب ددی عروض دپاره مجزومقطوع دی یعنی مفعولن دی په دی معنی چه دمستفعلن دوتدمجموع داخرنون حذف شوی اولام ساکن شوی دی نومستفعلي شوبيانقل شو مفعولن ته اوشاهدئی دغه بیت دی .

سيروامعاانمامیعادکم * یوم الثلاثابیطن الوادیْ

تقطیع داسی ده .

سيرومعاً اِنما میعادکم یَوْمُ ثْثلا ثابِبطْ نِلوادِيْ

مستفعلن فاعلن مستفعلن فاعلن مفعولن

تعین دعروض اوضرب :

میعادکم - عروض دی صحیح اون الوادی په اسکان دیاء سره ضرب دی مقطوع پهوزن دمفعولن سره (لماذکرنا)

ترجمه : خی گرخی یوخای یقینا وعده ستاتو× دسه شنبه ورخ ده په بطن الوادی کی.

الثالثة مجزوة مقطوعة وضربها مثلها وبيته

ترجمه اوشرح دریم عروض دبحربسیط مجزؤمقطوع دی یعنی په قطع سره ورنه مفعولن جوړدی اوضرب ددی عروض په شان دعروض مقطوع دی هغه هم مفعولن دی په دواړوکی دمستفعلن نون سابع چه ساکن دوته مجموع دی حذف شوی اولام ساکن شوی نومستفعل شو انقل شومفعولن ته اوشاهد ئی دغه بیت دی

ماهيج الشوق من أطلال * أضحت قفاراً كوحي الواحي

تقطیع ئی داسی ده :

ماهیج.ش	شوق من	أطلالِ	أضحَتْ قفا	رأكوَح	ی لواحیِ
مستفعلن	فاعلن	مفعولن	مستفعلن	فاعلن	مفعولن

تعین دعروض اوضرب : اطلالٍ عروض دی مقطع په وزن دمفعولن اوي الواحی ضرب دی مقطوع بروزن مفعولن .

ترجمه دبیت مذکور

فوائدپه بحربسیط کی :

فائده ۱ - په حشوددی بحرکی خبن په خماسی اوسباعی دواړوکی راځی بحسنٍ اوطی په جزء سباعی کی راځی بصلوح اوخبل هم خوقبیح دی -

فائد ه۲ - په بحربسیط کی یوخاص وزن دی مخلع اومکبول ورته ویلی شی داخاص دی ترمجزوابسیط پوری تخلیع دیته ویلی شی چه قطع اوخبن دواړه په عروض اوضر ب دبحربسیط کی جمع شی چه مجزو وی مثلا پس دجز نه عروض اوضرب مستفعلن پاتی شو څکه فاعلن ددواړو مصراعین و نه حذف شو په جزسره نوپه دی مستفعلن کی اول قطع راشی دوتدمجمع حرف ساکن چه نون سابع دی حذف شو اولام ساکن شی نومستفعل شو نونقل به شی مفعولن ته داخوقطع شوه بیا په کی خبن هم راشی نووزن دبحر به داسی شی مستفعلن فاعلن فعولن مستفعلن فاعلن فعولن بس دامخلع دی (حاشیه کبری)

فائد ه ۳- بحربسیط هم خاص دی شعرعربی پوری .

فائده ۴- دطالبانورونبودپاره دکافیه داشعرچه اسباب دمنع الصرف پکی دی ذکرکوم څکه هغه هم ددی بحرنه دی .

عدلٌ ووصفٌ وتانیثٌ ومعرفة * وعجمةٌ ثمَّ جمع ثم ترکیب

:ابحربسیط دی عروض ئی مخبون دی اوضرب ئی مقط ع دی نوقسم ثانی دبحربسیط شو اوددوهمی مصراع په اول کی خبن دی دمستفعلن سین حذف شوی متفعلن شو بیا مفاعلن ته نقل شوی

تقطیع ئی په دی ډول ده :

عللن وَرَ صفْ ‌ فُن وتا ‌ نیثن ومَع ‌ رفة ن ‌ وَعُجْمَتن ‌ ثُمْم جمْ ‌ عُنْ ثمم تَرْ ‌ کیْبو

مستفعلن ‌ فاعلن ‌ مستفعلن ‌ فعلن ‌ مفاعلن ‌ فاعلن ‌ مستفعلن ‌ فعلن

رفةٌ عروض دی مخبون اوکیب ضرب دی مقطوع اوپه وعجمة لفظ کی هم خبن شوی

فاید ه : دابحر عرب ډیر زیات استعمال وی زیات قصائد په دی بحر دی مثلا ، قصیده بردة ، رقصیدة میمیة ، درفرزدق په مدح دزین العابدین رضی الله عنه کی داهم په دی بحر باندی دی

الرابع الوافروأجزائه مفاعلتن ست مدات

ترجمه : اوشرح څلورم بحروافردی دده تفاعیل اواجزاء شپږکرته مفاعلتن دی دیته بحروافروائی ، قیل لوفورحرکاته ، یعنی حرکات ئی ډیردی وقیل لکثرة مانظم العرب علیه من الاشعاریعنی عرب په دی اشعارډیر وائی وقیل لوفور أوتاداجزائه اجزاء ددی په اصل دائرة کی مفاعلتن شپږکرته دی یعنی یومصراع دری کرته مفاعلتن اوبله هم لکن په استعمال کی تام نه وی بلکه یامقطو ف وي یامجزوء تام هم استعمال شوی دی خوشاذ دی لکه په دي بیت کی

اذا غضبت بنوقطن علی ملك * عنت لهم الوجوه اذا همو غضبوا

وله عروضان وثلاثة أضرب الأولی مقطوفة وضربها مثلها

ترجمه : اوشرح اوددی بحروافردپاره دوه عروضه اودری ضربونه دی اول عروض ئي مقطوف دی یعنی حذف اوعصب په کی جمع دی . دمفاعلتن دآخرڅخه

سبب خفیف ساقط شو بالحذف اولام ساکن شو بالعصب نومفا علْ شو . بیانقل شودفعولن ته اوددی عروض مقطوف دپاره ضرب هم مقطوف دی نووزن به داسی وی مفاعلتن مفاعلتن فعولن - مفاعلتن مفاعلتن فعولن: اوشاهد ئی دغه بیت دی

لنا غنم نسوقها غزار * کأن قرون جلتها العصی

تقطیع ئی داسی ده

لناغَنَم ن نُسَوْقِها غزارن کانْنَ قُرُوْ نَ جللتهالْ عِصيُ

مفاعلتن مفاعلتن فعولن مفاعلتن مفاعلتن فعولن

تعین دعروض اوضرب:

غزار- عروض دی مقطوف وزن ئی فعولن اوعصی په اشباع دبامشددی سره ضرب دی.

ترجمه دبیت مذکور: (زمونږه گډی دی چه څرووئی اوډیری دی) (گویاکه ښکرونه دلویو ئی په شان دهمساگانواوږده دي)

الثانية مجزوة صحيحة لها ضربان الاول مثلهاوبيته:

دوهم عروض دبحر وافرمجزودی اوصحیح دی یعنی مفاعلتن دی ددی دپاره دوه ضربونه دی اول په شان دعروض مجزوصحیح دی.

تنبیه: مخکی مونږ ذکرکړه چه عروض اوضرب ته مجزو ویل دامجازدی اصل کی بیت مجزو دی یعنی یوجز داولی مصراع نه حذف شوی اوبل جز ددوهمی مصراع نه نومسدس په ځای مربع پاتی شوی دوه کرته مفاعلتن یو مصراع اودوه کرته بله مصراع شاهدئی دغه بیت

لقد علمت ربيعه انن حَبْلَک واهنٌ خلقٌ

تقطیع ئی داسی ده

لقدعلمت	ربعَيَةُأن	نَ حبلک وا	هنُنْ خلقن
مفاعلتن	مفاعلتن	مفاعلتن	مفاعلتن

تعین دعروض اوضرب:

ربیعۃ ان عروض دی صحیح پہ وزن دمفاعلتن اوھن خلق ضرب دی صحیح البتۃ پہ بیت کی جزء راغلی دہ فتدبر

ترجمہ یقینا ربیعۃ قبلیہ پوھہ دہ چہ ستادلوظ پری کمزوری اوزور دی

الثانی مجزؤ معصوب وبیتہ

دوھم ضرب ددی عروض دپارہ مجزؤمعصوب دی یعنی مفاعیلن دی پہ دی طریقہ چہ پہ مفاعلتن کی عصب راغلی دی نولام چہ خامس متحرک دی ساکن شوی دی نومفاعلتن شو بیا نقل شوی مفاعیلن تہ اوبیت ئی دادی

أعاتبھا وآمرھا * فتغضبنی وتعصینی

تقطیع داسی دہ

أعاتبھا	وآمُرُھا	فَتُغْضبنی	وَتعصیْنیْ
مفاعلتن	مفاعلتن	مفاعلتن	مفاعلتن

تعین دعروض اوضرب:

وآمرھا عروض دی صحیح اوتعیصنی ضرب دی محصوب اوبیت مجوزدی مسدس پہ خای مربع دی

ترجمہ «ملامتہ کووم دامحبوبہ یازوجہ اوامرورتہ کوم»

«خوھغہ ماتہ پہ غضب شی اوځمانافرمانی کوی»

فوائد متعلقہ تربحروافرپوری

فائدہ ۱ داخلیږی پہ حشوددی بحرکی داقساموزحاف خنی عصب بحسن چہ دامفاعلتن لام ساکن شی اوبیا نقل شی مفاعیلن تہ

اوداخلیږی پکی عقل بصلوح چه دمفاعلتن لام حذف شی مفاعلتن شی اونقل شی مفاعیلن ته اونقص پکښ راځی خوبقبح چه په مفاعلتن کی عصب اوکف جمع شی نومفاعلت به شی نقل به شی مفاعیل وته

فائده ۲- کله مجزؤالوافردعصب دوجی نه مشتبه گرځی دبحرهزج سره ځکه هغه هم مجزوء دی وجوبا نومفاعیلن مفاعیلن دوه کرته هزج استعمالیږی اوچه بحر وافر کی جزء راغله اوپه ټولواجزاء کی عصب هم راغی نوداهم مفاعیلن مفاعیلن مرتین شو نوطریقه دامتیازئی داده چه ته وګوره که په هغه قصیده کی چرته یوځای کی هم یوجزد مفاعلتن راغی نوداحمل کړه په بحر وافرباندی اوکه په ټوله قصیده کی یوځای هم مفاعلتن موجودنه شو نودابه بحر هزج وی ځکه مفاعیلن په هزج کی اصل دی اومجزوء هم دی وجوبا

فاید ه۳- بحروافرهم دخصوصیاتودشعرعربی څنی دیٰ الاماجاء نادرا فی غیره

فائده ۴- دطالبانوروڼودپاره دشرح جامی دابیت ذکرکوم چه دبحروافرځنی دی کماذکره الناکت

جرحات السنان لها التیام * ولایلتام ماجرح اللسان

تقطیع ئی داسی ده

جراحات س	سنان لهالْ	تیامو	ولایلتام	م ماجَرَ ح لْ	لسانو
مفاعیلن	مفاعلتن	فعولن	مفاعیلن	مفاعلتن	فعولن

تیام په اشباع دضمی دمیم سره عروض دی مقطوف اولسانو په اشباع دضمی دنون سره ضرب دی مقطوف اوپه اول جزء ددواړو مصراعینو کی عصب دی دمفاعلتن څخه مفاعیلن جوړشوی دی

دابل بیت دشرجامی چه منسوب دی امام شافعی (رح) ته

ولو لااشعربالعماء یزری * لکنت الیوم اشعرمن لبید

داهم بحروافردی تقطیع ئی داسی ده

ولولااشع	رِبالْعُلَمَا	ءِیزری	لَکُنْتُ الْیو	مَ أ شعَرَمن	لَبِیْدن
مفاعیلن	مفاعلتن	فعولن	مفاعیلن	مفاعلتن	فعولن

په دی بیت کی ء یزری عروض دی مقطوف اولبید ضرب دی مقطوف اوپه اول جزء ددواړو مصراعینو کی عصب دی کماذکرنا انه حسن فی هذالبحر .

الخامس الکامل وأجزاوه متفاعلن ست مرات

ترجمه اوشرح : پنځم بحر دشپاړسوبحرورنو نه بحرکامل دی دده اجزاء اواوزان شپږکرته متفاعلن دی یعنی دری کرده متفاعلن یومصراع اودری کرته متفاعلن بله مصراع

توضیح دی بحرته کامل وائی علامه دمنهوری ئی وجه دتسمی داذکرکوی چه ددی ضربونه پربل هربحر زیات دی نوځکه ورته کامل ویلی شی

بحرالفصاحة کی دی چه دبته کامل ځکه ویلی شی داعلی الاصل استعمالیږی چه مسدس دی خوداوجه اکثری ده ځکه مجزوء هم راځی لطیفه دابحرپه عربی کی مسدس دی اوپه فارسی کی مثمن هم راغلی دی . دشیخ سعدي مشهورشعر

بلغ العلی بکماله *کشف الدجی بجماله * حسنت جمع خصاله * صلوا علیه واله

په بحر کامل کی مثمن دی،

واعاریضه ثلاثة واضربه تسعة

شرح : اعاریض دبحرکامل دری دي اوضربونه ئی ټول نهه دی چه دمره ضربونه بل بحرنه لری اول عروض چه تام وی دری ضربونه لری دوهم عروض چه حزاء دی دوه ضربونه لری اودریم عروض چه مجزوء دی اوصحیح دی څلور ضربونه لری

الأولی تامة واضربها ثلاثة الاول مثلها وبیته

شرح : اول عروض دری عروضونه تام دی یعنی نه دی داخل شوی په کی یوشی دتغیراتونه داعروض دری ضربونه لری اول په شان دعروض په تمامیت کی اوشاهد ئی دغه بیت دی

اذاصحوت فمااقَصِّرُعن ندا * وکماعلمت شمائلی وَتَکَرُّمی

تقطیع ئی داسی ده

وَاذاصَحَو	تُ فمااَقصْ	صِرُعَنْ ندی	وَکَماعلمْ	تِ شمائلی	وَتَکَرُّرمی
متفاعلن	متفاعلن	متفاعلن	متفاعلن	متفاعلن	متفاعلن

تعین دعروض اوضرب صرعن ذری عروض دی تام اوتکرمی - ضرب دی مثلها.

ترجمه : دربیت مذکور

(اوکله چه زه په هوش کی شم دشرابونه نوهیڅ کوتاهی به نه کوم دسخاکولونه)

(الکه چه تاته معلوم دی څما اخلاق اوڅما سخاوت همغه شان دی)

الثانی مقطوع وبیته

شرح: اودوهم ضرب داول عروض دپاره مقطوع دی یعنی فعلاتن دی ځکه چه په قطع سره آخردوتدمجمع چه ساکن حرف دی حذف شو امخکی حرف چه لام دی ساکن شو- نومتفاعل شو- بیا نقل شو فَعلاتُن ته -شاهدئی دغه بیت دی.

واذا دعوتك عمّهُن فانه * نَسَبٌ یزیدك عندهن خبالا

اوتقطیع داسی ده

واذادعو	تک عَمَمَهن	نَ فانهو	نَسَبُن یزي	دُکَ عندَهُن	نَ خَبَالا
متفاعلن	متفاعلن	متفاعلن	متفاعلن	متفاعلن	فَعَلاتن

تعین دعروض اوضرب: په دی بیت کی ن فانه - په اشباع دضمی دضمیرسره عروض دی تام اون خبالا ضرب دی مقطوع په وزن دفعلاتن باندی

ترجمه: اوکله چه رااوبلی دازنانه تالره په تره اوکاکا سره نویقینادابلنه ددوی (یونسبت اوصفت دی په زیاتوی تالره ددوی په وړاندی سپکاوی اوکمزوری ستا

الثالث اَحَذُّ مضمروبیته

شرح: دریم ضرب دعروض اولی دپاره احذمضمردی یعنی فعلن دی ځکه چه دحذذسره ورنه ټول وتدمجموع حذف شو نو متفاپاتی شو بیاپه اضمارسره دوهم متحرک چه دلته تاء ده ساکنه شوه نومستفاشو بیا نقل شو فعلن ته اوشاهد دغیه بیت دی

لمن الدیاربرامتین فعاقلِ * دَرَسَت ویغرآیها القطر

او تقطيع ئې داسې ده

لمن ددبا	ربرامق	ن فعاقلن	ذرست وغني	برءآبهال	قطرو
متفاعلن	متفاعلن	متفاعلن	متفاعلن	متفاعلن	فعلن

تعين دعروض اوضرب نفعاعصل عروض دی تام - اوقطر په اشباع دضمې دراء سره ضرب دی احذمضمر.

ترجمه: دچادی هغه کورونه چه په رامتن اوعاقل مقام کی دی »

« وران شواوبدلی کړی نښی دهغی بارانونو »

الثانية حذّاءُ ولها ضربان الأول مثلها وبيته

شرح: دوهم عروض دبحرکامل حذاء دی یعنی حذدی پکی نوتدمجموع ټول دمتفاعلن نه حذف شوی متفاپاتی شوی دی بیا نقل شو فَعِلن ته ددی دپاره دوه ضربونه دی اول ضرب په شان دعروض دی یعنی ضرب کی هم حذذوی نوهغه هم فعلن دی اوبیت ئې دغه دی.

دِمَن عَفَتْ ومَحَامَعالِمَها * هطلٌ أجَشَّ وَبارحٌ ترِب

تقطيع ئې داسې ده:

دِمَن عَفَتْ ومَحَامَعا لِمَها هَطِلُنْ أَ بَشُ شُوَبارِحِن تَرِب

متفاعلن متفاعلن فعلن متفاعلن متفاعلن فَعِلن

تعين دعروض اوضرب لمها ففعلن وزن دی عروض حذاء دی اواوترب په تنوين سره ضرب دی احذ لطيفه: مخکی مونږذکرکړه چه دوی دعروض نه په مؤنث تعبير کوی أوضرب نه په مذکرددی وجه دلته ئې عروض ته حذاء په صيغه دمونث سره اويل اوضرب ته آحذپه صيغه ومذکرسره (فتدبر)

ترجمه، داهغه کنډرونه چه وران شوی دی اوورانی کړیدی نبنی ددی
« ډیر باران چه تیزدی اوهغه طوفانی سیلی چه خاوری وروی »

الثانی أحذُّ مُضمرٌ وبیته

شرح دوهم ضرب ددی عروض حذاء دپاره أحذدی اومضمرهم دی یعنی فعلن دی داخرنه وتدمجموع تول حذف دی داحذف شو اودمتفاتاء ساکنه شوه بالاضمار نومتفاشو بیا نقل شوفعلن ته اوبیت ئی دادی

ولأنت أشْجَعُ من أسامَةَ اذْ * دعِیَت نَزَالِ وَلُجَّ فی الذعرتقطیع

داسی ده :

ولَاَنْتَاش	جَعُ مِنْ أسا	اسامَةَ اذ	دُعِیَت نزا	لِ وَلُجْجَ فی ذ	ذعِر
متفاعلن	متفاعلن	فَعِلُن	متفاعلن	متفاعلن	فَعْلن

تعین دعروض اوضرب مة اذ عروض خداء دی اوذعریه اشبا ع دکسردراء سره ضرب آحذ مضمردی بروزن فعلن

ترجمه: اویقیناته دازمری نه ډیر زړه ورئی کله چه »
« اوازوشی چه راکوزشه میدان ته اوننوتل وشی دویری ښایونوته »

الثالثة مجزواة صحیحة واضربها اربعه الأول مجزوء مرفل وبیته .

شرح : دریم عروض دبحرکامل مجزوء دی اوصحیح دی یعنی په بیت کی جزء راغلی یویوجزددواړو مصراعینونه حذف دی اوصحیح دی عروض یعنی متفاعلن دی اوددی عروض ضربونه څلوردی اول ضرب مجزوء مرفل دی یعنی متفاعلاتن دی څکه ترفیل زیادة دسبب خفیفي دی روسته دوتدمجموع نه نومتفاعلتن به شی بیا نقل شوی متفاعلاتن ته متفاعلاتن ته .

حاصل داچه وزن دبحربه داپاتی وی متفاعلن متفاعلن متفاعلن متفاعلاتُنْ اوشاهد ئی دغه بیت دی

وَلَقَدسبقتهمو أَلی * يَ فلِمْ نَزَعْتَ وأنْت آخِر

تقطیع ئی داسی ده:

وَلَقَدسبق	تهمو ألی	يَ فلِمْ نَزَعْ	وأنْت آخِر
متفاعلن	متفاعلن	متفاعلن	متفاعلاتن

تعین عروض اوضرب: تهموألی - عروض دی صحیح دالته یوه یاء چه ساکنه ده دمصراع اول نه حساب ده اودوهمه یاء ئی دمصراع ثانی سره ده اوضرب ئی ت وانت آخِرْ

تنبیه: مخکی مونږذکرکړیوه چه عروض یاضرب ته مجزوء ویلی شی مجازاً اصل کی جزء صفت دبیت دی (فتدبر)

لطیفه: په دی بیت کی فلم نزعت اصل فلمانزعت دی په مااستفهامیه سره الف دماحذف شوځکه لام جرورسره دی اومیم ساکن شو ضرورة دشعر دوجه نه.

ترجمه: اویقیناته مخکی راغلی وی ماته ددوی یعنی په وخت دتعداد دجنگیالانوکی»

نوپه وخت دجنگ تاولی ځان اویستلو ددوی دمنځ نه اوته دټولونه روستوشوی»

الثانی مجزو مذال وبیته

شرح: دویم ضرب دعرو ض ثالثه دپاره مجزوء مذال دی یعنی متفاعلان دی ځکه چه اذاله اوتذییل ویلی شی دیته دوتد مجموع

نه وروسته حرف ساکن زیات شی نومتفاعلن نه متفاعلن جوړشو
بیا نقل شو متفاعلان ته . اوبیت ئی دادی

جَدَثُن یکونُ مقامه * أ بَدَ ابمُختَلف الریاح

تقطیع ئی داسی ده :

جَدَثُن. یکو	ن مُقامه	أ بَدَ ابمُخْ	تَلف الریاح
متفاعلن	متفاعلن	متفاعلن	متفاعلان .

تعین دعروض اضرب
په دي بیت کی تُ مقامه عروض دی په اشباع دضمی دضمیرسره
اوتلف الریاح- په سکون دحاء سره ضرب دی مزال بروزن متفاعلان
ترجمه (داقبردی چه وی ځای اومقام ددی)
(هروخت هغه ځای چه هلته مختلف بادونه لگی)

الثالث مثلهاوبیته

شرح : دریم ضرب دعروض ثالثه دپاره په شان دعروض دی یعنی
صحیح دی په وزن دمتفاعلن اوبیت ئی دادی .واذا افْتَقَرْتَ
فلاتَکُنْ * مُتَجشّعاًوتَحَمل

اوتقطیع ئی داسی ده :

وَاذاافْتَقَرْ ت فلاتَکُنْ مُتَجشّعاً وتَجّمَلِ

متفاعلن متفاعلن متفاعلن متفاعلن

تعین دعروض اوضرب - ت فلاتکن عروض دی صحیح او وتجمل په اشباع دکسری دلام سره ضرب دی صحیح

ترجمه : کله چه محتاج شی نومه گیږه × حرصناک اوځان خائسته کړه په خپل لباس

فائد ه: دمحیط الدائره په نسخه کی متخشعابالفاء دی علامه دمنهوری ورته هم اشاره کړی ده بیابه ئی معنی داسی شی چه ځان ذلیل کوه مه .

الرابع مجزو مقطوع وبیته: واذاهموذکروالاسا * ءَةَ اکثروا لحسنات

شرح : څلورم ضرب دعروض ثالثه دبحرکامل دپاره مجزوء مقطوع دی یعنی فعلاتن دی ولی چه په قطع سره ساکن دوتدمجموع حذف شو اوماقبل چه لام دی ساکن شو نومتفاعل شو بیا نقل شو فعلاتن ته اوشاهدئی دغه بیت مذکوردی .

تقطیع ئی داسی ده :

وَاذاهم ذکَرُلاسا ءَةَ أکْثرُلْ حسناتی

متفاعلن متفاعلن متفاعلن فعلاتن

تعین دعروض اوضرب . ذکرالاسا - عروض دی صحیح اوحسنات په اشباع دکسری دتاء سره ضرب دمقطوع اوبیت مجزوء دی

لطیفه: دلاساءَةَ - ددوهمی همزی نه مصراع ثانی حساب ده .

ترجمه او کله چه هغوی ذکردبدووکړونوهغوی زیاتوالی وکړوپه
ــکوکی ۔

فوائد متعلقه تربحر کامل پوری .

فائده ۱ - داخلیږی په حشو ددی بحرکی داقسامودزحاف نه
اضماربحسن اووقص بصلوح اوخزل خوقبیح دی .
فائد ه:۲- کله چه دبحرکامل په ټولو اجزاؤکی اضمارراشی
نومتفاعلن متفاعلن شی چه نقل شی مستفعلن ته نوأجزاءئی مشابه
گرځی دبحررجزسره نوته به وگوری که په قصیده کی یوځای هم
متفاعلن راغی نودابه دلیل وی ددی چه دابحرکامل دی .
فائد ه :۳- بحرکامل هم عرب ډیراستعمالوی اوډیر قصائد په دی
بحرراغلی د ی مثلابه سبعة معلقة کی څلورمه قصیده میمیة دلبید
هم بحرکامل دی یوبیت ئی ذکرکوو ،

عفت الد یارمحلهاف مقامها * بمنیً تأبدغولها فرجامها

متافاعلن متافاعلن متافاعلن متافاعلن متافاعلن
متافاعلن.هم دارنگه ددیوان المتنبی رومبنی اشعار عذل العواذل

حول قلبي التائه * وهوى الاحبة منه فى سودائه .

داهم بحرکامل دی .
فائد ه:۴- دطالبانوروښودپاره دشرح جامی مشهورشعرسره دتقطیع
اومحل داشتهاد نه ذکرکوم چه په دی بحرکامل باندی دی

صبت علی مصائبٌ لَوْاَنّها * صبّت على الاَيّام صرن لياليا

تقطیع ئی داسی ده :

صبت.علی یمَصاىن لَوْائها صبت علی لْ ایام صرْ ن لیالیا

مستفعلن متفاعلن مستفعلن مستفعلن مستفعلن متفاعلن

تعین دعروض اوضرب : لوأنّها- عروض دی مضمر دمتفاعلن تاساکنه شو ه بلاضماربیانقل شومستفعلن ته اون لیالیاضرب دی صحیح - اوپه حشوکی هم په اجزاء کی اضماردی محل داستشهاددشارح جامی : هغه لفظ مصائب دی چه صیغه دمنتهی الجموع ده خوضررةً وربا ندی تنوین راغی دی اگرچه په غیرمنصرف کسره اوتنوین نه راځی اوضرورة دلته وزن دشعر دی ځکه که مونږ دلته تنوین ذکرنه کړونو انکساربه په وزن کی راشی یعنی داسی تغیربه راشی په وأصولوددی بحرکی نه دی راغی په دی معنی چه دلته په تقطیع کی تاسووکتل چه یمصائب سره دتنوین نه متفاعلن دی نوکه تنوین لری شی وزن به متفاعلُ شی اوعلن په متفاعلن کی وتدمجموع دی اوحذف دنون چه ساکن دوتدمجموع دی اولام په خپل حالت باند باقی پریخودل داپه أُصولوددی بحرکی نه دی راغلی۔

السادس الهزج

شپږم بحرهزج دی : دبحرته هزج وائی ۱-تشبیهاً له بهزالصوت أی تردده ۲-سمی هزجالطیبه لان الهزج ضرب من الاغانی وفیه ترنم والعرب کثیراماتهزج به أي تغنی (حاشیه کبری)۔

واجزاؤه مفاعیلن ست مرات مجزووجوباً

شرح : ددی بحراجزاء شپږ کرته مفاعیلن دی دری کرته یومصراع اودری کرته بله مصراع داپه اصل اودائره کی اومجزؤدی وجوبابه

استعمال یعنی یو یو جزء ددواړو مصراعینو حذف کیږی نو دسداسی
په ځای رباعی شی او تام استعمال شاذی دی
لکه په دی شعر کی:

(عفایاصاح من سلمی مراعیها * فظلّت مقلتی تجر ی مآقیها)

خود اتول شاذی دی او مسموع التزام دجزء دی په بحر هزج کی

وعروضه واحدة صحیحة ولهاضربان الاول مثلهاوبیته:

عفامن ال لیلی السهب فالاملاح فالغمرٗ.

شرح: ددی بحر یو عروض دی چه صحیح دی او ددی دپاره دوه ضربونه دی اول په شان دعروض صحیح دی او بیت ئی دغه مذکور دی او تقطیع ئی داسی ده

عفامِنْءَا لِ لَیْلیَ شسَهْ بُ فالاِ ملا حُ فَالْغَمْرُو

مفاعیلن مفاعیلن مفاعیلن مفاعیلن

تعین درضرب او عروض لِ لیلی السه - عروض دی صحیح او حُ فالغمد په اشباع دضمی سره ضرب دی صحیح - او بیت مجزو دی
لطیفه: دالسهبیاء ددوهمی دوهمی مصراع سره حساب ده په وزن کی
ترجمه: وران شوځایونه دقوم دلیلی چه سهب املاح او غمردی

الثانی محذوف وبیته وماظهری لباغ الضیم بالظهر الذلول .

شرح: دوهم ضرب ددی عروض دپاره محذوف دی یعنی فعولن دی په دی معنی چه دمفاعیلن دآخرنه یو سبب خفیف چه لن دی حذف شو نومفاعی پاتی شو بیا نقل شو فعولن ته او بیت ئی دغه مذکوردی .

تقطیع ئی داسی ده

وماظهری لباغِ ضَضی مِ بظْظَهرِ ذْ ذولولی

مفاعیلن مفاعیلن مفاعیلن فعولن

تعین دعروض اوضرب لباغ الضیبی - عروض دی صحیح اوذلول په اشباع دکسری سره ضرب دی محذوف اوالضیم کی میم دوهمی مصراع سره حساب دی په وزن کی

تنبیه: په تقطیع کی بیت مونږ اکثر دعروضیانو په طریقه لیکو یعنی صرف ملفوظ ولیکو چه وزن کی معتبر دی (فلا یلتبس علیک الامر)

ترجمه: (نه ده ملا څما د طلب کو ونکی د ظلم د پاره ذلیله او خکته)

فوائدمتعلقه تربحرهزج پوری

فائده ۱ - بحرهزج فارسی کی مثمن هم استعمالیږی- دحافظ شیرازی ددیوان اولنی اشعار دالاندی

الایاایهاالساقی أدِرکأساوناولها * که عشق اسان نموداول ولی افتاد مشکلها

دابحرهزج مثمن دی.

فائده ۲- ددیوان الحاسه مشهورشعردلاندی مذکوداهم بحرهزج دی ،

صفحناعن بنی ذهلٍ وقلنا القوم اخوانُ * عسی الایام ان یرجعن قوماً کالذی کانوا.

تقطیع ئی داسی ده.

صفحناعن بنیذوهلن وقلنا لقو م اخوانو

مفاعیلن مفاعیلن مفاعیلن مفاعیلن

فائده ۴ داخلیږی په حشوددی بحرکی داقسامودزحاف نه قبض خوقبیح دی اوکف اوحسن دی په طریقه دمعاقبه سره دعروض ددی بحرحکم هم په شان دحشودی په دی کی البتة په ضرب ددی بحرکي قبض ممتنع دی.

السابع الرجز

شرح: اووم بحررجزدی. دیته رجزوائی ځکه رجزپه معنی داضطراب سره دی اودابحر هم مضطرب دی . ځکه جایزدی حذف ددوحرفونودهرجزء ددی نه اوعلل اوزحافات په کی ډیرراځی اوهمدارنګه شطرجزء اونهک پکی راځی نوحاصل داجه په دی کی تغیرات ډیرراځی په نسبت سره نورورټولو بحرونوته نوپه یوحال باقی نه پاتی کیږی (دمنهوری).

۱ - کل جزءٍ اول بیتٍ - ددي حاصل داشوچه ابتدا صفة داول جزء دمصراع اول دی

۲ - أعل بعلة - دلته مراد علة نه هغه علة مقابل دزحاف نه دی بلکه مراد مطلق تغیر دی نوبناء په دی لکه څنگه چه خرم علة دی اوپه أول جزء دبیت کی راځی اوپه حشوه کی منع دی نوهمداسی خبن دمصدربحرمدید هم دی خبن اگرچه زحاف دی خودبحرمدید په صدرکی چه فاعلاتن دی په غیردمعاقبی څخه جائزدی اوپه حشوه کی په غیر دمعاقبه نه جائزنه دی

۳ - ممتنعة فی حشوه - ددی عبارة سره به دا ولگو ، سواء إمتنعت فی العروض والضرب کالخرم اوجازت کالخبن فی المدید ،

حاصل د اچه ابتدا دبیت اول جز چه داسی تغیر پکی وشی چه په حشوه کی نه وی جایز برابره خبره ده چه ضرب اوعروض کی هم نه وی جایز لکه خرم یاپه دی دواړوکی جایزوی صرف په حشو بندوی

۴ - کالخرم دخرم تعریف مخکی ذکر شودی حاصل ئی دادی حذف داول دوتد مجموع په صدردبیت کی لکه دفعولن فاء حذف شی نوعولن شی بیا نقل فعلن ته شی .

والاعتماد كل جزء حشوى زوحف بزحاف غير مختص به كالخبن

ترجمه: او اعتماد هرهغه حشوي جزء دي چه مزاحف شي په داسي زحاف چه خاص نه وي ترحشو پوري لکه خبن :-

توضيح: دامذهب دمصنف دي اودفن په ائموکي داخفش قول دي ددي حاصل دادي يوحشوي جزء چه په داسي زحاف مزاحف وي چه دازحاف خاص نه وي ترحشوپوري نوغي نودغي جزء حشوي ته اعتماد ويلي شي اوكه په داسي زحاف مزاحف شي چه خاص وي تر دي پوري نودابيا اعتماد نه دي

فائده : په اعتمادكي دري قولونه نورهم دي دوه دزجاج نه نقل دي اويودجمهورونه تفصيل ئي (حاشيه كبرىٰ كي دي)

اوددي جزء ته اعتماد ويلي شي [لاعتماده على شئ بعده]

والفصل كل عروض مخالفة للحشو صحةً واعتلالاً

ترجمه اوفصل هرهغه عروض ته ويلي شي چه مخالف وي دحشونه په صحة ياعلة اوتغيرراتلوكي اوشرح يعني يوعروض كي صحته لازم وي لكه عروض دمنسرح چه صحة ئي لازم دي چه عدم الخبل دي اودا په حشو كي نه دي لازم ياپه كبن داسي تغير لازم وي چه په حشو كي نه وي لازم لكه قبض په عروض دطويل كي اوخبن په عروض دبسيط كي

فائده : فصل په لغة كي قطع ته ويلي شي اوداقسم عروض هم جدادي دباقي اجزاءونه للزومها مالم يلزم في الحشو :-

والغاية في الضرب كالفصل في العروض

ترجمه اوشرح - اوغاية په ضرب کی داسی یو قسم دی لکه فصل چه په عروض کی ؤ

یعنی غاية هرهغه ضرب چه مخالف وی دحشونه صحته واعتلا الا - لکه ضرب دقسم اول دمتقارب کی صحة لازم دی اوداپه حشو ددی بحر ونو کی نه دی لازم -

فائده غاية په لغة کی آخر ته ویلی شی اوضرب هم آخر البیت دی

لطیفه - اکثر دضربو غایات وی فتدبر -

والموفور كل جزء سلم من الخرم مع جوازه فيه

ترجمه اوشرح امو فور هرهغه جزء دی چهسالم پاتی وی دحزم نه سره ددی چه داحزم پکی جایز وی یعنی موفور هرهغه صدر سالم دی ددخول دخرم نه بالفعل اگرکه جائز وی ځکه شروع ئي دوتدنه شوی وی لکه طویل هزج وافر مضارع متقارب ·

فائده موفور لغةً الشئ التام اواصطلاحا ماذکره المصنف

ولايخفى وجه المناسبة والسالم كل جزء سلم من الزحاف مع جوازه فيه

ترجمه اوشرح - اوسالم هرهغه جزء دی چه روغ پاتی وی دزحاف نه سره دجواز دزحاف نه په دیکی خوپه دی خبریدل ضروری دی چه سالم صفة دحشوی دی په دلیل ذکر دوالصحیح دروستوددی نه نوحاصل ئی داشو - چه السالم الحشو العاری من الزحاف الجایزفیه --

لطیفه سالم لغةً الصحیح الخالص من الآفات واصطلاحا ماذکره المصنف رحمه الله ولایخفی وجه لمناسبته

والصحيح كل جزء لعروض وضرب سلمَ ممالايقع حشواًكا لقصرو اتنذييل

ترجمه اوشرح : - اوصحيح هرهغه عروض ياضرب دی چه سالم پاتی وی دداسی تغيرچه هغه نه واقع کيږی په حشو کی يعنی سالم وی دعللونه - لکهن قصر اوتذييل قصر مثال دعلة انقصان اوتذيل مثال دعلة الزيادة -

والمقری كل جزء سلم من علل الزيادة مع جوازها فيه كا لنذييل

ترجمه اوشرح : - اومعری هرهغه جزدي چه سالم ودی دعللو دزيادة نه سره دجواز ددی نه په دی جزء کی . لکه تذيل ترفيل اوتسبع شو صحيح دمطلق علة نه خالی اوروغ پاتی وی اومعری دعلة الزيادة نه روغ اوخالی دی

تنبيه : - تعريه خاص ده ترضرب پوری خکه نشته داسی يوعروض چه علل الزيادة په کی راشی چه سالم ئی بياخاص شی په اسم دمعری سره ولی چه تعريه اوتحديد سبق تلبس غواړی فتدبر

فائده : معريی ی صيغه داسم مفعول ده دتعريه نه لغةً التجريد من الثياب ولا يخفی وجه المناسبة

ختم شو علم عروض بعون الله

شروع دعلم قوافی

العلم الثانی فیه خمسة اقسام

مصنف رحمه الله وائی چه دوهم علم دهغه علمینو څخه چه متعلق دی ترشعر پوری اوعلم القوافی ورته ویلی شی په دی کی دلته پنځه اقسام یعنی مباحث اوعنواین دی۔

تنبیه: تعریف - موضوع غایه او واضع ددی علم ددبیان دادی

تعریف دعلم القوافی:

هوعلم یعرف به احوال اواخرالابیات الشعریة من حرکةٍ وسکون ولزومٍ وجوازٍ وفصیحٍ وقبیحٍ ونحوها

موضوع ددی علم:

اواخرالابیات الشعریه من حیث مایعرض لها.

فائده ددی علم: **الاحتراز عن الخطاف القافیه**

واضع ددعلم:

مهلهل بن ربیعة ، خال امرئی القیس .

الاول القافیه:

شرح مبحث اول په حقیقت اوتعریف دقافیه کی دی ۔

حابره - قافیه فاعلة ده دقفی یقفو نه په معنی دتبع سره یعنی چا پسی روستو تلل قافی نه دینه ته هم قافیه وائی لانها تتبع ماقبلها من البیت اوتتبع اخواتها ۔

نوبنا، په دی فاعلة په خپله معنی سره دی او یا په معنی دمفعولة سره دی لکه راضية نوقافی ته قافیه ویلی شی لان الشاعر یقفوها ای یتبعها وینظم علیها

وهي من آخرا لبيت إلى اول متحرك قبل ساكن بينهما

ترجمه اوداقافیه عبارة دی دبیت آخر حذرف نه سره داول متحرك نه هغه متحرك چه مخکی دساکن نه دی هغه ساکن چه مابین دآخردبیت اوپه مابین داول متحرك کی دی

شرح :- إلى اول متحرك آه إلى په معنی دمع سره دی قبل ساکن داظرف صفت دی دپاره دمتحرك یعنی هغه متحرك چه دساکن مخکی وی وبينهما ظرف صفت دی دپار دساکن یعی هغه ساکن چه ددغه متحرك اوآخردبیت په منځ کی دی -

حاصل دتعریف قافیه عبارة ددوو ۲ سکانینو څخه په آخر دبیت کی سره دهغو متحرکو حرفونو چه ددی دواړو ساکنینو په منځ دی اوسره دهغه متحرك حرف نه چه داول ساکن نه مخی دی توضیح کامل په تعریف دقافیه کی

آخری حرف دبیت خوضرور ساکن وی نودهغی څخه مخکی راځه بل کوم ساکن حرف چه راغلی نودادواړه سکانان راواخله اوددی دوسکاکنینو ترمنځ چه کوم متحرك حرف حرف وی که یووی یادوه یادری داهم رواخله اود اول ساکن څخه مخکی متحرك هم راواخله بس دامجموعه قافیه شوه :-

فایده :- په قافیه کی لس [۱۰] اقوال دی داقول دخلیل دی دده نه یوبل قول هم نقل دی بناء په هغه دوهم قول باندی داول ساکن څخه

دمخکی متحرك حرف حرکة په قافیه کی معتبر دی حرف نه دی معتبر کما فی مختصر التفتازانی .

وقد تکون بعضه کلمة وبیته

وقوفا بهاصحبی علی حطهم یقولون لاتهلك أسی وتحمل هی من الحاء إلی الیاء

ترجمه - نوکله داقافیه څه حصه دکلمی اومثال دغه بیت مذکور چه د دی بیت په آخری کی دحاء نه واخله تریاپوری قافیه ده

توضیح : - دمثال ددی مذکور بیت په آخرکی تحمل کلمه ده فعل أمر دی دباب تفعل نه ددی بعض حصه چه حمل ده داقافیه ده په دی طریقه به ئي ولیکی جَمْمَلــی نوآخری ساکن یاء ده چه پیدا ده داشباع دکسری دروی نه او اول ساکن اول میم دی چه مدغم دي اومنځ کی میم ثانی اولام متحرك دي نود ا به راواخلو اوداول ساکن څخه مخکی حرف په حاء ده هغه به هم معتبر کړی نوداټوله قافیه شوه

فائده ۱ په دی بیت کی دوتجمل روایت هم شته نوبیابه قافیه من الجیم إلی الیا، وی فتدبر

فائده ۲ - دکلمه نه مراد دلته کلمه عرفیه ده نه نحویه اونه لغویه څکه دنحوئی اولغوئی اطلاق حقیقة په لفظ لمعنی مفرد باندی کیږی - ددی وجی راروان مثال کی محملی ته کلمه ویلی ده اوحال داچه مضاف الیه کلمتان دی په نحوه اولغة کی

ترجمه دبیت مذکور : -

« په داسی حال کی چه څما ملگروماته خپلی سورلی ودرولی وی»

« او ویل ماته څان مه هلاکوه دډیرغم نه اوزغم نه کار واخله »

وكلمةً كقوله: ففاضت دموع العين مني صبابةً *علـــى النحـــر

حتى بل دمعي محملي

ترجمه : اوکله قافیه مکمله کلمه وی لکه په دی قول دامرء القیس

کی چه ذکردی :-

توضیح :- دمثال اوتعین دقافیه :- په بیت مذکور کی محملی

قافیه ده څکه آخری کی یاء ساکنه اول ساکن حاء ده اوددی نه

مخکی متحرك میم دی نو دمیم نه ترآخره قافیه شوه . فتدبر

ترجمه دبیت مذکور :-

«پس اوبهیدی اوښکی دسترګو څما دوجی دعشق نه»

«څما په سینه تردی چه لوند کړو اوښکو څما کجاوه یاپټ دتوری»

وكلمة وبعض أخرى كقوله :وبارح ترب هي من الحاء الى الواو

ترجمه اوکلة قافیه کلمه مکمله اوڅه حصه دبلی کلمی وی لکه په

دی قول مذکور دشاعر کی چه دحاء نه واخله تر واو پوری قافیه ده

توضیح اومثال اوتعین دقافیه :-

داقول مذکو څه حصه دبیت بیت مکمل داسی دی

دمن عفت ومحا معالهما ** هطل احبش وبارحٌ تربو

په دی کی حٌ ترب قافیه ده څکه داسی به ئی ولیکی حُـــنْ تَرِبُـــو

نوآخرکی واو ساکن

اومخکنی ساکن نون دتنوین دی په بارحٌ کی اودهغی نه مخکی

متحرك حاء ده نو دحاء څخه روستو قافیه شوه اوترب یوه کلمه ده

اوحٌ ورسره حصه دبلی کلمی ده چه بارحٌ دی فتدبر

تنبیه :- دابیت سره دترجمی په بحر کامل کی ذکرشوی دی

وكلمتين كقوله مكرٍّ مفرٍّ مقبل مدبر معاً كجلمو

دصخر حطه السيل من عَلِ هي من من أ الياء

ترجمه: اوكله به قافيه دوه كلمى وى لكه په دى قول دأمرى القيس كى چه په د من نه واخله تر ياء پورى قافيه ده.

توضيح دمثال اوتعين دقافيه

په بيت مذكور كى من عل قافيه ده تعريف دقافى وباندى صادق دى ځكه آخرى ياء ساكنه اواولنى ساكن نون دمن ددى منځ كى عين لام متحرك نودامجموعه سره هغه متحرك نه چه داول ساكن څخه مخكى دى چه ميم دمن دى داقافيه شوه اوكلمتان هم دى ځكه من يوه كلمه ده اوعل بله كلمه ده.

ترجمه دبيت مذكور:

« داس ځماپه حمله كوونكى په شاتلونكى دى په يو وخت كى »

« لكه غټه ګټه دغرچه راوغرزوى سيلاب دبراطرف نه »

سوال: مصنف رحمه الله ولى ذكر نه كړه هغه قافيه چه كلمتين اوبعض أخرى وى لكه نقرجبر الدين الاله فجبر چه په دى كى له فجبر قافيه ده چه جبر يوه كلمه اوفاء بله كلمه ده اوله بعض دكلمى ده اوله بعض دكلمى اخرى څخه دى

جواب: مونږ ذكركړى ؤ چه مراد دكلمى نه كلمه عرفيه ده اوپه عرف كى فجبر يوه كلمه ده نومثال داخل شو په كلمه وبعض أخرى كى.

الثانى ترجمه: دوهم قسم داقسام وخمسو اومباحثو خمسودعلم القوافى څخه

حروفها ستة ترجمه - حروف دقافي شپږدي

شرح مراد هغه حروف دقافي دي چه يو شاعر ئي په مطلع دشعر کي راوړي نو واجب شي په شاعر رواړل ئي په نورو ابياتو کي يا بعينه لکه حرف وي اويائي نظير لکه دخيل شو وتعرفه ستة : شپږ په دي معنی سره دي چه مجموعه ددي حروف څخه به قافيه خالي نه وي اگر که راوړل دهر واحد ضروري نه دي فتدبر-

فائده حروف ورته په اعتبار دغالب ويل شوي اگر که أسم پکي هم شته لکه په ولاعرضي کي چه ياء ضمير دي اوپه حروفودقافيه کي هم دي چه وصل دي .

اولها الروی: ترجمه اول حرف دحروفو دقافي نه روی دي

ماذکرته روی ويلي شي ماخوذ دي دروية نه په معنی دفکر سره څکه شاعر په دي کي فکر او سوچ کوي نوفعيل په معنی دمفعول سره دي

فائده مهمه :- اعظم او اشرف په حرفو دقافيه کي روی دي څکه ددي نه يوه قافيه هم نه خالي کيږي ددي وجي نه ماتن اول ذکر کړو نو اولها کي اول په دي معني سره نه دي چه په حروفو دقافيه کي داول ذکر وي څکه چه ردف تاسيس دخيل په دي مخکي وي .

وهو حرف بنيت عليه القصيده ونسبت اليه

ترجمه اودا روی هغه حرف دي چه بناء دقصيدي پري شوي وي او قصيده ورته منسوبه کيږي - گرخي

شرح - مصنف رحمه الله تعريف ددوي وکړو لو په دي کي دوه وجي دمعرفت ذکر کړي

۱ - جنیت علیه القصیدة یعنی په حرف روی بناء قصیدی راځی په دی معنی چه یوشاعر قصد وکړی دیوحرف دهغه حروفوڅخه چه صالح دی دروی جوړیدلو دپاره نوتیارکړی په هغی یوبیت بیاددی التزام وکړی ترآخرد قصیدی پوری یعنی هر یوبیت دقصیدی تابع ددغی حرف شی اوبناء ئی په هم دی شی اوهمدا په کی روی وی

۲ - نسبت الیه اونسبت دقصیدی هم دی حرف ته کیږی لکه ویلی شی قصیده نو نیة دامری القیس قصیده په سبع المعلقات کی لامیه ده ځکه روی پکی لام دی دطرفه قصیدة دالیه ده دزهیر میمیه وکذلك

ثانیها الوصل وهو حرف لین ناشئ عن اشباع حرکت الروی اوهاءٌ تلیه

ترجمه: دویم دحرفو دقافی وصل دي اود اهغه حرف علة دی چه پیدا وی داشباع دحرکة دحرف دوی نه اویاهغه هاء ده چه یلی اویوځای وی دروی سره .

شرح : دیته وصل ویلی شی لوصله بالروی نومصدر په معنی داسم مفعول دی اوپه اصطلاح دفن کی وصل ددو۲ شیانوڅخه عبارة دی اول هغه حرف علة ساکنه چه پیداشی داشباع دحرکة دحرف روی څخه مثلا حرف روی مضموم دی نوته ضمی ته اشباع ورکړی نو واو پیداشی نودعه واو وصل دی یادوی مکسور وی نونودکسری داشباع څخه یاء پیداشی نودا یاء وصل دی وکذلك الالف من اشباع فتحه الروی

اودوهم شی چه وصل وی هغه هاء ده چه دروی سره یلی اویوځای وی نو په متن کی هاءٌ مرفوع دی عطف دی په حرف باندی .

فائده :- په متن کی ذکر دحرف لین دی مراد ورنه مده دی نوذکرد عام مراد ترینه خاص دی فتدبر.

تمهید :-

زدکړه دخبره چه وصل اولا په دوه قسمه دی - حرف لین مذکور ۲ هاء چه ېلی دروی سره وی :- اوتفصیلا په اوه قسمه دی دری أقسام دحرف لین - الف یاء اوواو اوڅلور اقسام هاء دپاره ساکنة - مفتوحه - مکسورة - مضمومه نومصنف رحمه الله وائی

فالالف كقوله اقلي اللوم عاذل والعتابا

ترجمه : نو چه وصل الف وی لکه په دی قول دشاعر کی چه ذکردی

توضیح دمثال په مذکورقول کی تاباقافیه ده باء روی دی اوالف وصل

نکته لطیفه :- دامذکور یومصراع دبیت ده مکمل بیت داسی دي اقلی اللوم عاذل والعتابا :- وقولی ان اصبت لقد اصابا - داد جریرشعردی دبحر وافرڅخه

نواصل کی شاهد په اصاباکی دی چه صاباقافیه بأروی دی اوالف وصل دی

پس په مصنف رحمه الله سوال : راځی په کارداوه چه بیت ئی مکمل ذکرکړی وی اویائی عجز ، ذکرکړی وی ځکه قافیه خوپه دوهمه مصراع کی وی لیکن دمنهوری په حاشه کبریٰ کی جواب :- کړی دی چه بیت مقفیٰ دی اوعروض دمقفیٰ په شان دضرب ددی وی په وزن اوروی کی فتدبر.

ترجمه دبیت مذکور :-

کمه کړه ملامتیا ای ملامت کونکیه اوعتاب ** اووایه چه کله ماحق خبروکړه چه ده حق أویل

والواو بعد ضمة كقوله: سقيت الغيث ايتها الخيام

اووصل چه واو وی پس دضمی نه لکه په دی قول دشاعرکی چه ذکر شوی دی

توضیح دمثال :- یامو قافیه ده میم روی دی اوواو وصل دی اوپه بعد ضمة سره احتراز دبعد فتحة څخه وکړو لکه دځوځکه هلته به واو وصل نه وی بلك دو به وی

فائده :- دا مزکوره دوهمه مصراع ده مکمل بیت داسی دی

متى كان الخيام بذى طلوح ** سقيت الغيث ايتها الخيام:

اوداهم دجرشعردی دبحروافرڅخه

والياء بعد كسرة كقوله * كمازلت الصفواء بالمتزلى

ترجمه : اووصل چه یاء وی پس دکسری لکه په دی قول دشاعر چه ذکرشوی دی

شرح :- اوتوضیح دمثال په مذکور بیت کی تزلی قافیه ده لام روی دی اوبعد کسرة سره ئی دبعد غیرکسرة نه احتراز وکوړو چه هغه به وصل نه وی اودا لف سره ئی بعد فتحة ذکر نه کړو لانه لایکون الاكذلك :-

فائده. دامذکور هم مصراع ثانی دبیت ده مکمل بیت داسی دی

کمیت یزل اللبد عن حال متنه کما زلت الصفواء بآلمتنزلی دادامرء القیس شعردی دبحر طویل څخه

ترجمه سورنن اس دی چه خویږی خل دمنخ دشانه ـ لکه چه خویږی هواره گته په باران سره

والهاء تکون ساکنةً کقوله فمازلت أبکی حوله واخاطبه

ترجمه اوحرف وصل چه هاء وی نوکله ساکنه وی لکه په دی مذکور قول دشاعر کی

توضیح په مذکورقول کی خاطبه قافیه ده باء روی دی اوهاء وصل دی

فائده :- دلته مکمل بیت داسی دی وقفت علی ربع لمیة ناق تی فمازلت ابکی حوله واخاطبه داد ذی الرمة شعردی دبحرطویل څخه

ترجمه : ماودروله اوښه دمید محبوبی دکورسره ـ نوهمیشه وچه ژړل دهغی نه گیرچاپیر اوخبری می ورسره کولی

ومتحرکةً مفتوحةً کقوله: یوشك من فرّ من فی بعض غرّاته یوا فقها :

ترجمه :- اوهاء الوصل ، کله متحرك اوبیا مفتوحه وی لکه په دی قول دشاعر کی چه ذکر دی

توضیح دمثال ـ په مذکور بیت کی وافقها ـ قافیه ده قاف روی دي اوهاء وصل دی اوالف روستو دهاء څخه خروج دی چه بحث ئی راخی

ـ فائد ه ده مذکور بیت د أمیه ابن ابی الصلت دی دبحر منسرح څخه

ترجمه دبیت مذکور نزدی ده چه څوك تښتی دمرگ نه ـ چه په بعض غفلتونوکی به ورسره مخامخ شی

ومضمومة کقوله فیالائمی دعنی اغالی بقیتمی فقیمـــة کـــل ـاس مایحسنو نهو

ترجمه: اوهاء الوصل چه مضمومه وی لکه په دی قول دشاعر کی چه ذکر دی

توضیح دمثال: په مذکور بیت کی نونهو قافیه ده اونون ثانی روی دی اوهاء وصل دی اوواو خروج فائده مذکور بیت دبحر طویل ځخه دی

ترجمه: ای زما ملامت کونکیه پریږده ماچه زه خپل قیمت زیاتوم خکه قیمت دهرچاهغه دی چه دوی ئي ښه وګنړی

ومکسورةً كقوله كل امرئ مصبح فى اهله والموت ادنى من شراك نعله

ترجمه: اوهاء الوصل چه مکسور وی لکه په دی قول دشاعر کی چه ذکردی

توضیح دمثال په بیت مذکورکی نعله قافیه ده لام روی دی هاء وصل دی

فائده: بیت مذکور درجزنه دی اودحکم بن نهشل شعر دی سیدا بوبکر ﷺ نه ئی هم انشاد نقل دی

ترجمه هرسړی صباکوی دخپل بالبچ سره حال دا چه مرګ ورته دخپلی دمزی نه ډیر نزدي دی

ثالثها الخروج وهو حرف ناشئ عن حركة هاء الوصل

ترجمه: دریم دحرفو دقافی نه خروج دی اوداعبارة دهغه حرف نه چه پیداوی دحرکة دهاء دوصل ځخه

شرح: دیته خروج ویلی شی لخروجه وتجاوزه الوصل التابع للروى په بعض نسخوکی هو حرف لين آه یعنی خروج نه دی مگر لین بلکه مدة وی چه پیدا دی داشباع دحرکة دهاء الوصل نه

ویکون الفاکیوافقها وواواکیحسنو هُو ویاءً کنعلهی

ترجمه اوداخروج کله الف وی لکه په اول مثال کی کله واو وی لکه په دوهم مثال اوکله یاء لکه ن ددریم مثال کی

توضیح دمثال :- مصنف رحمه الله دلته محل دشاهد ذکرکړو په دری واړو مثالو نو کی اشعارئی مخکښی ذکرشوی ؤ په وصل کی نوپه اول مثال کی وافقها قافیه قاف روی هاء وصل اوالف خروج دی په دوهم کی نو نهو قافیه نون روی هاء وصل او واو خروج په دریم کی نعلهی قافیه -- لام روی - هاء وصل - اویاء خروج دی -

فائده ۱ - دحرف رَوی نه روسته دقافیی ددوو ۲ حرفونو ښخه چه وصل اوخروج دی زیات حرف نه وی

فائده : ۲- دوصل دپاره دری وی متحرك ګرځیدل ضروری دی لکه دخروج دپاره دهاء الوصل تحرك

رابعها الردف وه وحرف مدقبل الروی

ترجمه خلورم دحروفو دقافیی نه ردف دی اوداعبارة دهغه حرف مدة نه چه دروی نه مخکښی وی

شرح : ردف مصدری په معنی درادف سره

سمی به لانه خلف الروی اما خوذ من ردیف الراکب والردیف وان سبقت نطقا لکنه مؤخررتبة من الروی لانه دونه فی اللزوم

فالالف کقوله الاعم صباحا ایها الطلل البالی

ترجمه : پس چه ردف الف وی لکه په دی قول دشاعرکی ذکردی

توضیح دمثال :- په مثال مذکورکی بالی قافیه ده لام روی یاء وصل دی اوالف چه لام دوی ښخه مخکښی دی هغه ردف دی

فائده - دلته هم دامذکورمصراع اول دی اوقافیه په مصراع ثانی کی
دی خوکماذکرنا دلته هم بیت مقفی دی فلایرد مایرد شعردامرء القیس
دی دبحرطویل څخه مکمل بیت داسی دي
الاعم صباحاً ایها الطلل البالی وهل یعمن من کان فی العصر الخالی .

ترجمه: ای صبا هوپه خیر شه أی زړوکنډرو آیاپه خیردی هغه څوك چه په زمانه تیره کی ؤ

والیاء کقوله بعید الشباب عصر حان مشیبو

ترجمه: اوچه ردف یاء وی لکه په دی قول دشاعر کی چه مذکورد ی
توضیح دمثال :- په مذکورمثال کی شیبو قافیه ده باء روی دي
واو وصل دی اویاء دباء نه مخکی ردف دی

فائده :- دامذکور دوهمه مصراع ده شعر دبحر طویل څخه دی اومکمل بیت داسی دي
طحابك قلب فی الحساب طروب "بعید الشباب عصر حان مشیبو
ترجمه ئی داسی ده : «هلاك کړوتالره هغه زړه چه بی قراره اومست دی په محبت دخائستوکی »« لرې څه روستو دځوانی نه په هغه زمانه کی چه رانزدی شو بوډا والی »

والواو کسرحوبو

ترجمه اوچه ردف واو وی لکه په سر حوبو کی
توضیح -دلته مصنف رحمه الله فقط محل دشاهد ذکر کړو څکه بیت ئی مخکی په بحر بسیط کی تیر شویدی چه قداشهد الغارة الشعواء تحملنی - جرداء معروقة اللحیین سرحوبو نو په دی کی

حوبو قافیه ده باء روی دی او واو چه دباء نه مخکی دی ردف دی اوآخرنی واو وصل دی ترجمه ئی مخکی ذکر ده

خامسها التاسیس وهو الف بینه وبین الروی حرف

ترجمه :- پنځم دحروفو دقافی څخه تاسیس دی اوداعبارة دهغه الف نه چه دده اودروی په مینځ کی یو حرف وی

شرح :- تاسیس مصدر دی په معنی داسم المفعول ای الموسس به دی مذکور الف ته تاسیس ویلی شی ځکه دا مقدم دی په ټول احرفو دقافیه کی نومشابه شو روی داساس البناء سره - بینه وبین الروی حرف پ هدی سره احتراز وشو دالف دمال نه چه لام دوی دی ځکه منځ کی فاصل حرف نشته اوهمدارنګه دالف د دارهم نه چه میم روی شی ځکه منځ کی فاصل اکثر دحرف څخه دی فتدبر.

تمهید :- تاسیس په دوه قسمه دی أولا یابه دکلمی دروی څخه وی یعنی په کلمه دروی اوتاسیس به واحده وی اویابه غیر دکلمی دروی څخه اوچه کله غیر وی دکلمی دروی نه داپه دوه ص صورتونوکی دی ۱ - چه روی ضمیر وی ۲ - چه روی بعض دضمیر څخه وی نو ځکه مصنف رحمه الله وائی -

ویکون من کلمة الروی کقوله ولیس علی الایام والدهر سالمو

ترجمه :- اوکله وی تایس دکلمی دروی څخه لکه په مذکور قول دشاعر کی توضیح اوتطبیق دمثال - په مثال مذکورکی سالمو قافیه ده میم روی دی واو وصل دی اوألف تایس دی

شرح :- ځکه دده اودروی پ ه منځ کی یو حرف فاصل دی چه لام دی

فائده :- دامذکور نیم بیت دی دبحرطویل څخه تر جمه ئی داده «اونشته په ورځو اوزمانو کی څوك دغم نه خلاص اوخالی»

ومن غير ها ان كان الروى ضمير ا كقوله

الا لا تلو مانى كفى اللوم مابيا ** فمالكما فى الـــلوم خيرٌ ولالـــيا

الم تعلماان المـــلامـــة نفـــعها ** قليل وما لومى أخى من سما تيا

ترجمه اوتاسيس كله وى غير دكلمى دروى نه كه چرته روى ضمير وى لكه په دى مذكو ر قول دشاعر كى

توضيح اوتطبيق دمثال - په اول بيت كى لاليا قافيه ده ياء ضمير روى دى اوالف دلا تاسيس دى څكه دده اودروى په منځ كى يو حرف دى چه لام دى اوتاسيس غير دكلمى دروى څخه دى څكه كلمه دروى ياء دضمير ده فقط اوپه دوهم بيت ماتيا - قافيه ده ياء دضمير روى اوالف دما تاسيس دى څكه دده اودروى په منځ كى يو حرف دى چه تاء ده

لطيفه مصنف رحمه الله دوه بيتونه ذكر كړه اشارئى وكړه دى خبرى ته چه په تاسيس كى التزام دى په شاعر ترآخر دقصيدى پورى

فائده مذكور شعر دعبد يغوث حارثى جاهلى دى دبحر طويل څخه بندى شوى ؤ نودانى ويى ؤ

ترجمه - خبردار مامه ملامته كوى بس دى دملامتيا دپاره زما داحال نونشته په ملا متيـاكى څه خير نه تاسو ته اونه ماته اياتا سونه پوهيږى چه يقينا مملامتيما فائده ډير ه كمه ده اونه دى ملامته كول دورور څما داخلاقو څخه

اوبعضها كقوله

فان شئـــتما ألقحتما اونتجتما ** وان شئتما مثلا بمثل كما ها

وان كان عقلا فاعقلا لاخيكما** بنات مخاض والفصال المقادما

ترجمه - اوتاسیس غیر دکلمی دروی نه وی که روی بعض دضمیر نه وؤ لکه په دی قول دشاعر کی چه ذکر دی

شرح اوتطبیق دمثال - مخکی مونږ په تمهید کی ذکر کړه چه تاسیس غیر دکلمی دروی نه وی دهغی دوه صورته دی یوصورت مخکی ذکر شو چه روی ضمیر وی دادوهم صور تچه روی بعض دضمیر وی نوبیاهم تاسیس غیر وی د کلمی د روی ځخه محل دشاهد په اول بیت کی دی چه ماهما قافیه ده اومیم روی دی چه بعض حصه دضمیر ده ځکه ضمیر هما دی اوالف دما تاسیس دی او غیر هم دی دکلمی دروی ځخه ځکه کلمه دروی هما ده اوتاسیس په مستقله کلمه کی دی په دوهم بیت کی قادما قافیه ده میم روی دی اوالف دها تاسیس دی البته شاهد په أول بیت کی دی نه په دوهم کی کما هو الظاهر دوهم بیت ورسره ذکر شو کماذکرنا من قبل

فائده پیتونه دواړه دبحر طویل ځخه دی ترجمه داسی ده

که ستا خوښه وی نو لنگی اوښی واخلی یابلا ربی - اوکه ستاسوخوښه وی نوبرابری وکړی لکه چه دوی دواړه وو ، اوکه دیت غوادی نودیت واخلی دځپل روږپاره - کلنی اوښی اوبچی داوښانو چه درته مخکی دی

سادسها الدخیل وهو حرف متحر ك بعد التاسیس كلام سالمُ

اترجمه شپږم دحروفو دقافی نه دخیل دی اوداعبارة دی دهغه متحرك حرف ځخه چه روسته دتاسیس ځخه وی لکه لام په سالمُ کی

شرح دخیل فعیل دی په معنی دفاعل سره أ ی الداخل بین الف التاسیس والروی

مثال ددخيل لکه لام دسالم شو چه مخکی بيت کی ذکر شوی ؤ نوسالمو قافيه ده ميم روی اوالف تاسيس اولام دخيل دی په متحرك سره ئی احتراز وکړو دردف څخه ځکه هغه ساکن وی

فائده: ردف اودخيل نه جمع کيږی په يوه قافيه کی اوهمدارنگه ردف اوتاسيس هم نه جمع کيږی البته تاسيس اودخيل متلازمان دی

الثالث حرکاتها ست

ترجمه اوشرح – دريم دمباحثو اواقسامو موخمسو دقافی نه په حرکاتودقافی کی دي

حرکات دقافی شپږ دی يعنی هغه حرکات چه کله يوشاعر راتلل وکړی په هغی باندی په مطلع دشعر خپل کی نو واجب وی التزام ئی په نورو أبياتو کی هم

فائده - دغه حرکات بعض دنفس حرف دی اوبعض په نسبت سره ماقبل ته دی اوهمدارنگ ددی شپږوقسمونو حرکاتوجمع هم ضروری نه ده فلا يرمايرد فتدبر

اولها المجری وهو حرکة الروی المطلق

ترجمه اوشرح: - اول ددی حرکاتو مجری دی اوداعبارة دی د حرکت دحرف دوی مطلق اومتحرك نه روی مطلق عبارة دی دهغه متحرك حرف نه چه الف ورپسی وی لکه اصابایا واو لکه تربو یاياء لکه الکو اکبی - مطلق ورته ځکه چه صورت وربانديٰ روان دی اوحرکة ته ئي مجری ويلی شی ځکهخ په معروض باندی صوت جاری دی.

ثانیها النفاذ وهو حرکة هاء الوصل کیوافقها وویحسنو نحو ونعلهی

ترجمه اوشرح: - دویم دحرکاتو دقافی نفاذ دی اودا عبارة دحرکت دهاء الوصل نه لکه فتح هاء دیوافقها اوضمه دهاء یحسنو نهو اوکسره دهاء ونعلهی چه ددی مثالونو أبیات مخکی ذکر شو اودیته نفاذ ویلی شی لان المتکلم نفذ بحرکت هاء الوصل الی الخروج

ثالثها الحذو وهو تحرکة ماقبل الردف کحرکة باء البالی وشین مشیب وحاء سرحوب

ترجمه اوشرح: - دریم دحرکاتو دقافی څخه حذوده اوداعبارة دحرکت دهغه حرف نه چه دردف نه مخکی وی لکه حرکة دباء دالبالی چه الف دردف دی اودباء چه فتحه ده حرکت حذو شو یاحرکة دشین دمشیو چه یاء ردف ده اودشین کسره حذوده یاحرکت دحاء دسرحوب چه واو په کی ردف دی اودحاء ضمه حذو ده ددی مثالونو ابیات هم مخکی ذکر دی ادیته حذو ویلی شی لان الشاعر یحذوها ای یتبعها فی القوافی لتتفق الارداف

رابعها الأشباع وهو حرکة الدخیل ککسرة لام سالم وضمة فاء التدافع وفتحه واو تطاولی

ترجمه اوشرح: - څلورم دحرکاتو دقافی نه اشباع دی اوداعبارة دحرکة ددخیل څخه هغه چه تاسیس اوروی په منځ کی وی لکه کسرة دلام سالم لفظ شوه چه الف تاسیس دی اومیم روی دی اولام دخیل اوکسری ته ئی اشباع ویلی شی اوضمه دفاء دتدافع شوه

چه الف تاسیس دی اعین روی اوفاء دخیل اوضمه ئی اشباع اوهمدارنگه

په تطاولی که الف تاسیس لام روی واو دخیل اوفتحه ئی اشباع ده اودیته اشباع ویلی شی لاشباعها الدخیل وتقویتها علی اخویه التاسیس والردف لانهما ساکتان وهو متحرك

فائده: - په دی مذکوره مثالونو کی دسالم بیت مخکی ذکردی اوتدافع دنابغه دقول څخه دی په بحر طویل باندی برزن الا لا سیر هن التدافع - اوتطاولی- په بل بیت کی دی د رجز څخه یانخل ذات السدر والجداول - تطاولی ماشئت ان تطاولی

خامسها الرس وهو حركة ماقبل التاسيس كفتحة سين سالم

ترجمه اوشرح : - پنځم دحرکاتو دقافی نه رس دي اوداعبارة دی دحرکة دهغه حرف نه چه تاسیس څخه مخکی وی لکه فتحه دسین دسالم شوه چه الف تاسیس دی اوددی نه مخکی دسین حرکة چه فتحه ده رس دی اودیته رس وائی ځکه رس ابتداء شئ علی وحرکة ماقبل التاسیس اول لوازم القافیه وفیه خفاء لانه جزء الف وهو خفی (دمنهوری)

سادسها التوجيه وهو حركة ماقبل الروى المقيد كقوله

حتی اذا جن الظلام واختلط ** جاء وبمذق هل رأ یت الذئب قط

توجمه شپږم دحرکاتو دقافی نه توجیه دی اوداعبارة دحرکة دهغه حرف نه چه مخکی دروی مقید اوساکن څخه وی لکه په دی مذکور ق ا

شرح اوتطبیق دمثال دروی مقید څخه مراد روی ساکن دی په مذکور بیت کی

ذنب قط قافیه ده اوطاء روی ددی مقید اوساکن دی او حرکة دقاف توجیه دی دیته توجیه ویلی شی لان الحرکة قبل الساکن کالحرکة علیه فصار الروی ذاوجهین وموجها بها سکون وحرکة

فائده :- دامذکورشعر دبحر رجز دی . اوترجمه داسی ده

«کله چه تیاره راغله اوخوره شوه»

«نوهغوی لسی دشیدو راوړه تاچرته لیوه لیدلی یعنی دغه رنگ کی وه»

الرابع انواعها تسع،


ترجمه :- څلورم د مباحثو خمسو دقافی نه (په انوعودقافیه کی دی) انواع دقافیه نهه دی

اجمالی بیان دانواعو تسعو

قافیه به یامطلقه وی یامقیده قافیه مطلقه هغه چه روی ئی مطلق اومتحرك وی اومقیده چه روی مقید اوساکن وی دقافیی مطلق دپاره شپږ اقسام دی اودمقیدي دپاره دری اقسام . څکه که مطلقه وه نویابه مجرده وی دردف اوتاسیس دواړو نه اویابه مردوفه وی اویا به مؤسسه نودادری اقسام شو اوچه مطلقه وی نو هرواحد به هم وصل لری نویابه موصوله باللین وی یابه موصوله بالهاء وی څکه وصل دادوه قسمه مخکی ذکر شو پس دری به دوه کی داشپږ اقسام شو اودمقیددپاره دری څکه دی چه یابه داقافیه مقیده

مجـرده وی دردف اوتاسـیس نـه یابـه مردوفـه وی اویاموسـسـه نودادری شو او وصل خونه لری څکه مقیده ده

نقشه اقسام تسعه



ستة مطلقة مجردة موصوله باللین کقوله

حمدت الهی بعد عروة اذنجا**خراش وبعض الشرا هون من بعض

وبالهاء - کقوله - الافتی لاقی العلی بهمه

ترجمه اوشرح - شپږ قسمونه دمطلق دپاره دی چه یابه مجرد ة وی دددف اوتاسیس نه چه بیابه یا مو صوله باللین وی لکه په أول شعرکی یابالهاء لکه په دوهم کی -

تطبیق دمثالونو . په اوا من بعض قافیه ده مطلقه هم ده څکه روی چه ضاد دی متحرك دی اوبیا مجرد ة هم ده څکه نه ردف لری اونه تاسیس اومو صوله باللین ده څکه یاء چه پیداده داشباع دکسری دروی نه چه ضاد دی هغه ورسره وصل دی -

پـه دوهـم مثـال کـی همـه قافیـه ده مـیم روی دی مجـرده هـم ده کمالایخفی اوموصوله بالهاء ده څکه دمیم روی سره هاء وصل دی

فائده :- اول بیت دبحر طویل دی ترجمه داده
ماشا اویله دخپل خدای پس دوفات دعروة نه کله چه نجات
اوموند خراش اوبعض تکلیفونه سپك وی دبعض نه
اودوهم درجز ښخه دی مکمل بیت داسی دی
الافتی لاقی العلی بهمه – لیس ابوه بابن عم أمه
ترجمه :- «ارمان داسی یوځوان وی چه اوموموی اوچتی مرتبی په خپل همیت چه دهغه پلار دهغه دموردتره خوی نه وی» «یعنی دواده دمخکی نه قرابت نه لری چه سبب دضعف دولد ګرځی»

ومردوفة موصولة باللين كقوله – الاقالت بشينة اذ رأتني *
* وقدلاتعلم الحسناءُذاما
وبالهاء كقوله عفت الديار محلها ومقامها

شرح :- داعطف دی په مجردة باندی نومعنی داشوه چه قافیه مطلقه به مردوفه وی یعنی ردف به ولری داهم بیا په دوه قسماه ده موصوله باللین لکه اول مثال کی اوبالهاء لکه په دوهم مثال کی . اوتطبیق دمثال
په اول مثال کی ذاما قافیه ده میم روی دی او الف دذا ردف دی نو مردوفه شو ه اوآخری الف وصل دی نوموصوله باللین هم شوه اوپه دوهم مثال کی قامها قافیه ده میم روی دی اود میم ښخه مخکی الف ردف دی اوهاء وصل دی نوموصوله بالهاء شوه
لطیفه آخری الف په دی مثال کی چه هاء نه روسته دی هغه خروج دی دلته پکی بحث خبره نشته
فائده :- داول مثال بیت داعشیٰ دی دبحر وافر ښخه ترجمه ئی داده خبردار بثینه ماته اویل چه کله ئی زه ولیدم - چه نه ورکه وی

خاسته خځې بدوویلووالا یعنی خائسته خځې پسې سپکې ویلې کیږي . اودوهم مثال دلبید دقصیدې څخه دې دبحر کامل نه ترجمه ئې داسې ده -وران شو کورو نه ځای ددیره کیدلو او ځای دوسیدلو

ومو سسه موصوله باللين كقوله: كليني لهَم ياأميمة ناصب *وليل أ قاسيه بطيئ الكواكب

وبالهاء كقوله في ليلة لا نرى بها أحداً ** يحكي علينا الا كواكبها

ترجمه : - داهم عطف دې په مجردة باندې یعنی قافیه مطلقه به یاتا سیس والاوي چه دابیاځپل کورکی په دوه قسمه ده یابه ورسره وصل لین وي لکه مثال اول اویابه وصل هاء وي لکه مثال ثانی تطبیق ـ په اول مثال کې واکبي قافیه ده باء روي دې الف تاسیس دې اویاء په آخرکې وصل دې اوپه دوهم مثال کې واکبها قافیه ده باء روي الف تاسیس دې اوهاء وصل دې
او الف دهاء څخه روسته خروج دې

فائده اول بیت دنابغه دې بحر طویل نه ترجمه ئې داده
پریده ما یاامیمې داسې غم ته چه ستومانه کونکې دي
اوداسې شپې ته چه زه ئې برداشت کوم اوستورئې سست دي یعنی اوږده ده اودوهم بیت دبحر منسرح څخه دې ترجمه ئې داده
په داسې شپه کې چه نه لیدل مونږ څوک چه خبرشي په مونږ په غیر دستوروددې نه

وثلاثة مقيدة

شرح : - داعطف دی په ستة مطلقة باندی یعنی دری قسمو نه دقافی مقیدی دپاره دی

مجردة كقوله: أتهجر غانية ام تلم * ام الحبل واه بها منجزم

شرح :قافیه مقیده به یامجردة وی یعنی نه په ردف لری اونه تاسیس لکه په دی مذکوربیت کی تطبیق په مثال مذکور کی منجزم قافیه ده میم روی دی ساکن نو قافیه مقیده شوه نه ردف لری اونه تاسیس نومجردة هم شوه

فائده : - بیت مذکوره دأعشی ده دبحر مقارب څخه

ترجمه : « ایاجدابه شی دما خائسته کبرجنه اوکه رانزدی به شی »

« اوکه هغه رسی ددی دمحبت زه ړه اوپریکیدونکی ده »

ومردوفة كقوله – كل عش صائرٌ للزوال

شرح : - اوقافیه مقیده به یاردف والاوی لکه په دی قول دشاعر کی چه ذکر دی چه دادوهم قسم دمقید دی اوتطبیق په دی مثال مذکورکی وال قافیه ده لام ساکن روی نومقیده شوه اوالف ردف دی نومردوفه شوه

فائده : - داشعر په بحر مرید کی ذکر شوی سره دترجمی

وموسسه كقوله: وغررتني وزعمت أن ** نك لابنٌ في الصيف تامر

شرح : - اوقافیه مقیده به یاموسسه وی چه دائی دریم قسم دی لکه په دی قول دشاعر کی چه ذکردی _ اوتطبیق دمثال ، په مثال مذکوره کی تامر قافیه ده راء ساکنه روی دی نومقیده شوه اوالف تاسیس دی نو موسسه شوه

فائده :- داشعر دخطیه دی مجزودبحر کامل مرفل څخه

ترجمه :- « تاماله دوکه راکړه اودادعوه دوکړه چه أوړی کی شید ورکولو اوپه ژمی کی دخرماؤ ورکولو والائی »

تمهید :- ذده کړه داچه مصنف رحمه الله شروع کوی وس په یوبل تقسیم دقافیه کی چه داتقسیم په اعتبار هغه حرکاتو سره دی چه په مابین دساکنینو دقافیه کی و اوپه دی اعتبارسره قافیه په پنځه قسمه ده (۱) متکاوس (۲) متراکب (۳) متدارك (۴) مترادف (۵) نوائی چه

والمتکاوس کل قافیة توالت فیها أربع حرکات بین ساکنیه ا کقوله

قد جبر الدین الالهُ فُجُبر

ترجمه :- اومتکاوس هر هغه قافیه ده چه پرله پسی راشی څلور حرکات په مابین ددو ۲ ساکنینو ددی کی لکه په دی قول دشاعر کی چه ذکردی

تطبیق دمثال - په مثال مدذکور کی له فجبر قافیه ده اوبین الساکنین چه الف دلاه او اخرکی راء ده څلور متحرکات دی هاء فاء جیم اوباء . وجه دتسمیه په تکاوس کی دتمایل معنی ده اودلته هم تمایل اوانضمام دبعض حرکاتودی دبعض سره

فائده :- دامذکور شعر دبحر رجز څخه دی ترجمه ئی داده

« الله ددین اصلاح وکړه نو اصلاح ئی وشوه »

والمتراکب کل قافیه توالت فیها ثلاث حرکات بینهما کقولـه

اخبُّ فیها واضع

ترجمه اومتراکب هرهغه قافیه ده چه پرله پسی راشی په دیکی دری حرکات په مابین دساکنینو ددی کی لکه په دی قول دشاعر کی

تطبیق دمثال په مثال مذکورکی ها وأ ضع قافیه ده اودا لف ساکن اوعین ساکن په منځ کی دری متحرك دی واو -همزه -ضاد.
وجه تسمیه - لان حرکاتها بته الیها کان بعضها یرکب بعضاً
فائده : - دامذکوردمنهوك بحر رجز څخه دی د،ی نه مخکی داسی دی یالیتنی فیها جذع احب فیها واضع -
اوترجمه ئی داسی ده« ارمان چه زه دغه وخت زلمی ووم -منډی می وهلی اوتیز تللی »
والمتدارك کل قافیه توالت بینهما حرکتان کقوله

تسلت عما یات الرجال عن الهوی ** ولیس فوادی عن هواها بنسلی

ترجمه : - اومتدارك هرهغه قافیه ده چه بین الساکنین دوه حرکته متوالی راشی لکه په دی قول دشاعر کی چه ذکردی
تطبیق دمثال : - په مثال مذکورکی ښسلی قافیه ده اوبین الساکنین چه نون اوآخر کیپ یاء ده دوه متحرك دی سین -لام-
وجه دتسمي -لان بعض الحرکات ادرك بعضا
فائده بیت مذکور دقصیدی دامرئی القیس څخه دی په بحر طویل باندی
ترجمه : خلقوگمراهی دمحبت پرخودی خوزما زړه ستادمحبت پرینبودونکی نه دی
والمتواتر کل قافیه بین ساکنیها حرکة کقول الخنساء

یذکر نی طلوع الشمس صخراً **واذکره بکل مغیب شمس

ترجمه :اومتواترهرهغه قافیه ده چه ددی ددوو ساکنین وترمنځ یوحرکةوی لکه په دی مذکور بیت کی

اوتطبق دمثال داسی دی په مثال مذکور کی شمس قافیه ده اوبین اسکانین چه میم اوآخر کی یااشباع ده یومتحرك دی چه سین دی وجه دتسمی لان الساکن الثانی جاء بعد الاول بتراخٍ بینهما بسبب متحرك

فائده بیت مذکور دحضرت حنسأ رضی الله عنهادی دبحر وافرڅخه ترجمه داده رایادوی ماته راختل دنمر صخره - اویادوم زه ده لره په هروخت دډوبیدودنمرکی

والمترادف کل قافیه اجتمع ساکناها کقوله

هذه دارهم اقفرت *ام زبورٌ محتها الدهور

ترجمه - اومترادف هرهغه قافیه ده چه دواړه ساکنان ئی سره جمع اویوځای وی لکه په دی قول دشاعر کی چه ذکر دی - تطبیق هور قافیه ده اوساکنان سره یوځای دی

وجه دتسمی - لانه ردف احد الساکنین فیها الاخر

فائده - بیت مذکور مخکی په بحرمتدارك کی زکر شوی سره دترجمی نه

تنبیه

زده کړه داخبره چه مصنف رحمه الله په تنبیه کی دفع دیوتوهم کوی هغه داچه جایز به نه نوی اجتماع داقسامو خمسو دقافی په منظومه واحدة کی نوماتن به داتوهم دفع کړی اوذکر به کړی چه دا اجتماع جایزه ده اوعیب نه دی

الوتد المجموع اذاكان آخرجزءجازطيه كالبسيط والرجز اوخزله كالكامل

وخبنه كالرمل والخفيف والخبب جاز اجتماع المتدارك والمتراكب اوخبله كالبسيط والرجز أجتمع المتكاوس مع الاولين

ترجمه دتدمجموع چه کله په آخردداسی جزء کی راشی چه دهغی جز طی جائز وی لکه مجزوء دبحربسیط یابحر رجز یاپکی خزل جایز وی چه طی اواضمار دی لك ه بحر رمل خفیف اوخبب یعنی متدارك نودغی صورة کی جایز ده اجتماع دقافیه متدارك اومتراکب یاوتدمجموع په آخر دداسی جزء کی راشی چه خبل ، طی مع الخبن ، پکی جایزوی لکه بحر بسیط اورجز نوجمع کیږی قافیه متکاوس دمتدارك اومتراکب سره

شرح دبعض الفاظ ، جازطیه ، داجمله صفت دی دپاره دجزء په آخر جزء کی ، کالبسیط ، ددینه مجزوبحر بسیط آخری جزء فاعلن دی ولاطی فیه فتدبر

، کالرمل ، ددی نه آخری جزء درمل مراددی خومحذوف یعنی دفاعلاتن څخه په فاعلن جوړشوی وی بالحذف بیاپکی دغه حکم دی فتذکر

، الخبب ، دااِسم دی ذکرمتدارك دپاره

، إوخبله ، داعطف دی په طیه باندی په جاز طیه کی تقدیر دعبارة داسی شو الوتدالمجموع اذاکان آخر جزء جاز طیه اوجاز خبله ۔

کمال توضیح : - ماتن دوه صورتونه ذکر کړه په یو صورت کی اجتماع دمتدارك اومتراکب ده اوپه دوهم کی اجتماع دمتکاوس متراکب متدارك دریوارودی

ددوارو صورتونو دپاره یویو مثال ذکر کوو داول مثال - یوبیت دبحر رجز څخه راغلو نوظاهره چه آخری جزء به مُستَفعلن وی نوقافیه به پکی تَفعلن وزن شی ځکه فاء ساکنه آخرکی نون ساکن سره دمابین متحرکاتو اوداول ساکن څخه مخکی متحرك چه تاء ده .
اوقافیه متدارك ده ځکه بین الساکنین دوه متحرك دی نوچه کله په دی جزء کی طی راشی چه حذف درابع ساکن دی نو دمستفعلن څخه مُستَعلن جوړشی نو وس مجموعه مستعلن قافیه شوه سین ساکن آخرکی نون ساکن اوپه منځ کی دری متحرك شو نو قافیه متدراکب شوه

.دوهم صورت دپاره مثال :

همدابحر رجز به راواخلو آخری جزء به مستفعلن وی نوقافیه به تفعلن وی اومتدارك ده اوچه طی پکی وشی کما مر نو متراکب به شی خوکه خبل پکی وکړی چه طی مع الخبن دی نو مُتَعلن به شی نووس چه قافیه معتبره وی نودمخکی بل جزء څخه به ساکن اودهغی نه مخکی متحرك راواخلی دپاره دصدق دتعریف دقافی خکه دلته خزصرف یوساکن پاتی شو نوقافیه به لُن مُتَعلن شی -
په دی عبارت کی چه مستفعلن مُتَعلن اوداقافیه متکاوس شوه

ځکه بين الساكنين چه آخري نون اواول نون دي ځلورمتحرك دي
ميم تاء عين لام نودري واړه قافيي سره جمع شوي په دي ترتيب
باندفتدبر حق تدبر **«لعلک لاتجدهذاتفصیل»**
فائده ١ په الفيه دابن مالك كي سوي دمترادف نه نوري قافي جمع دي
فائده ٢ : دمنهوري وائي په داسي وخت كي به قصيده ياقطعة
مجازاً وي نه حقيقةً فتدبر
الخامس عيوبها
ترجمه اوشرح : - پنځم بحث دابحاثو خمسود قافيي ځخه په عيوبو
دقافيه كي
يعني په هغوامورو كي چه عيب اوقبح پيدا ك وي په قافيه كي
عيوبونه دقافي تول اوه دي٧
الإيطاء إعادة كلمة الروى لفظًا ومعنًى كقوله
وواضع البيت خرساء مظلمة * * تقيد العير لايسرى بها السارى
لايخفض الرز عن ارض الم به ** ولايضل على مصباحه السارى
ترجمه : - اول قسم دعيبونو دقافي ځخه ايطاء ده چه داعبارة دي
دإعادي دكلمي دروي نه په اعتبار دلفظ اومعنیٰ دواړوسره لکه په
مذكور قول دشاعر كي
شرح يعني په كومه كلمه كي روي دي همغه كلمه دوباره ذكركړي
لفظ هم همغه وي او معنى هم نوكويواځي لفظي تكرار وي اومعنى
متغايره شي يامعنى اعاده وي لفظ متغاير وي فلاإيطاء
(لطيفه) كه دلفظينو مكررينوپه منځ كي فصل راغلو په سبع ابياتو
فصاعدا سره نو فلا إيطاء

وجه دتسمي لما فيه من تواطئ الكلمتين وتوافقها لفظًا اومعنىٰ
تطبيق دمثال - په پاس ذکر شوي دواړي بيتونو کي ساري قافيه ده اوراء روي دي اواعادة دکلمي شويده لفظاً ومعنى

فائده شعرمذکور دنابغه دي دبحر بسيط څخه -

ترجمه اوجوړونکي دکورپه شاړه تياره ځمکه کي - راحصاروي له وجي دګرمي نه خرلره نه ګرځي په ديکي دشپي ګرځيدونکي نه غلي کيږي اوازپه هغه زمکه کي چه بادشاه پکي قيام وکړو - اونه بي لاري کيږي په چراغ دده باندي کوم دشپي تلونکي

والتظمين تعليق البيت بمابعده كقوله

وهم وردوا الجفار على تميم ** وهم اصحاب يوم عكاظ إني
شهدت لهم مواطن صادقات ** شهدن لهم بحسن الظن مني

ترجمه اوشرح: - دوهم دعيوبو څخه تضمين دي اوداعبارت دي دتړلو دبيت نه په اتمام دمعنى کي ترمابتعد پوري لکه په مذکورقول دشاعر کي شو -

وجه دتسميي - لان الشاعرضمن البيت الثاني معنى البيت الاول لانه لايتم الابالثاني -

تطبيق دمثال په اول بيت کي إني قافيه ده نون روي دي خومعنى ئي معلقه ده - تربيت ثاني څکه په اني کي ياء دضمير اسم دان دي اوخبرئي دبل بيت شهدت الخ دي

فائده داشعر هم دنابغه دي دبحر وافر څخه.

ترجمه اودابنو اد راغلل جفا رته په بنوتميم پس - اودوى خاوندان دورځي دعکاظ هم دي

زه حاضر شوی ددوی دجنگ رشتونی مواقعوته - چه گواهی ئی
ورکوله په خوش گمانی زما

والإقواء اختلاف المجری بکسر وضم کقوله

لاباس بالقوم من طول ومن کانهم قصر** جسم البغال واحلام العصافیر
کأنهم قصب جـــوف اسافـــلــــه ** مثقب نفخت فیه الاعـــاصیر

ترجمه اوشرح: دریم قسم عیبونونه إقواء اوداعبارت دی داختلاف دمجری یعنی دحرکت دروی نه په کسری اوضمی سره معنی داچه په یوبیتِ کی په حرف روی باندی کسره وی اوبل کی په روی ضمه راشی

وجته دتسمئی : - اقواء خلو اوتغیر ته ویلی شی دلته هم روی خالی شی دحرکة دماسبق نه(دمنهوری)

تطبیق دمثال : - په اول بیت کی فیر قافیه ده اوراء روی دی اومجری کسره ده اوپه دوهم بیت کی صیر قافیه ده راء روی دی اومجری ضمه ده

فائده: شعرحسان رضی الله عنه دی دبحر طویل څخه -

ترجمه: نشته عیب ددی قوم په لوړوالی تیټ والی کی »

«یعنی تنی ئی برابری دی خوددوی بد نونه دقجروغوندی اوعقلونه دچر چنړودی »

« گویاکه دونچی اودورمی دی چه لاندی ډډی وی »

« اوچه سوری وی هواگانی پکی الوزی »

والاصراف اختلاف المجری بفتح وغیره

ترجمه اوشرح : - څلورم دعیوبونه اصداف دی داعبارت داختلاف مجری نه په فتح سره یعنی دفتحی نه ضمی ته لادړشی یادفتحی نه کسری ته

تنبیه : - په اقواء کی تغیر وی حرکة قریبه ته اوپه اصراف کښی تغیر وی حرکة بعیده ته ددی وجی دواړه (بیل بیل ، جدا جدا - عیبونه معتبرشوی دی

فائدة په اصراف کی څلور صورتونه دی ۱ تغیر من الفتحه الی الضمه ۲ من الفتحه الی الکسرة ۳ من الضمة الی الفتحه ۴ من الکسرة الی الفتحه - مصنف رحمه الله ددوو ۲ أولوصورتونو دپاره مثالونه ذکرکړی دی - لکه وائی

فمع الضم كقوله

أريتك ان منعت كلام يحيٰ ** أتمنعني علي يحيٰ البكاءَ

ففى طرفى على يحيٰى سهادُ ** وفى قلبي على يحيى البلاءُ

ترجمه اوشرح : - نواختلاف دمجری چه سره دضمی راشی یعنی اول فتحه بیاضمه شی لکه په دی قول مذکور دشاعر کی شو

تطبیق دمثال : - په اول بیت دبکاء څخه کاءَ قافیه ده همزه روی دی اومجری فتحه ده اوپه دوهم بیت کی دبلاءُ څخه لاءُ قافیه همزه روی اومجری ضمه ده -

فائده - شعرمذکوردبحر وافرڅخه دی اوترجمه ئی داده .

((خبررا کړه که ته منع کړی دیحیی سره خبری څما - نوآیامنع به کړه ژړا څما په یحی))

«نوخماپه سترگوکی بی خوبی ده یحی په وجه - اوماپه زړه کی مصیبت دی ددی په وجه»

والفتح مع الكسر كقوله

الم ترني رددت على ابن ليلى ** منيحته فعجلت الأداء

وقــلـت لشا ته لما أتــتــنـا ** رماكِ الله من شاةٍ بداء

ترجمه اوشرح :-اواختلاف دمجری ی په فتح کی سره دکسری نه یيعنی دفتح ځخه کسری ته تغیر وکړی لکه په دی قول دشاعر کی چه ذکردی.

تطبیع دمثال :- داول بیت کی راءَ قافیه ده همزه روی اومنجری فتح ده اوپه دوهم بیت کی داءِ قافیه ده همزه روی اومجری کسری ده.

فائده:- داشعرهم دبحروافر ځخه دی،

فائدة دشرح جامی په دی اشعاروکی سلام علی الخ - که په دال داحمد باند کسره رانه شی نواصراف مذکوه به لازم شی چه عیب دی فتدبر.

ترجمه :-«آیاتاونه لیده چه ماواپس کړه ابن لیلی دهغه عطیه اوپه عجلت می اداکړه»

«اوما اویل دده ګړی ته چه کله راغله مونږ ته چه الله دی تاپه مرض أخته کړی»

والأكفاء اختلاف الروی بحروف متقاربه المخارج كقوله

بنات وطاءٍ على خداليل ** لايشتكين عملا مأانقين

ترجمه اوشرح:پنځم قسم دعیبوقافیی ځخه اکفاءده اوداعبارت دی داختلاف دروی نه په داسی حروفوچه سره نزدی وی په مخرج کی.

وجه دتسمي : داماخوذدی دکفأت الاناءَ اذاقلبته ځکه دلت هم شاعر قلب دروی کړی دی

تطبيق دمثال : په اول بيت کی ليل قافيه ده اولام ثانی روی دی اوپه دوهم کی قين قافيه دی اونون روی دی نواختلاف په روی کی راغلو البتة لام اونون دوړه قريب المخرج دی

فائد مهمه : - داشعر مذکوردبحر سريع ځکه دی اومشطوردی نوهر مصراع بيت دی اوقا فيه لری فتدبر.

ترجمه : ((بچی دهغه اسونودی چه پاکمال کونکی ولارودی دشپی))
((شکايت نه کوی دکوم عمل نه چه روی مشکل وګوری)) (دوی ځربی نه دی)

الاجازة اختلافه بحروف متباعدة المخارج كقوله

الاهل تر ان لم تكن ام مالك ** بملك يدى ان الكفاءَ قليل
رأىمن خليليه جفاءً وغليظةً ** اذاقام يبتاع القلوص ذميمُ

شرح : - شپږم دعيوبونه اجازه ده داعبارة دی داختلاف دروی نه په داسی حروفو سره چه مخرج سره لری وی

وجه دتسمي : لتجاوز حرف الروی عن موضعه

تطبق مثال : په اول بيت کی دقليل دلفظ ځکه ليل قافيه ده لام ثانی روی دی

اوپه دوهم کی دذميم لفظ ځکه ميم قافيه ده اوميم ثانی روی دی، اودواړه متباعد المخرج دی

فائده : - دواړه بيتونونه دبحر طويل ځکه دی اومنځ ځه ابيات متروک دی ځکه سره غيرمتنا سب المعنی دی .

ترجمه : «ایاته گوری که چرته آم مالك زماسره نه دی - چه کفاءة اوهمسری ډیره کمه ده»

« وینی دخپل دوستانو څخه ظلم اوسختی -کله چه پاڅیدو اخلی خوانه اوبنه نو داواقعی بددی»

والسناد اختلاف مايراعي قبل الروی من الحروف والحركات

وهو خمسته

اووم دعیبونونه سناد دی اوداعبارت داختلاف دهغه څه نه چه مراعات اولحاظ ئی کیدی شی دروی نه مخکی چه حروف اوحرکات دی اوداسناد په پنځه قسمه دی

شرح : - یعنی دروی نه مخکی چه کومو حروفو یاحرکاتو مراعات ضروری وی په هغی کی اختلاف راشی

وجه دتسمی : - په سناد اوتساندکی تفرق اواختلاف معنی ده چه دلته هم موجود دی

سنادالردف وهو ردف احد البيتين دون الآخر كقوله

اذا كنتَ فی حاجةٍ مرسلاً ** فارسل حكيمًا ولاتوصه

وان باب أمرٍعليك التوى ** فشاورلبيبًا ولاتــعصـــه

ترجمه اوشرح : اول قسم دسناد سناد الردف دی اوداعبارة دی دردف دیوبیتینو غیر دبل نه یعنی په یوبیت کی قافیه مردوفه کړی اوبل کی غیر مردوفه

تنبیه : - وجه دتسمی ظاهره ده په اقسامو خمسوکی - فتدبر.

تطبیق دمثال : - په اول بئت کی توصه قافیه ده صادی روی اوردف نشته ځکه ردف حرف مدة وی کمامر . فائد ه شعردحسان ﷺ دی بحر متقارب ځخه

ترجمه: ((کله څوك لیږی حاجة پسی نوحکیم سړی لیږ اووصیت ورته مه کوه))

اوکه دروازه دیوکاردرباندې بنده شی نوعقل مندسره مشوره وکړه اونافرمانی تری مه کوه)

وسناد التاسیس تاسیس احدهمادون الآخر کقوله

یادارمیة اسلمی ثم اسلمی ** فخندف هامة هذا لعالم

شرح : - دوهم قسم سناد استاسیس دی اوداعبارة ددی ځخه چه یودبیتونو تاسیس ولری اوبل ئی ونه لری. تطبیق دمثال : - په اول بیت کی دثم اسلمی ځخه مَسلِمی قافیه ده میم آخری روی دی اوتاسیس نه لری - اوپه دوهم بیت کی عالم قافیه میم روی اوالف تاسیس دی

فائد ه مهمه : - داشعر دمشطوبحررجزځخه دی نوهرمصراع بیت دی اوقافیه لری- فتدبر.

ترجمه ((أی دمیة محبوبی کوره سلامت اوسی اوبیاسلامت اوسی))
((شري فه ځخه سراوکوپړی ددی عالم ده))

وسنادالأشباع اختلاف حركة الدخیل کقوله

وهم طردوامنهاه بلیا فاصبحت ** یبلیُ بوادٍ من تهامةَ غائر

وهم منعوها من قضاعة کلها ** ومن مضر الحمراء عندالتغاور

شرح : - دريم قسم سناد الاشباع دى اوداعبارة دى داختلاف دحركة ددخيل نه لكه په دى قول دشاعر كى تطبق دمثال په اول بيت كى غائر قافيه ده راء روى دى او الف تاسيس دى اوهمزه دخيل دى اواشباع يعنى حركة ددخيل كسرده اوپه دوهم بيت كى غاوُر قافيه راءروى اوواو دخيل

فائده : - شعردنابغه دى دبحر طويل څخه .

ترجمه « اوهغوى وشړله بلى قبئله دهغه خاى نووكرخيده بلى قبله دتهام لاندى وادى ته »

« اودوى دغه خاى دتول قضاعه نه منع كړو اودلوټ په وخت ئى دمضر الحمراء نه منع كړى »

وسناد الحذو أختلاف حركة ماقبل الردف كقوله

لقد ألج الخباء على جوارٍ ** كأن عيونهن عيون عين

كأني بين خافيتي عقاب ** تريد حمامةً في يوم غَين

شرح : - څلورم قسم سناد الحذودى اوداعبارة دى داختلاف دهغه حركت نه چه دردف څخه مخكى وى لكه په دى قول دشاعر كى تطبيق دمثال : - په اول بيت كى عين قافيه ده نون روى اوياء ردف دى اومخكى حركت ورنه كسره ده په دوهم بيت كى غين قافيه ده نون روى ياء ردف اومخكى ورنه فتحه ده

فائده : - داشعر دبحر وافر څخه دى اوترجمه ئى داده :

« يقينا زه داخل شوم خيموته په داسى جينكو پسى گوياكه دهغوى سترگى دځنگلى غواگانو دى »

«گويا كه زه دشاهين ددووزروترمنځ يم چه ښكاركوي كونتره دوريځې په ورځ باندې»

وسنادالتوجيه اختلاف حركة ماقبل الروى المقيد كقوله

وقاتم الاعماق خاوى المخترق * الف شتى ليس بالراعى الحمق *

شذابة عنها شذ الربع السحق

ترجمه: پنځم قسم سنادالتوجيه دى اوداعبارة دى داختلاف دهغه حركت څخه چه دروى مقيد اوساكن څخه مخكې وى . لكه په دې ابياتوكي مُخْتَرَقْ .

تطبيق دمثال: - په اول بيت مخترق قافيه ده قاف روى دى مقيد اومخكې حركت چه توجيه ورته ويلې شى فتحه ده په دوهم بيت كې عيى ألحَمِق قافيه ده قاف روى مقيد اوتوجيه كسره ده په دريم بيت كې دالربع السحق څخه ع السحُق قافيه ده قاف روى مقيد اوتوجيه ضمه ده

فائده: - ضروريه - داشعر د بحر رجزمشطور څخه دى نوهرشطربيت دى اوقافيه لرى .

توجمه: ددى بيتونو داده:

اول بيت: اوډير دوړجنو اطرافو والا چه لارى ئى خالى وى .

دوهم بيت: هغه راجمع كړل خواره واره حيوانات اوهغه كم عقل شپون نه دى

دريم بيت لرى كړو دهغى حيوانا تونه تكليف دلرى خايونو

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى آلِ إِبْرَاهِيْمَ إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْد.

ختم شوه شرح دمتن الكافى
دالله عزوجل په امداد سره

(مؤلف)

بنده عاجز سيد فضل الحق (باچاه صاحب) دامت بركاتهم العالية

